


**ما مذهب ولې پرېښود؟**

**سریزه:**

د کتاب ژباړلو لومړنۍ تجربه مې ده، ښايي له تيروتنو خالي نه وي، خو همدا تيروتنې دي چې وروسته بيا د برياليتوبونو رنګونه راوړي.

هسې خو مې ډير کتابونه د ډيرو ښو او لويو لويو ليکوالانو لوستلي دي چې د مذهب په باره کې هر چا خپل نظرونه او کيسې پکې ليکلي دي. ډيرې ليکنې مې هم ژباړلي دي خو دا ځل مې پريکړه وکړه چې د لوستل شويو کتابونو له ډلې کوم يو کتاب پښتو ته وژباړم. او بيا له دې وروسته به کوښښ وکړم چې نور ښه ښه او ښکلي کتابونه راوژباړم. د دې لپاره چې مونږ په پښتو کې د پښتنو لادينانو لپاره خو ليکنې لرو چې په مختلفو ګروپونو، پاڼو او ائډې ګانو کې اوس هم پرتې دي، خو داسې کوم خاص کتاب نلرو چې يو ځوک وکولائ شي په انلاين او اسانه توګه يې پيدا او ولولي. نو ما هم پيل د اردو ژبې له کتاب "میں نے مذہب کیوں چھوڑا" څخه وکړ. چې ايزي کشميري په ۲۰۱۲ کال کې ليکلئ ده. په نيټ کې د پښتو ژبې نه علاوه د لادينانو لپاره د کتابونو کمي نشته خو دا کتاب مې ځکه لومړئ انتخاب کړ چې د ليکوال (ایزی کشمیري) د ژوند کيسه چې څنګه يې مذهبونو ته شاه کړې ده او زما (سليمان فکري) د ژوند په کيسه کې ډير توپير نشته چې ما څنګه او ولې مذهب پريښود؟ او څومره چې زه معلومات لرم د زياترو لادينانو کيسو سره ډير ورته والئ لري.

د دې کتاب ژباړل به د پښتنو لادينانو لپاره يو ډير د وياړ ګام وي. ځکه چې د لادينانو لپاره مونږ داسې کوم ځانګړي کتابونه نلرو. د دې کتاب ژباړل که څه هم اسانه نه دي شايد هغسې چې ليکوال خپله کيسه بيانوي ونه ژباړم او شايد ډيرې غلطۍ ولري خو د ملګرو په مرسته به کوښښ وکړم چې په ساده او اسانو الفاظو کې يې وژباړم.

د کتاب د لیکوال تعلق د پاکستاني کشمیر څخه ده او خپله کیسه په ډیرو ساده الفاظو کې له خپل ماشومتوبه پیلوي، ده خپله کیسه پخپل فیسبوک کې په ۱۸ برخو کې له ملګرو سره شریکه کړې وه چې بیا وروسته یې د PDF په بڼه هم شریکه کړه چې د ډیرو خلکو د پام وړ وګرځیدله او لاتراوسه په مختلفو پاڼو او ګروپونو کې یې خلک له یو او بل سره شریکوي. لیکوال په یوه مذهبي کورنۍ کې نړۍ ته سترګې پرانیستې دي. هغه خپله کیسه بیانوي چې څنګه تعلیمات ورکول کیږي او بیا د ده په ذهن کې کله او څنګه پوښتنې راولاړیږي؟ او د دې پوښتنو ځوابونه هغه پیدا کوي که نه؟ او که پیدا کوي یې ایا هغه دومره منطقي او قوي دي چې د ده ذهن یې ومني او که نه؟ دا او نورې پوښتنې او د هغوئ ځوابونه به په کتاب کې ولولئ، چې له وخت سره سم به زه لګ لګ ژباړم او ستاسو درانه حضور ته به یې په همدې پاڼه کې وړاندې کوم.

په درناوی: سلیمان فکري

**لومړۍ برخه:**

کوم ملګري چې دا لیکنه لوستل پیلوي، له هغو هیله کووم چې دا دې په خلاص زړه او خلاصو مغزو لوستلو کوښښ وکړي. که د دې لیکنې د لوستلو په وخت کې له زړه تعصبات او یو اړخیز قضاوت وباسي نو ستاسو د پوهاوي لپاره به ډیره ښه شي. د دې هر څه لیکلو نه زما مقصد د کوم دین او مذهب توهین کول هیڅکله نه دي خو زما یقین ده چې زه د مسلمان پیدا کیدو نه وروسته د اسلام پریښودلو په پریکړې کولو سره له خپل ځان نه پرته د ډیرو خلکو لپاره به د اعتراض وړ ووم. زه دوئ ته یوازې دومره ویل غوښتل غواړمه چې ماته زما د قتل اخطارونو په راکولو سره تاسې له خپل خدائ سره مخالفت کوئ ځکه چې همدا ستاسو خدائ وعده ایښې ده چې هر چاته به د هغه د عملونو سزا او جزا ورکول کیږي، خو دلته نه .... د حساب او کتاب په ورځ.

له همیش نه دا زما عادت ده چې د خپل ژوند په تجربو کې نور خلک هم شریک کړم خو په نن سبا ژوند کې د دې فرصت ساعتونه پیدا کول څومره ستونزمن دي دا تاسو ټولو ته ښه معلومه ده. نن ما دا پریکړه کړې ده چې په فیسبوک کې د یادښت په شکل کې د دې کتاب لیکل پیل کړم چې د لیکلو خواهش مې د څو کلونو راهیسې ځنډمن کیږي.

زما له نوم نه خو به تاسو ته اندازه لګیدلي وي چې زه له کشمیر سره تعلق لرم، زه د پاکستان د کشمیر په یو وړوکي ښار کې پیدا شوم .زما مور او پلار خو څه داسې سخت مذهبیان نه وو خو له مذهبه بې خبره او لرې هم نه وو. نو د نورو ماشومانو په شان یې زما هم د قران او عربي زده کړې بندوبست وکړ. ما په اته کلنۍ کې قران شریف ختم کړ خو له مذهب سره مې کومه داسې خاص مینه او دلچسپي پیدا نشوه. د مذهب، خدائ او کائینات په اړه پوښتنې د هر ماشوم په شانتې زما په ذهن کې هم راتللې، خو تر دیارلس کلنۍ پورې ما په هغو باندې کوم غور ونکړ. په داسې فکر کولو به یریدم چې که لمونځ نه کووم، دوه څلور روژې ونیسم نو خدائ به خامخا له ما څخه خفه شي. خو د ځوانی په نورو مصروفیتونو کې دغه اندیښنې به مې ډیرې په زړه کې نه پاتې کیدلې.

په ځوانی کې مې یو وارې د روژې په میاشت کې په منظمه توګه له تراویحو کولو سره مخه شوه. د روژې میاشت خپل اخري پړاؤ ته رسیدلې وه. د سختې ګرمۍ موسم وو، او مونږ د تراویحو کولو لپاره د یو وړوکې شانتې جماعت انتخاب کړئ وو. د دې جماعت په انتخابولو کې چې کومه مهمه خبره وه هغه دا چې دلته د قران د پوره سیپارې ویلو پرځائ له سورتونو کار اخیستل کیده، چې په ساعت نیم ساعت کې به لمونځ هر څه ختم شول. د جماعت ملا امام ډیر یو پرهیزګاره، متقي او نیک سړی وو چې زما په زړه کې ورته ډیر قدر او عزت وو. یوه ورځ د تراویحو په وخت کې زه په لومړي صف کې له ملا شاته ولاړ ووم، او زما ملګري زما ښي او چپ طرف ته ولاړ وو. په شپاړسم او اولسم رکات کې له ملا صیب نه باد ووت. زما ملګري په څنګل ووهلم او په ورو یې غوږ کې راته وویل چې "اودس یې مات شو". ما هم بل لورې ته ولاړ دوست په څنګل ووهه او همدغه خبره مې ورته ورسوله.

د تراویحو په ختمیدو سره مونږ له جماعت نه د باندې راووتلو. نو له ملګرو چې په عمر کې له مانه یو څه مشران وو معلومه مې کړه چې ملا صیب ته پکار وو چې د اودس له ماتیدو وروسته د بیا ځلې لپاره اودس تازه کول ضروري وو چې هغه تازه نکړ. نو همداسې شاید زمونږ د ټولو لمونځ به ناقبول پاتې شوئ وي. زه د دې خبرې ډیر خفه کړم ځکه چې زما په نظر هغه ملا یو ډیر نیک او د خدائ نژدې بنده وو.

زه يې ډېر په تشويش کې واچولم. شپه ورځ به مې همدا فکرونه کول چې که ملا صيب چې په کسبې توګه د جماعت امام ده او زمونږ له ټولو نه ډېر زيات د اسلام په مبارک دين په احکاماتو هم پوهيږي، نو د هغه په زړه کې له خدايه ډار او ويره ولې نشته؟ او هغه د خدائ له حکم سره سم اودس ولې تازه نکړ؟ .... څو ورځې په دې باندې فکر کولو نه وروسته مې يوه ورځ ناڅاپي په زړه کې يو خيال پيدا شو چې زما د ژوند اړخ يې بدل کړ. ما فکر وکړ چې که د ملا صيب چې شپه او ورځ له خدائ سره په صحبت کې هم وي له خدايا يې ډار نه کيږي، نو د دې خو يقيناً همدا مطلب کيدلئ شي چې هغه پخپله په ريښتيا هم په خدائ يقين نلري، وروسته له هغې ورځې جماعت ته تلل خو مې بند کړل او دا پريکړه مې وکړه چې هغه ملا صيب په الماريئ کې اېښودل شوې په سلګونو اسلامي کتابونه چې هغه يې لولي او زده کړي دي هغه به زه هم لولم او زده کووم به يې، ځکه چې زه هم د ملا صيب دغه زړورتوب ته ورسيږم.

د کومې زماني خبره چې کووم په ياد ولرئ هغه وخت انټرنيټ خو څه د پاکستان په شانتې هيواد کې چا د کمپيوټر نوم هم نه وو اوريدلئ نو په داسې حالاتو کې د پاکستان په شان هيواد کې د مذهب په حقيقت پوهيدلو کوښښ کول خو مشکل وو، او ورسره يو ډېر خطرناک کار هم وو. دا د ضياء الحق لعنتي زمانه وه، چا چې د خلکو سياسي فعاليتونو د محدود ساتلو په خاطر قوم پرستې او دا شانتې نورو تعصبونو خپرولو ته ښه لمن وهله . او د مذهب په هر اړخ کومه پوښتنه کول د مرګ پيغام بلل کيده. ما د خپل سفر اغاز د "شبلي نعماني" ليکل شوې سيرت النبي نه وکړ. دا کتاب چې د اسلام د پيغمبر يو مينوال ليکلئ ده، او څرګنديږي ترې چې د پيغمبر له تعريفونو ښه ډک کتاب ده. په دې کې هم ماته ډېرې داسې واقعې د لوستلو لپاره پيدا شوې په کوم کې چې زما په ذهن کې اوچتيدونکو پوښتنو ته يې نوره هوا هم ورکړله. د مثال په توګه د زينت بنت حجش واقعه، د عايشې واقعه، جويريه بن مطلق واقعه، جنګ بدر او داسې نور ....

زما د څېړنو بله مرحله د حديثونو کتابونه وو او ترټولو لومړئ کتاب چې زما لاس ته راغئ او ومې لوسته هغه "صحيح مسلم" وو. په هغه کې د موجودو حديثونو په لوستلو سره خو باور وکړئ له ما يې وار پار خطا کړ. او داسې داسې حديثونه مې ولوستل چې که هغه هر عاقل کس ولولي نو د دې فکر کولو نه بغير به پاتې نشي چې ايا په ريښتيا هم دا ټولې خبرې د هغه پيغمبر باره کې دي، د کوم په باره کې چې دعوه کيږي چې خدائ هغه د دواړو جهانونو لپاره رحمت راليږلئ ده .

کله چې زه نولس کلنى ته ورسيدم نو زما ذهن په پوره او پخه توګه دا ومنله چې د اسلام مذهب له يوې افسانې نه بغير هيڅ هم نه ده. په همدغه عمر کې زه برطانيه ته راغلم، چې بيا دلته د راتلو نه وروسته مې د عيسويت، يهوديت او نورو مذهبونو په اړه لوستل هم پيل کړل. او زما دې نتيجې ته په رسيدلو کې ډېر وخت ونه ووت چې د انسان فطري خرافاتو، پوچې عقيدې او له مرګ نه ډار همدا مذهب زيږولئ ده. او دا چې په نړئ کې هيڅ مذهب داسې نشته چې د حق لاره وي.

د دې سفر په لړ کې ما څه وليدل څه واوريدل، په څه ډول مې له مذهبي ملايانو نه د لارښوني څېړنه وکړه، له کتابونو زده کړه، د خپلو عريضې خواهشاتو له لاسه په مجبوريدا سره مې په صوفي ايزم کې د پنا اخيستلو کوښښ وکړ .... دا او نور ډېر څه د دې کتاب په نورو برخو کې د يادولو اراده لرم. اميد لرم چې مکمل به يې کړم او که ونشوه لومړئ ډبره خو مې کيښوده ..... خپل نظرونه مو که هغه مخالف وي او که موافق ضرور راته څرګند کړئ.

(دا ليکنه يوازې يو تصادفي نوټ ده)

**دوهمه برخه:**

د هر ماشوم په شانتې زما ذهن هم له قسم قسم پوښتنو نه ډک وو. خلک چې مړه شي چيرته ځي؟ اسمان څه شئ ده؟ سپوږمی، ستوري، لمر دا ټول څه دي؟ که الله دومره مهربانه او رحم کونکئ ده نو بيا دا خلک ولې ناروغان کيږي؟ خلک ولې غريب دي؟ واړه واړه ماشومان ولې مري؟

کله چې زه لس يا يولس کلن شوم نو زمونږ په مکتب کې يو کارکونکئ چپراسي وو، چې زما همځولئ وو، يوه ورځ ناڅاپي چيرته ورک شو. څو ورځې وروسته د هغه جسد په يوې بوجۍ کې بند په نږدې ويالې کې وموندل شو. زما يو همصنفي چې د مکتب له يو ګروپ سره د چکر لپاره تللئ وو د مکتب بس نه په لاندې کيدو سره مړ شو . د دوئ دواړو مرګ زه ډېر سخت خفه کړمه او زما پوښتنې همداسې پسې زياتې شوې. خو د دې پوښتنو ځوابونه به ماته چا نشو راکولئ. چا به ويل چې خدائ ته چې څوک ګرانيږي هغه د خپل ځان لورې ته ژر غواړي، چا به ويل چې د مور او پلار د ګناهونو سزا ماشومانو

ته د مرګ په شکل کې ورکول کیږي. او زه به په دې فکر کولو باندې مجبوریدلم چې که خدائ ته دغه خلک دومره ګران دي او خوښیږي یې نو هغه دغه خلک دې نړۍ ته ولې رالیږل، خو هغلته به یې له خپل ځان سره ساتلي وو کنه؟ که د مور او پلار د ګناهونو سزا د هغو ماشومانو ته ورکول کیږي، نو ولې خدائ د هغه مور او پلار ته مخامخ سزا نشي ورکولئ، د ماشومانو څه قصور ده؟

زمونږ کور ته به دوه درې واړه واړه ماشومان او د هغوئ مور په اونۍ کې یو دوه وارې راتلل. د هغوئ مور به جامې او لوښې مینځل او ماشومانو به د صفایي کار کوو، زما مور به هغې ته د تګ په وخت کې څو روپۍ او د تیرې شپې پاتې شوې ډوډۍ ورکوله او بیا به بلې اونۍ کې بیا راتلل. زما تعلق له کوم داسې امیر خاندان څخه نه وو، خو بیا هم له ډیرو ښه وو. خو کله به چې ما هغه ماشومان لیدل چې زما همځولي وو خو مکتب ته نشول تللئ او په ډیرې خواشینۍ سره به یې هغه د لوبو سامانونو ته کتل له کومو سره به چې ما لوبې کولې. د څه لګ پاتې شوې ډوډۍ او څو روپیو لپاره دغه ماشومان او د هغوئ مور دومره خواري ولې کوي؟ له هغوئ سره زما په شان د لوبو سامانونه ولې نشته ....؟ دا او داسې نورې پوښتنې چې زما په ذهن کې به یې بد حال جوړ کړئ وو، خو د دې ځواب ماته تر هغه وخته پیدا نشو تر کومه چې زه د دې قابل شوئ نه ووم چې پخپله په تحقیق کولو سره دې زه د هغې نتیجې ته د رسیدلو کوښښ وکړم .

زما مورجاني به اکثره وختونه څه په کړو وړو ځوابونو راکولو زما د مطمین کولو کوښښ کوو، خو په کوم ماحول کې چې هغه رالویه شوې وه، په هغې کې د پوښتنې کولو رواج نه وو. نو د هغې زیاتره ځوابونه خو یا هسې خیټالوجي وه، او یا به له هغو قراني کیسو څخه وو چې هغې له مشرانو اوریدلې وې (خو ماته بیا وروسته معلومه شوه چې دا قراني کیسې خو په اصل کې د یهودیت او عیسویت نه نقل شوې کیسې دي. (

د نړۍ د اغاز په اړه هغې ماته د ادم او حوا کیسه واوروله، خو په دې یې پوئ نه کړم چې خدائ ادم دې نړۍ ته ولې رالیږلئ وو، که څه هم هغه خو ادم او حوا ته یو ښایسته باغ جوړ کړئ وو. که ادم او حوا ته د هغوئ د خطا سزا ورکول کیدله، چې په هغې باندې یې دوئ دې نړۍ ته راولیږل نو بیا دا نړۍ یې په اصل کې د څه لپاره جوړه کړې وه؟ که دا نړۍ یې د پیغمبر اسلام حضرت محمد ص لپاره تخلیق کړې وه نو که ادم او حوا تیروتنه نه وائ کړې نو بیا به څه وو؟ که د ادم او حوا کیسه مخکې له مخکې د جوړې شوې دسیسې برخه وه نو بیا دا د هغوئ غلطي نه بلکه د خدائ پلان بلل کیږي .

د ادم او د حوا د اولادونو خپل منځې ودونه هم زما لپاره یوه غټه پوښتنه وه. که له خپلو خویندو او لورګانو سره نکاح ناجایزه ده نو د ادم د بچیانو پخپل مینځ کې واده څنګه جایز کیدلئ شي او ایا خدائ ته دا ممکنه نه وه چې هغه له یوې نه ډیرې جوړې پیدا کړې وائ او د هغوئ اولادونو پخپل مینځ کې په واده کولو سره انساني نسل مخ پر وړاندې بیولې وائ.

زما د مورجاني راکړل شوي ساده ځوابونو کله هم زه مطمین نه کړم، خو د ادب تقاضا دا وه چې زه له هغې سره بحث ونکړم. کله چې دغه پوښتنې بیا ما له نورو خلکو نه شروع کړې نو ماته وویل شول چې دغه پوښتنې ستا نه بلکه شیطان لعنتي یې ستا په زړه کې اچوي ترڅو له الله لرې اوسم او دوزخي شم. پخپله دغه پوښتنه چې شیطان څوک ده او هغه خدائ په ذاتي توګه په پیژندلو سره او د خدائ په قوت د پوهیدلو باوجود هم هغه له خدائ سره د اختلاف جرآت په کوم بنیاد وکړ .......ما همیشه ځوروي.

**دریمه برخه:**

ویل کیږي چې شیطان د خدائ یوه ډیره پوهه فرښته وه چې هغې په زرګونو کلونو د خدائ عبادت کړئ وو او خدائ ته ډیره نږدې فرښته وه .کله چې خدائ ادم جوړ کړ نو ټولو فرښتو ته یې وویل چې ادم ته سجده وکړي .ټولو فرښتو سجده وکړه خو شیطان د خپل غرور په وجه له داسې کولو نه انکار وکړ.

هسې په دې کیسه کې خو د فکر کولو لپاره ډیرې خبرې دي لکه دا چې که شیطان له الله سره ډیر نږدیوالئ درلود نو ایا شیطان ته دا اندازه نه وه چې د دې له انکار کولو نه به څه نتیجه رامینځته کیږي؟ او که هغه ته معلومه وه نو بیا یې دا لار ولې غوره کړه؟ ایا د هغه دا خیال وو چې له الله سره په جنګ کولو به له ده سره کوم بل خدائ یوځائې شي؟ له الله سره دا فرمان هم منسوبیږي چې د الله شرک نه خوښیږي او بل دا چې که له الله نه پرته بل چاته سجده کول جایز وائ نو ښځې ته به

يې حکم کړئ وو چې خپل خاوند ته دې سجده وکړي. که دا خبره ريښتيوني ده نو بيا الله په کوم بنياد باندې فرښتو ته حکم وکړ چې ادم ته دې سجده وکړي؟

ايا د يوې ورځې لپاره الله نه د غير الله ته سجده کولو باندې بنديز لرې کړل شوئ وو؟ که دا کيسه سمه نه ده نو بيا اصل کيسه څه ده؟ هيڅ چا راته ونه ويل .... خو ماته پوښتنې په کولو کولو سره دومره معلومه شوه چې پوښتنه کول ښه عادت نه ده، الله پاک پوښتنه کونکی نه خوښوي او دا هدايت ورکوي چې که هره کومه خبره چې تاسو د شک په لورې يوسي هغه پرېږدئ. ماته تراوسه پورې کوم داسې عالم دين پيدا نشو چې ما په دې وپوهوي چې په دې کې کوم حکمت ده که مذهب د خدائ لخوا رالېږل شوئ هدايت ده نو بيا هغه ته له پوښتنو کولو ولې خطره ده؟ او که خدائ ماته تسلي بخش ځواب نشي راکولئ نو بيا زه له کوم انسان نه د راهنمايي څه توقع لرلئ شم؟

يو عالم دين ماته د مسلمانانو د لومړي خليفه ابوبکر صديق دا فرمان هم واؤروو چې له ضرورت نه ډير علم سړی د کفر په لورې بيايي. د دې ټولو پوښتنو د ځوابونو په نه لرلو او د دې دومره شکونو باوجود په ماشومتوب کې دا زما د زړه خواهش وو چې زما مذهب دې واقعي ريښتيونی مذهب وي. ما د دې خواهش پوره کولو لپاره ډيرې هلې ځلې وکړې، چې په راتلونکو برخو کې به يې يادونه وکړم، خو اوس بيرته خبره له هماغه ځايه پيلووم کوم ځائ کې مې چې پريښې وه.


ادم ته د شيطان د سجدې جواز او بيا له سجدې نه انکار خو نه کله زما سر پرې خلاص شو او نه هم له چاسره د دې کوم مطمين کونکئ ځواب موجود وو. بيا يوه پوښتنه دا هم پيدا کيږي چې که الله د ادم له پوښتې نه حوا د دې لپاره پيدا کړه چې ادم د تنهايي او بيزارې احساس کوو نو بيا د ادم جنسي غړي يې د کوم کار لپاره پيدا کړي وو؟ دا خبره هم پرېږدئ ...لومړی د دې پوښتنې ځواب ولټوې چې خدائ ادم اخر ولې جوړ کړئ وو؟ ايا دنيا ته د رالېږلو لپاره؟

که دنيا ته د رالېږلو لپاره يې جوړ کړئ وو نو بيا د حوا په تيرايستنه کې د ادم ممنوع ونې ميوه خوړل وغيره خو يوازې يوه بهانه کيدلئ شي، ځکه چې خدائ پاک ادم له جنت ويستلو نه مخکې نيت درلود. ځينې خلک به وائي چې داسې نه وو او يوازې د ادم د غلطی په وجه داسې وشول. له دې نه هم بيا نوې نوې پوښتنې راپيدا کيږي (د مثال په ډول ايا خدائ ته معلومه وه که نه؟ چې ادم به داسې غلطي کوي؟) دا بل لورې ته کيږدئ نو بيا بله پوښتنه پيدا کيږي چې که ادم يې د هغه د غلطی په وجه له جنت نه په ويستلو سره يې دې نړی ته راولېږه، نو بيا د اسلام دا بيان کړل شوئ داستان هم ريښتيونئ کيدلئ شي چې محمد د الله محبوب ده او الله ټول کائينات د هغه په خاطر جوړ کړئ وو. که الله په شپږمې پيړی کې محمد عربو ته د رالېږلو پلان له مخکې تيار کړئ وو نو بيا د ادم د غلطي والا کيسه يوه دسيسه ثابتيږي او که ادم يې په واقعي توګه د خپلې غلطی په بنياد له جنت راوويست (او که هغه غلطي نه کولئ نو د تل لپاره به يې په جنت کې مزې کولې) نو بيا د محمد لپاره د کائينات جوړولو کيسه دروغ کيږي. په دې کې ريښتيا کومه يوه ده تراوسه ماته چا ونه ويل او کله چې ما ډير اصرار وکړ نو ماته هماغه وويل شول چې هره کومه خبره چې تا په شک کې اچوي هغه نه تيريږه.

راځئ دا معمولي جزئيات په نظر انداز کولو سره وړاندې لاړ شو. که د ورور خور واده دومره ناجايز او کرکجن عمل ده نو د نړی پيل خدائ ولې په همدې کار سره شروع کړ؟ که خدائ دوه ادمان او دوه حواګانې جوړې کړې وائ نو دا مسله به نه جوړيدله خو په داسې نه کولو کې د الله کوم راز او حکمت پټ وو؟ د دې ځواب به تاسې ته هيڅوک درنکړي او که تاسو ضد وکړئ نو لومړی خو به تاسو ته د چپ کيدلو هدايت کيږي او که نه تاسو ونه منئ! نو بيا به تاسو ته دا در ياد کړي چې د کافر کيدو سزا مرګ ده.

راځئ نور وړاندې لاړ شو ..... داسې ويل کيږي چې ادم دې نړی ته رالېږدول شوئ لومړنی پيغمبر هم ده. يو خوا خو مونږ ته وويل شول چې له ادم نه وړاندې بل انسان تخليق شوئ نه وو. او بل لورې ته ويل کيږي چې ادم پيغمبر وو، که هغه پيغمبر وو نو چاته يې پيغام راوړئ وو؟ خپلو بچيانو ته؟ راځئ ومو منله! خو يوه بله خبره مې ياديږي ..... ياد مو دي قابيل خپل ورور هابيل وواژه، نو بيا الله يو کارغه ځمکې ته رالېږلئ وو چې هغه د يو بل کارغه په وژلو سره هغه په ځمکه کې خښ کړئ وو او همداسې قابيل ته يې ور زده کړي وو چې جسد په ځمکه کې خښيږي. که ادم پيغمبر وو نو هغه ته خو دومره معلومات بايد وي چې که څوک مړ شي نو څه کول پکار دي خو نه دا هم ونشوه .... د قتل سزا د الله په قانون کې سر قلم کول دي، نو ايا د قابيل سر قلم شو؟ ماته خو د دې يادونه هيڅ چيرته پيدا نشوه نو ايا الله دا سزاګانې د راتلونکې لپاره ساتلې وې؟

راځئ ادم او حوا هیروو ... نړۍ بدله شوه، د انسانانو نفوس ډیر شوئ ده، په داسې وخت کې موسی پیغمبر په جوړیدلو سره تشریف راوړي. ویل کیږي چې هغه به کوه طور ته د الله سره د خبرو کولو لپاره تلو. کوه طور ته ولې تلو؟ ایا له هغه ځائ نه اسمان نږدې وو؟ هیڅ ځواب نشته. د موسی یو نوم کلیم الله یعني له الله سره کلام کونکئ هم وو ...... ایا چا کله فکر کړئ ده چې حضرت محمد چې د پیغمبرانو سردار ده او د چا په خاطر چې دا کائینات تخلیق شوئ ده. ولې الله له هغه سره مخامخ خبرې نه کولې؟ ایا موسی له محمد نه الله ته غوره وو؟ که وو نو د سردار الانبیاء تاج چیرته لاړ؟ او که محمد واقعي د پیغمبرانو سردار وو نو له هغه سره د خبرو کولو لپاره الله په دویم کس یعنې جبرایل باندې ولې تکیه وکړه؟ د شیطاني ایتونو کیسه به تاسو اوریدلې وي، که مو نه وي اؤریدلې راته ووایئ زه به یې درته واؤروم. خو که الله محمد ته هم د کلیم الله ویاړ وربښلئ وائ نو داسې سنګینې غلطیانې خو به نه پیښیدلې، چې شیطان دې د جبرایل په بڼې په بدلولو سره راشي او محمد ته دې شیطاني ایاتونه د الله کلام په معرفي کولو سره ولیکي؟ فکر وکړئ....




**ځلورمه برخه:**

د دې داستان د مخکینی برخې له نشرولو وروسته چې کومې تبصرې مې ولیدلې او کوم پیغامونه چې رالیږل شوي وو هغه ډیر خوندور نه وو. که څه هم ما د دې داستان شروع کولو نه وړاندې هم دا درته ویلي وو چې د دې لیکنې مقصد خو نه د چا د مذهب توهین کول دي او نه هم زه د خدائ د تصور او په رسالت کوم ریشخند وهم. دا د خلکو حق ده چې کومه عقیده وغواړي هغه دې ومني. زه دا حق نلرم چې یو څوک دې مجبور کړم چې خپله عقیده دې پریږدي خو ورسره څوک دا حق هم نلري چې ما دې مجبور کړي ترڅو ګډوډ او په څو ډوله احمقانه عقاید ومنم.

نن چې زه د کومې تجربې یادونه کووم هغه د دریم یا څلورم صنف د ماشوم په شانتې د اسلامیاتو درس ویل دي. زمونږ د اسلامیات کتاب پر پښتۍ لیکل شوي دي:

"دا کتاب د فقه جعفریه د زده کونکو لپاره نه ده"

د دې پوښتنې په ځواب پسې زه هیڅکله ونه ګرځیدم ځکه چې هغه وخت زه اووه یا اته کلن ماشوم ووم او زما فرښتو ته شاید لا معلومه نه وه چې فقه جعفریه څه وي؟ خو ځینې داسې درسونه وو پکې چې هغه به زما په ذهن کې ډیر ژور لګیدل. ماته

خو دا یاد نه دي چې د کومې غزا/جنګ خبره کیدله خو په یو درس کې د دوو ماشومو وروڼو کیسه یادیدله چې نومونه یې معوذ او معاذ ښودل شوي وو. په درس کې یې لیکلي وو چې دواړه وروڼه په جنګ کې د برخې اخیستلو لپاره داسې بې صبره وو چې هغوئ د شاملیدلو په وخت کې د خپلو عمرونو په اړه دروغ وویلې او د مسلمانانو په لښکر کې شامل شول. په دوئ کې د یو ورور لاس د جنګ په وخت کې کټ شو خو له بدن څخه یې جدا شوئ نه وو. هغه ماشوم په ځوړند لاس باندې یوه پښه کینودله او په زور ورکولو سره یې له بدن نه جدا کړ ځکه چې د هغه د لاس له وجې هغه ته په جنګیدلو کې ستونزې جوړیدلې. د دې دوه وروڼو کیسې زما په زړه ډیر عجیبه اثر وکړ. ماته په ښه توګه یاد دي چې زما په زړه کې یوه ارزو غوندې پیدا شوه چې کاش زه هم د پیغمبر په زمانه کې پیدا شوئ ووم او په هغه مې ځان قربانولو سره ځان د جنت حقدار کړی وائ. دا کیسه چې په کوم انداز سره بیان کړل شوې وه وایم که هغه وخت زما وس رسیدلې وو نو د کوم کافر په پیدا کولو سره به مې د خپل پیغمبر په مینه کې وژلئ وو. ..... اوس کله چې د هغه وخت په اړه فکر کووم نو حیرانیږم چې په دومره ماشومتوب کې ماته د داسې کیسو په اورولو سره د هغوئ مقصد څه وو؟ کله چې خپل شاؤخوا غوړیدلې لکه د جهالت مجسمې په شانتې جوړ شوي پاکستاني ځوانان ګورمه، نو لګ لګ پوهیږم چې دا د څه وجه ده؟ دغه ځوانان چې خبره ورسره نه کیږي، خو د خور مور کنځلې او د قتل اخطارونه یې د ژبې پر سر سریښ شوي وي.

اوس چې کله د ځانمرګو ماشومانو کومه کیسه اورم نو بیا هم راته هماغه وخت یادیږي. که هغه وخت زما په ژوند کې کوم داسې کردار راغلئ وائ چې پوهیدلئ چې زه د پیغمبر اسلام خوشالتیا څنګه ترلاسه کولائ شم او څنګه سمدستي د جنت حقدار جوړیدلئ شم، نو کومه غټه خبره نه وه ما به هم د هغې زمانې د حالاتو په مطابق کوم احمقانه کار کړئ وو. د ماشوموالي د همدې یادونو نتیجه ده کله چې دا اورم چې څنګه واړه واړه ماشومان څنګه په غولولو سره ځانمرګي برید کولو ته تیاریږي، نو هیڅ راته تعجب نه کیږي. دا شانتې داستانونه او د دې داستانونو د اورولو انداز شاید ځوانان هم همداسې مجاهد جوړولو ته اماده کړي، د ماشومانو خو هیڅ حیثیت نشته خیر.... وړاندې ځو. په همدې زمانه کې یې مونږ ته د غزوه بدر حال هم وویلې.

ماته ښه یاد دي راته ویل شوي وو چې زر کسه کافران په مسلمانانو د برید کولو لپاره مدینې ته رازي، او له مسلمانانو سره یوازې درې سوه دیارلس ځوانان وو. خو همدې درې سوه دیارلس ځوانانو د کفارو بیخ وویسته، او جنګ د اسلام په بریا پائ ته رسیدلی وو. ماته یاد دي زه د دې کیسې په اوریدلو سره ډیر خوشاله شوئ ووم چې څنګه د ایمان جذبه په هرقسم خنډونو برلاسی کیږي. د معوذ او معاذ جذبه په اوریدلو سره ماته دا یقین هم شوئ وو چې که کفار د زرو پرځائ لس زره هم وائ بیا یې هم هیڅکله له مسلمانانو سره مقابله نشوه کولئ.

خو په بدقسمتی سره کله چې ما د اسلام د تاریخ تفصیلي مطالعه شروع کړه نو راته څرګنده شوه چې د بدر کیسه خو څه بله وه .... زما یقین ده چې په نړی کې به اوس هم په لکونو مسلمانان داسې وي چاته به چې د مسلمانانو د جنګونو حقیقت معلوم نه وي او چاته چې وي په هغو کې به هم زما په شان په زرګونو نه په لکونو به داسې خامخا وي چې له خپل ځان نه په دروغ ویلو سره په څه نه څه ډول به خپل ضمیر ته ځانونه پاک ښیي .... چې دا ټول د اسلام د قوي کولو لپاره ضروري دي ځکه چې اسلام د الله دین ده او د الله د دین سرلوړي په هر مسلمان اولنئ فرض ده ....


دلته خو د دې ګنجایش نشته چې زه دې د بدر ټوله کیسه بیان کړم. کومو ملګرو ته چې ضرورت وي هغوئ د اسلام د تاریخي کتابونو نه استفاده کولئ شي، خو زه یې په لنډو ټکو کې دلته بیانوم او له دې نه به تاسو ته اندازه ولګیږي چې په داسې قسم د جنګونو په کیسو ویلو ماته د یو مسلمان په حیثیت سره ولې شرمندګي محسوس شوه.

د مکې د قریش قبیلې خلک به اکثره د مال تجارت په وړلو سره شام ته تلل. پخپله پیغمبر اسلام حضرت محمد هم د داسې قسم قافلو برخه وو، او له خپل تره سره یې شام ته سفرونه کړي دي. له مکې نه شام ته سفر کونکې قافلې به د بدر په نوم یوې سیمې باندې تیریدلې. چې له مدینې نه په اویا کیلو متری کې پرته سیمه ده. د بدر له جنګ نه وړاندې مسلمانانو خبر ترلاسه کړ چې د مکې د خلکو یوه قافله شام ته په تلو روانه ده، او پیغمبر اسلام پریکړه وکړه چې مسلمانان دې په دې قافلې برید کولو سره د هغوئ مال سامان دې ضبط کړي. او همداسې د مسلمانانو یوه قافله له مدینې نه د جنوب په لوري روانه شوه.

په نقشه کې له مکې نه د شام لاره، او د جنګ علاقه په توري دایرې کې ښکاره شوې ده، او د بدر په سیمې کې‌ې چیرته چې د قریش قافله د ارام کولو لپاره راتلله، مسلمانان هلته پټ شول. د قریش د قافلې خلک د اوبو لپاره نژدې څاه ته تلل، خو

مسلمانانو هغه ځاه پخپله قبضه کې اخیستې وه، او څوک به چې هم له ځاه نه د اوبو راوړلو لپاره تلل هغوئ به یې یو یو همغلته واژه. په پائ کې داسې وشول چې په قافلې یې په برید کولو سره په سلګونو مشرکین قتل کړل او د هغوئ مال او سامان یې وتښتوو، چې بیا پیغمبر اسلام او د هغه نږدې ملګرو پخپل مینځ کې سره وویشلو.

په دې کې یې څومره مال وتښتوو او څوک څوک یې پرغمل کړل د دې د تفصیل لپاره تاسې اسلامي کتابونه لیدلئ شئ، دلته د هغوئ لپاره ځائ نشته ...... ما چې کله له علماؤ نه په دې باره کې وضاحت وغوښته نو زیاترو په هر څه پوهیدنې سره هم دا دعوه وکړه چې له مکې نه قریش په مسلمانانو د برید کولو لپاره مدینې ته راتلل او اخر کې چې کله یو عالم دا ومنله چې دا جنګ د کفارو له قافلې نه د مال او سامان اخیستلو په خاطر شوئ وو، نو هغه یې بیا جوټونه څه داسې وکړه چې (د هغې زمانې رواج همداسې وو) زما خیال خو دا وو چې اسلام د زمانه جاهلیت د رسمونو د بدلولو لپاره راغلئ وو خو نه .... دې وضاحت زه ډیر پریشانه کړم او زما یقین ده چې دا لوټ مار او چور و چپاؤ عمل د هیڅ حس لرونکې لپاره د فخر کولو باعث نشي کیدلئ. کم نه کم زه د داسې قسم واقعاتو هیڅ وضاحت نشم قبلولئ. کومه خبره چې غلطه وې هغه چې هر څوک وکړې غلطه ده. زه ډیر افسوس کووم چې ما د خپل ژوند ډیره برخه د داسې قسم تاریخي کردارونو په مینه کې تیره کړه......!




**پنځمه برخه:**

زما کیسه به تاسو ته ډیره بې مربوطه ښکارېږي. زه څه داسې کسبې لیکوال نه یم. د دې لپاره دا هم ممکنه ده چې زما خبرې به بعضې وختونه بې معنا درته معلومیږي خو زه د دې احساس باوجود هم د دې لپاره همداسې پسې لیکم چې ماته په دې نړئ کې د ژوند کولو لپاره موقع ترلاسه شوې ده.

ما یو مذهب له ډیر نژدې نه لیدلئ ده او دې مذهب زما په ژوند باندې ښه یا بد ډیر ژور اثرات غورزولي دي. نو په داسې وخت کې زه اوس دې نتیجې ته رسیدلی یم چې د دنیا ټول مذهبونه د دروغو پنډې دي او دغو مذهبونو په میلیونونو او د

اربونو انسانانو ژوندونونه برباد کړي دي. نو د دې لپاره په ما لازمه ده چې زه د خپل د زړه خبره په زړه کې ساتلو سره مړ نشم بلکه هغه باید له نورو سره هم شریکه کړم. بې مربوطه او بې معنی انداز کې دا زما لیکل شوې لیکنه شاید د یو چا په درد وخوري او سوچ کونکي، غور کونکي او تحقیق کونکي ځینې خلک له دې نه دومره راهنمایي حاصله کړي چې د خبرې بیخ ته د رسیدو لپاره کوم کوم کتابونه لوستل کافي دي وغیره .......

خو په هر حال اوس لګ نور هم وړاندې ځو په تیره برخه کې ما د غزوه بدر یادونه کړې وه.

وروړ امجد حسین مې له خپل کوم مسلمان صاحب علم دوست نه په دې اړه د هغه نظر غوښتی وو نو د هغه دوست وویل چې مسلمانانو په مکه کې خپل جایدادونه پریښي وو نو د دې لپاره د قریشو په قافلې برید کولو سره د هغوئ د مال او سامان نیول د مسلمانانو پوره حق وو. هغه دوست چې هرڅوک ده، خو د هغه ورکړل شوئ دلیل خو ماته ډیر کمزوری ښکاري.

مونږ ټول پوهیږو چې مسلمانانو د باقاعده طرحې په جوړولو سره یثرب ته هجرت کړئ وو. له مکې نه یې دوئ بې برخې کړي نه وو بلکه د محمد په اساس کې خو د اسلام تاریخ مونږ ته دا هم وایي چې هغوئ په مکه کې خپل ټول لین دین ختم کړئ وو او د کومو خلکو امانتونه چې له دوئ سره پاتې وو هغه یې د خپل د تره ځوئ علي په لاس ټولو ته بیرته سپارلي وو. داسې وخت کې دا ویل چې مسلمانان له خپلو جایدادونو نه محروم شوي وو سمه نه ده. او که وي هم نو بیا د چور و چپاؤ د جواز په دلیل رسولو وجه زما په شانتې د عام کس سره نشته چې د خدائ پیغمبر به داسې وکړي.

زه نن یو څو خبرې د پیغمبر اسلام د کورنۍ اړوند کول غواړمه، لکه څنګه چې ټول پوهیږي چې د محمد والد صیب د هغه له پیدایښت څخه وړاندې وفات شوئ وو. بیا یې والده هم د هغه په ماشومتوب کې وفات شوه. نو بیا د هغه پاملرنه او ساتنه له دې وروسته د هغه نیکه عبدالمطلب او بیا یې تره ابو طالب وکړه. د نیکه مړینه یې هم د محمد په ماشومتوب کې وشوه. خو ابو طالب تر ۶۱۹ مسیحي یعني د مسلمانانو د مدینې هجرت کولو نه درې کاله مخکې پورې ژوندئ وو. مونږ ته په مکتب کې یوه کیسه ویل شوې وه. د کومې له مخې چې کله د مکې خلکو د محمد شکایت ابو طالب ته وکړ. نو په ځواب کې حضرت محمد خپل تره ته وویل چې دا خلک که زما په یو لاس باندې لمر او په بل لاس باندې سپوږمۍ کیږدي، نو بیا به هم زه خپله دنده ترک نکړم. په دې باندې ابو طالب د مکې خلک ملامت وبلل او دوئ یې د محمد له تنګولو څخه منع کړل.

د حضرت محمد یو بل تره ابو لهب هم وو. چې د هغه په باره کې ویل کیږي چې د محمد د پیدایښت خبره هغه ته چې کومې مینځې (غلامه ښځه) ارسه ثویبه رسولې وه. ابو لهب په خوشالیدا سره هغه ازاده کړې وه. د ورا ره په پیدایښت باندې د یو تره د خوشالۍ تصور کول مشکله نه ده. د ابو لهب مینځې ازادول یقیناً د داسې خوشالۍ ځائ دې خو د ابو لهب کیسه هم عجیبه ده.

کله چې پیغمبر اسلام له کوه صفا نه د خپل مذهب اعلان وکړ نو په مخالفت کونکو کې ترټولو لومړنی نوم پخپله د هغه همدغه تره ابو لهب وو؟ ولې؟ ایا هغه خپل وراره نه پیژندلو؟ که یې پیژندلو نو د هغه په خبره یې یقین ولې ونکړ؟ د کورنۍ شخړو یا که د پنجابي متل په مطابق که د (شریکي) والا معامله وائ نو د پیغمبر په پیدایښت باندې د مینځې د ازادولو واقعه به هیڅکله نه پیښیدله. ابو لهب یوه بله عجیب او غریب ځانګړتیا هم لرله. خو د هغې بیانولو نه وړاندې یوه وړه شانتې یادونه ضروري ده.

قران د مسلمانانو د دعوې په مطابق د هدایت یو کتاب ده. که زه د دې قابل وائ چې رنګا رنګ حیوانات او انسانان تخلیق کړم او بیا د شته نړۍ د هدایت لپاره مې یو کتاب رالیږلئ نو ما به په هغه کې د ژوند اصول بیانولئ. دا به مې ویلي چې کوم کوم کارونه کول په کار دي، او کوم نه دي کول په کار. دا به مې بیانول چې ما دنیا ولې جوړه کړه او په دنیا کې مې انسانان لوئ واړه ولې جوړ کړل. د ظالمانو لاس مې ولې ازاد کړئ ده او خپل خواږه بندګان مې ولې له محرومۍ او غربت سره مخ کړي دي. ما دا د دې لپاره کول چې زما بندګان په ګمراهۍ کې لاړ نشي. ما دا د دې لپاره کول چې زه له کومو انسانانو سره چې له اویا میندو ډیره مینه کوم هغوئ ته دا هم ووایم چې هغوئ دومره بې بسه ولې دي، چې خپلو ماشومانو ته د دوو وختونو ډوډۍ نشي رسولی. دوئ ته دا هم ووایم چې څه وجه ده چې په ډیرو صورتونو کې دروغ په ریښتیاوو برلاسي کیږي .... دا لیست ډیر اوږد ده د خبرو لنډولو کوښښ کوم.

ما به په دي کتاب کي هيڅکله دا نه ويل چي هغه فلانکی کس چي زما پيغام يي تاسو ته راوړئ ده. د هغه فلانکی نيکه يو ډير سپک سړی ده او دا به مي نه ويل چي:


(دا د قران الفاظ دي)

۱- د ابي لهب لاسونه مات شول او دی خپله هم هلاک شو؛
۲- د هغه شتمني او څه چي يي ګټلي ول، هغه ته په درد ونه خوړل؛
۳- هرو مرو به هغه په تاوجن بڅري لرونکي اور کښي ننوځي؛
۴- او (له هغه سره به) د هغه ښځه هم، د خسو د پنډونو راوړونکي؛
۵- د هغي په غاړه کښي غټه کلکه رسی ده.

ولي؟ د ابو لهب په نوم د قران پوره سورت ولي؟ په دي کي کوم داسي هدايت پروت ده او هدايت هم چي د شته دنيا تر پايه ده؟ ايا الله د قران په نورو ځايونو کي د محمد د نبوت نه انکار کونکو لپاره د اور او دوزخ خبري وانه ورولي؟ بيا په ابو لهب باندي ښکنځنه يا بد وينه ولي؟ هغه هم په يو داسي کتاب کي چي په هغه کي د پوهيدونکو لپاره د هدايت سامان ده؟

راځئ دومره راته ووايئ چي د ابو لهب لاسونه مات شول؟ ايا په قران کي خدائ د دي ارزو اظهار کوي چي د ابو لهب لاسونه دي مات شي؟ يا که له کوم بل چا نه دعا غواړي؟ ايا خدائ له ابو لهب نه ناخبره وو چي د هغه مخلوق ده او د ده د محبوب دښمن ده؟

ابو لهب هم هير کړئ .....يوازي دومره خو راته ووايئ چي د پيغمبر اسلام خوړ تره ابو طالب چا چي د يو پلار په شانتي په شفقت او محبت سره د خپل وراره پرورش کړئ وو هغه ولي اسلام قبول نکړ؟ خبره د فکر کولو ده او که نه؟؟؟



**شپږمه برخه:**

شاید دې وخت کې به زه اولس یا اتلس کلن ووم. زه په ریل کې د څو ملګرو سره کراچۍ ته روان ووم. په دې عمر کې هلکانو ته چې په سفر کې له هر څه ډیر هډیر اړتیا وي هغه کومه ځوانه انجلۍ وي، چې د هغې په لیدلو د سرې سترګې یخیږي او د سفر د اوږدوالي احساس هم کم شي. خو په بدقسمتۍ سره په دغه ورځ کې خو زمونږ په ډبې کې انجلی څه چې کومه بوډۍ ښځه هم نه وه. داسې وخت کې ساعت تیریدل ډیر ګران ښکاریدل. له ملتان سره نژدې په یو تمځاۍ کې ریل د څه مودې لپاره ودریدو نو د څو ږیرورو یوه ډله زمونږ ډبې ته رادننه شوه. ټولو څه عجیبه شانتې سامانونه له ځانونو سره راخیستي وو. زما په یاد دي هر یو کس سره یوه بنده بستره او یوه لوټه هتمن وه. ما په ټول ژوند کې له دې وړاندې داسې خلک کله نه وو لیدلي نو بس په حیرانۍ سره مې دوئ ته کتل. تر دغه وخته مې له داسې مسلمانانو سره د لیدلو اتفاق نه وو شوئ، د چا چې پرتګونو له ښنګرو پورته تړل شوي وو. دا مې له تبلیغیانو سره لومړنۍ تعارف وو.

زه د مذهب په اړه دغه وخت په شک کې ووم، په کوم کې چې له خدایا ډاریدم هم او د خدائ په وجود باندې شکي هم ووم. د شپې به مې مخکې له ویده کیدلو کلیمه هم ویله او په جینکو کې مې هم ټینګه دلچسپي لرله.خیر لنډه دا چې اوږد سفر او د ریل تنګې ډبې ډیر ژر زما له هغو سره تعارف وکړ . له ماسره چې کوم درې کسان ناست وو، په هغو کې یو جراح وو، هغه یو کوم بل قسم ډاکټر او یو د سائینس پروفیسر وو. خبرې روانې روانې د دوئ مقصد ته ورسیدلې یعنې تبلیغ اسلام ته. ما له دې وړاندې کله هم د تبلیغي جماعت نوم نه وو اوریدلئ. نو د دوئ خبرې مې ډیرې په غور او خوند سره اوریدلې. معلومه شوه چې دا خلک اکثره خپل کور په پریښودلو سره د الله د دین خدمت او د الله د خوشالتیا په خاطر د دین تبلیغ کولو ته ځي. د هغوئ خبرو، اخلاقو او سپارښتنې زه ډیر متاثره کړم. ماته دا اندازه وشوه چې ښه اخلاق د دوئ د دندې تقاضا ده. خو کوم څه چې زه ترټولو ډیر حیرانه کړم، هغه دا حقیقت وو چې دوئ ټولو له ما ډیرې زده کړې کړې وې او له ما ډیر تجربه کار هم وو. درې واړو د سائینس درسونه هم ویلي وو د هغه باوجود هم دوئ له مذهب سره ډیره مینه درلودله. ما د خپل محدود علم باوجود هم له هغوئ نه پوښتنې کول شروع کړې چې هغه وخت کې نورې هم محدودې وې.

ټوله شپه له دوئ سره د خبرو کولو نه وروسته ماته له دوئ سره اتفاق خو ونشو ، خو د یوې خبرې احساس راته وشو چې دغه خلک له علمونو سره د اشنایي باوجود هم له نوې نړئ سره نه یوازې دا چې تعلق نلري. بلکه په هیڅ وجه دوئ مذهب له نوې زمانې سره د جوړښت لپاره تیار نه دي. هغوئ زما په پتلون هم څو خبرې وکړې. او په دې یې هم زما د پوهولو کوښښ وکړ چې زما ویښته د دین اسلام له تقاضا سره نه جوړیږي او زما لمونځ کول خو زما او د خدائ ترمینځ معامله نه بلکه شاید د دوئ ذاتي ټیکداري ده.

هغه وخت کې زما ذهني وړتیا دومره نه وه چې د دوئ د رویو تجزیه مې اخیستي وائ او نه هم زما په ژوند کې کوم داسې لوئ یا مشر وو چې په دې اړه یې زما رهنمایي کړې وائ . خو څو کلونو وروسته کله چې په ما کې د دنیا ته له خپلې نګاه نه د لیدلو اعتماد رابیداره شو. نو ماته اندازه وشوه چې دغه خلک په ظاهري توګه لیک لوست نه باوجود هم په ډیرو معاملو کې ړانده دي. ماته دا هم څرګنده شوه چې د مذهبي ذهن خلکو ته که د دوئ د مذهب څیره صفا صفا هم وروښودل شي نو بیا به هم دوئ، هغه خو به یا ونه مني، او یا به د هغه په شانتې کومه احمقانه غوندې تشریح په پیدا کولو سره درته راوړي.

له مذهبي خلکو سره زما تجربو ماته دا را زده کړې دي چې دا شانتې عقیدې لرونکي خلک هیڅ څه شي ته هم په مثبت نظر لیدلو نه محرومه دي. د دوئ مثال داسې وي لکه یو څوک په یو ګړي (د اوبو غټ ګړی) کې دننه ناست د همدې ګړي صفتونه شمیري، خو هغه په ټول ژوند کې هم له دې ګړي نه بیرون قدم نه وي ایښی. داسې کس ته دا اندازه هیڅکله نشي کیدلئ چې په کوم ګړي کې چې هغه ناست ده هغه له بیرون نه څنګه ښکاري. کیدئ شي له ګړي نه بیرون ګندونه پراته وي، چې د ټولو لیدونکو لپاره ښکاره ښکاري، خو په ګړي کې دغه ناست کس هغه هیڅکله ونه ګوري. او کله چې بیرون ولاړ خلک ده ته ووایي چې ستا ګړی په ګندونو ککړ ده، نو هغه ته به د ګندګیو بدبویي محسوسولو باوجود هم ځانته دروغ وایي چې نه داسې نه ده. دا بدبویي هسې زما وهم ده، خامخا زما د بدبویي کولو صلاحیت که څه ستونزه ده وغیره وغیره ....

کله چې زه دوه ویشت درویشت کلن ووم نو زما له یو پروفیسر سره ملاقات وشو چې د فلسفې پروفیسر وو او ډیر لیک لوستی وو. ما له لیدلو سره سم له هغه نه لومړۍ دا پوښتنه وکړه چې ایا د خدائ وجود شته؟ هغه زما پوښتنې پورې وخندل او راته یې وویل چې د خدائ وجود یا عدم وجود د دې نړۍ لپاره غټه ستونزه نه ده. د خدائ د وجود کیسې هغه وخت پیلیږي کله چې انسان له خپل ژوند څخه مطمین نه وي. کوم خلک چې له خپل ژوند څخه مطمین وي د هغو لپاره دا پوښتنه

بلکل غیر ضروري ده. هغه وخت زما لپاره شاید د ژوند ترټولو غټه پوښتنه هم همدا وه. همدې وجې نه زه د هغه له ځواب څخه متاثره نه شوم خو بیا په وروسته ژوند کې راته احساس وشو چې هغه بلکل سم ویل. تاسو ته به زیاتره مذهبي خلک داسې وایي چې انسان چې کله په مشکل کې وي نو بیا خدائ ورته یادیږي. د خدائ پیدایښت په اصل کې د انسان په ژوند کې د پیښیدونکو مشکلاتو په نتیجه کې رامینځته شوئ ده. تاسو ټول پوهیږئ چې کله انسانانو په غارونو کې ژوند کوو نو لمر، باران، سمندر طوفان، خطرناکه حیوانات او همداسې نور شیان یې خپل خدایان ګڼل .کله چې انسان د دوئ ماتول زده کړل نو دا بیا د خدایي له درجې څخه ولویدل.

لکه څنګه چې زه په یوې مسلماني کورنۍ کې زیږیدلئ یم همدې وجې نه زما د خبرو دایره هم تر اسلام محدوده ده، خو د دې هیڅکله دا مطلب نه ده چې یوازې اسلام د دروغو مذهب ده. ما زده کړي دي چې د نړۍ ټول مذهبونه د یخ په یوې سانچې کې جوړ شوي دي. د دوئ په مرکز کې کوم داسې قوت شته چې د انسانانو ژوند له کامیابۍ یا بربادۍ سره مخ کولئ شي. دا طاقت د هر مذهب پیرونکي په یو ډار کې راوستلو سره هغوئ پخپلې خوښې چلولو ته مجبورووي. دا طاقت دوئ ته کله د دوزخ ډار وریادوي او کله د قبر عذابونه. دا طاقت د انسان د خالق کیدنې دعوې کوي، خو د دومره لوئ طاقت دعوې کونې باوجود هم کومې معمولي شانتې معجزه ښودلو نه هم مجبوره ده. د انساني تاریخ په زرګونو کلونو کې مونږ ته یوه هم کومه داسې پیښه نه تر سترګو کیږي چیرته چې خدائ په ریښتیوني توګه د یوې نیکۍ د قوت ثبوت راکړئ وي. که کومه طیاره ولویږي او په دوه درې سوه نفرو کې چیرته یو نیم بچ شي، نو بیا مذهبیان خلک سمدستي هغې ته د معجزې نوم ورکوي. خو څوک به داسې ونه وایي چې د یو کس بچ کیدل خو اتفاق هم کیدلئ شي. که خدائ معجزې ښودل غواړي نو د افریقا په قحط کې د مړه کیدونکو انسانانو ته په ډوډۍ کې ولې څه نه ورکوي؟ تاسو ته به په انساني تاریخ کې خو داسې افسانې پیدا شي، چې عیسی به د خدائ په مرستې سره مړي راژوندي کول. خو تر نن ورځې پورې کومه داسې پیښه نه تر سترګو کیږي چې خدائ دې د چا مات شوي لاسونه بیرته را شنه کړي وي ...!

کوم خدائ چې انسانانو ته په دې دنیا کې د ژوندي پاتې کیدلو لپاره ډوډۍ او اوبه نشي برابرولئ، نو هغه په جنت کې د شیدو او شاتو د نهرونو وعدې په کومې خلې کوي؟ او هغه هم په هغه حالت کې چې خلک شپه او ورځ هغه ته غوړه مالي وکړي او د هغه د ایجنټانو په (چې نن سبا د ملایانو او پادریانو په شکل کې دي او پخوانئ زمانو کې به د پیغمبرانو او رسولانو په شکلونو کې راتلل) مخ کې یې وکړي. له پیغمبرانو سره مې په یاد شول. په قران کې لکه مسلمانان یې چې خدائ اخري کتاب ګڼي او مونږ ته وایي چې دا یو داسې کتاب ده چې د شته نړۍ لپاره او د ټول نسل انساني لپاره هدایت او راهنمایي ده. دا کتاب له شک نه خالي ده او د دې هر یو لفظ ریښتیونئ او د خدائ ویل شوئ لفظ ده.

په دغه کتاب کې مونږ ته د درځنونو پیغمبرانو یادونې پیدا کیږي . د رسولانو کیسې هم پکې شته . خو څومره عجیبه اتفاق ده چې په قران او نورو اسلامي روایاتو کې چې د کومو پیغمبرانو او رسولانو ذکر راغلئ ده. هغه له سره ټول په منځني ختیځ کې پیدا شوي دي. که د الله بادشاهي د نړۍ په ګوټ ګوټ کې ده. که د خدائ پیغام د ټولو انسانانو لپاره ده. نو بیا څه وجه ده چې هیڅ کوم پیغمبر له منځني ختیځ نه بیرون نه ده پیدا شوئ؟ د دې په ځواب کې ډیر مسلمانان ملګري دا دعوه کوي چې د قران له مخې الله پیغمبر او رسول د نړئ په هر قوم کې رالیږلي دي خو تر نن ورځې پورې ماته چا د داسې کوم پیغمبر نوم وانخیستو چې هغه د چین، امریکا، استرالیا، انګلستان، هند، جاپان یا د نړۍ کوم بل کونج کې زیږیدلئ وي. ایا په دنیا کې یوازې عرب قوم داسې قوم وو کومو ته چې د هدایت او راهنمایي ضرورت وو؟ او که نه نور پیغمبران هم د نړۍ په نورو برخو کې راغلي وو نو څه وجه ده چې په قران کې یوازې د منځني ختیځ والاوو یادونه شوې ده، د نورو نه؟ د ښځې پیغمبر کیدل خو خیر ناممکنه وه خو کوم د چین، جاپان پیغمبر هم شته چیرته؟

لګ فکر وکړئ! ایا تاسې کله د کوم حضرت ذنګ سونګ، حضرت جان میکډانلډ ، حضرت چارلس سمت، حضرت ایین مکارتر ، حضرت پیډروګو نزالیز، حضرت سن زوکائ فو، حضرت صوبو تومګابي، حضرت مرلي لعل کرشنن، حضرت اناطولي کریچوف ، حضرت جاوید اقبال نوم اوریدلئ ده؟؟؟




**اوومه برخه:**

په تیره برخه کې مونږ دا خبره کوله چې لوستي او پوه خلک هم مذهب مني. ماته مې د ژوند تجربې همدا ښودلي دي چې کومه خبره چې په کوچنیتوب کې ستاسو په ذهن کې کینول شي هغه له ذهن نه ویستل که څه هم ناممکنه نه ده خو ډیره ګرانه خامخا ده.

په تاسو کې د ډیرو تعلق له پاکستان یا هند سره ده، همدې وجې نه به یقیناً تاسو له دې خبرې سره اشنا یاست چې زمونږ په ټولنه کې که ستاسو لاس په څه ډول سره ستاسو له اورمیږ سره ولګیږي نو بیا خپل لاس ته پوکۍ ورکوو. ولې داسې دي؟ دا خو ماته پته نشته خو دا جاهلانه رسم یقیناً له څو نسلونو راهیسې په دې خلکو کې رواج ده. ما د مذهبي رسمونو او رواجونو پرې ډیر پخوا شکولي دي خو که نن هم زما لاس چیرې زما له اورمیږ سره ولګیږي نو ترڅو چې زه لاس ته پوکۍ ورنکړم نو زه تر هغې نه ارامیږم. څو ځلې مې خپل پام بل لورې ته د اړولو کوښښ کړئ ده خو نه کیږي، بیرته په تنګیدا سره اخر لاس ته پوکۍ ورکوم چې دې بې ضرورته پوکي څخه به راته کوم مشکل پیښ شي. داسې د دې لپاره زه کووم چې که یې ونکړم نو کیدۍ شي ماته هیڅ خوب رانشي یا زما ذهن ټوله ورځ په همدې تشویش کې پاتې نشي.

لګ غور وکړئ دا څومره معمولي خبره ده خو زه له ټول لیک لوست سره سره د ژوند د تجربو باوجود هم تر نن ورځې پورې د داسې عادت غلام یم. د مذهب زده کولو او زده کړې ماهیت هم څه همداسې ده. زمونږ په ذهنونو کې له ماشومتوبه ځینې خبرې کینول کیږي او مونږ یې په نه غوښتلو سره هم د ټول عمر لپاره د هغو غلامان جوړ کړي یو. که زما په ورمیږه د لاس لګیدنې باندې په لاس پوکي کولو عادت پرځائ مې لیکلي وائ چې ماته د لمونځ کولو نه بغیر سکون نه راځي نو زما مذهبي ملګرو به سمدستي ویل چې "ودې لیده د خدائ قدرت". خو زما خوش قسمتي ده چې له دې بچګانه خرافاتي مذهب سره مې اوس هیڅ اړیکه نشته .

داسي قسم خيالات او خبرې چي له وړکتوب نه له مونږ سره راروانې وي، ځيني وختونه په عجيبه شکلونو کي راڅرګنديږي. زما يو ملګری ده چي تاسو ورته زما ښونکۍ هم ويلئ شئ .هغه يو شناخته کس ده او په څو حيثيتونو کي يي زرګونه بلکه لکونه خلک هغه پيژني، د همدې له وجي زه د هغه نوم نشم اخيستلئ. هغه يو ځلي ماته د خپل ماشومتوب يوه کيسه اورولې وه چي د هغه د خلې خبرې درته اوروم بيا بيرته راګرځو.

پام مو وي دا کټ مټ د هماغه دوست د خلې الفاظ دي څنګه چي هغه کيسه کړې وه:

زمونږ په کلي کي زما يو همزولئ اوسيده چي د هغه نوم لومړنی برخه (زين) ده .پوره نوم يي نه درته وايم. د زين پلار د ښار يو وتلی ديني عالم وو او د هغه تعلق له اهل حديث فرقي سره وو. هغه وخت به زما عمر شپاړس اوولس کاله وو. د زين د کور ماحول ډير سخت وو او ټولو خويندو وررونو يي د يو روبوټ په شانتې ژوند تيروو چي د خپل پلار د ښو په اشارو به يي کار کوو. ټولو ماشومانو ته خامخا د پنځه وخته لمونځ ادا کول، مونږ په دې وخت کي سيګريټ څکول شروع کړي وو. زين به هم له مونږ سره سيګريټ وهل. خو کور ته د بيرته تګ نه وړاندې به يي لس شل دقيقې ژاولې ژولې او په خلې وينځونکي به يي خپله خله وينځله چي د سيګريټو په بوئ يي څوک پوئ نشي. لنډه دا چي ټول ماشومان د اسلامي احکاماتو په عين مطابق سره د خپل پلار د غلامانو په شانتې اوسيدل.

زما تعلق نسبتاً له هغه نه له پرمختللي کورنی څخه وو د کومې له وجي چي زما تګ راتګ له هر چاسره ازاد وو. زما دغه وخت کي يوه ګرل فرينډ هم جوړه شوې وه. خو د زين په کور کي د سختې پردې کولو رواج وو او که د هغوئ د خويندو ملګري به د ليدلو لپاره راتللې نو هغوئ به يي د کور د ښځينه وو تر برخې محدودې ساتلې. په زين کي يو عادت وو چي هغه به خپلې ډيرې وړې وړې خبرې هم له ماسره شريکولې. زه په ذهني توګه د هغه په نسبت څه ډير رسيدلی ووم. خو کله کله به مي هغه ملامتوو او کله به مي کومه ښه شانتې مشوره هم ورکوله .يوه ورځ زين په خبرو خبرو کي راته وويل چي د هغه د خور ملګرې کور ته راغلې وه، او زه په کور کي يوازې ووم خو کله چي هغه تشناب ته لاړله نو ما د تشناب په دروازه کي له وړوکې شانتې درز نه هغه بربنډه وليدله. نو ما هغه ته ډير بد رد وويل او يوه مي کړ چي که ګير راغلې وې نو څومره بيعزتې به دې شوې وه وغيره وغيره ... خير څو ورځې وروسته زين له ماسره يو بل دردناکه راز شريک کړ. د هغه خبرې به له هميش نه په يو انداز سره پيليدلې، هغه ويل: يار زه په کور کي تنها ووم يا په کوټه کي تنها ووم او شيطان په ما برلاسی شو .... په کور کي يو طوطي وو ما هغه له قفس نه په ويستلو له هغه سره د بد کار کولو کوښښ وکړ او هغه مړ شو، او ما غلئ شانتې هغه د کور په يوې څنډې کي دفن کړ او کور والا وو ته مي وويل چي هغه وتختيده، يار زه څومره ګنانګاره يم .... ما هغه ته بيا ډير بد رد وويل او تر ډيره مي وپوهوو. زما لپاره د هغه دا کار ډير درد ناکه وو، خو د هغه ذهني تنګسې او ناپوهی ته په ليدلو سره ما هغه ته وويل چي که توبه استغفار وکړې او په آينده کي کله هم بيا د داسې کار نه کولو وعده وکړې نو خدائ به دې وبښي.

څو ورځې تيرې شوې چي زين صيب بيا له هماغسې جملې سره رانازل شو .... يار زه په کور کي تنها ووم .... بيا څه شوي دي؟ (ما په تيزی سره ترې وپوښتل). يار شيطان په ما برلاسی شو. د کور دروازه خلاص وه د يو چا بيزه راننوتله او ما هغه په نيولو سره له هغې سره بد کار وکړ .... په داسې ويلو سره زين په ژړا شو. زه پوئ شوم چي پخپل شوي کار باندې شرمنده ده چي د طوطي والا پيښې نه وروسته هغه توبه ويستلې وه خو په توبه ونه دريده. ما هغه ته يو قسم ته د حوصلې ورکولو لپاره وويل چي ځه خير کومه خبره نه ده، کم نه کم د طوطي په شانتې په ظلم خو مړ نشو کنه!

خو هغه چي څه په ځواب کي راته وويل په ما خو يي ځمکه وګډوله،

هغه وويل "يار هغه خو سمه ده خو زه څومره ګنانګار يمه دا خو حلال حيوان وو"

،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،

تاسو وليدل چي زين صيب ته خو د دې خبرې هيڅ احساس نه وو چي هغه يو بې ژبې او بې کسه حيوان ته نه صرف کړاو ورسوو بلکه يو يي وواژه هم. خو د هغه لپاره دا غم څه لګ غټ وو چي د هغه له لاسه يو حلال حيوان ته تکليف ورسيده. دا وي په ذهنونو کي کينول شوي خيالات ..... يعني که د بزې پرځائ کوم حرام حيوان سره يي دا بد فعل کړئ وائ، نو د زين صيب د ضمير بوج به ډير کم وو. د حلالو حيواناتو خبره راغلله نو له تاسو سره به يوه بله وړوکې کيسه شريکه کړم. زه يو

ځلي يو جماعت ته لاړم. هو د ملا صيب د هوا وتلو نه وروسته هم يو دوه ځلي جماعت ته تللئ يم، دا ځلي زه د خپلي مور په اصرار باندې د ملا صيب د راوستلو لپاره لاړم زمونږ د پلار د تلين په مناسبت د قران ختم کولو لپاره .او دا کيسه د پاکستان نه ده د انګلستان ده. زه له خپل ورور سره يو ځائ جماعت ته ورسيدم، نو ما هغه ته وويل چي تاسو دننه لاړ شئ که زه هم دننه لاړ شم خامخا به ګړ بړ پيښيږي. زما ورور رنډ شو چي نه هيڅ هم نه کيږي ته هم دننه راشه. کله چي دننه لاړو نو ملاصيب وويل چي لګ کيني زه د ماشومانو درس ورکول ختم کړم نو بيا به لاړ شو .نو بيا ملا صيب ماشومان خپل ځان ته د متوجي کولو نه وروسته وويل: ښه ماشومانو ما تاسو ته ويل چي زمونږ په دين اسلام کي د يتيم ډير زيات قدر ده. او د يتيم پام ساتل زمونږ د خوږ پيغمبر سنت دي. نبي کريم فرمايلي دي چي .... که تاسو چيرته کوم داسي حيوان هم وګورئ چي د هغه مور نه وي نو هغه خپل کور ته په راوستلو سره د هغه پالنه وکړئ، خو که هغه حيوان حلال وي .... وګورئ په داسي خبرې اوريدو سره نو زه چيرته چپ پاتي کيدئ شوم. نو ورته مي وويل ملا صيب ولي ماشومانو ته جهالت ور زده کوې؟ ستاسو پيغمبر د حلال شرط د دې لپاره اينئ ده چي کله تاسي د هغه يتيم په پالني سره هغه غټ شي، نو هغه په حلالولو سره وخورئ !زما ورور سمدستي د معاملي يخ کولو کوښښ وکړ، خو زه په غوريدلو سره له جماعته راووتم .زما ورور ملا صيب رضا کړ، او هغه مو کور ته راوست. د دې ويلو شايد ضرورت نشته چي زه د ختم کولو په وخت کي له کور څخه بيرون تللئ ووم .

د نن کيسي خو مو ولوستلي. تاسو وليدل چي د مسلمانانو په ستوني کي څنګه د حيواناتو حلال او حرام په بد حالت کي نختي دي. د انګلستان يوه مشهوره ټوکه ده چي دلته به مسلمان په کڅوړه کي د بليک ليبل بوتل له ځان سره ګرځوي او دکان په دکان به د حلالي غوښي په تلاش کي ګرځي راګرځي. يو مسلمان چي په لاس کي يي د شرابو بوتل نيولی وو کله چي يي له قصاب نه د غوښي په لور اشارې کولو سره پوښتنه وکړه چي ايا دا حلاله ده؟ نو قصاب د بوتل په لورې اشارې کولو سره وويل:

"جني اک اوه حلال اي اوهنا اي ګوشت وي حلال اي"
)مطلب څومره چي ستا شراب حلال دي هغومره دا غوښه هم حلاله ده (

څنګه چي ما له مذهب نه ځان خلاص کړ خو اورمېږ باندې لاس لګيدني سره اوس هم نارامه کيږم، همداسي که تاسو هم د خپل مذهب پريښودلو پريکړه کوئ نو له ډيرو کړاوونو به تيريږئ. که له دې کړاوونو نه د تيريدلو همت په تاسو کي نه وي نو سمه ده له مذهب سره اوسئ، خو دا پخپل او د خپل فاميل په خوشاليو پورې مه تړئ. ژوند مو له خوشاليو ډک تير کړئ او د خلکو د جهالت په بنياد فيصله کول هم پريږدئ.

په تلو تلو سره به يوه بله خبره درته وکړم چي زين صيب له تيرو څو کلونو راهيسي د مديني منورې ښار په يو جماعت کي امام ده .هغه کوښي چيرته چي قدم کيښودلو لپاره د ميليونونو انسانانو ارمان ده .چيرته چي د ښښيدلو خواهش په لکونو ليک لوستي او پوه خلک په ژړا ژړا سره کوي. زمونږ د طوطي والا ملګرئ هلته په يو جماعت کي د خپل دين د پرمختګ لپاره هلي ځلي کوي. بس چي کله وغوښتل شي تر هغي تاسو دا زمزمه کوئ....
ميرے اقا بلالو مدينے مجھے!

**اتمه برخه:**

خداي څوک ده؟ چيرته اوسيږي؟ د هغه شکل څنګه ده؟ د هغه څنګه عادتونه دي؟ د هغه څه خوښ دي او څه نه؟ دا او دې ته ورته نورې ډيرې په لسګونو پوښتني د هر هغه ماشوم په ذهن کي پيدا کيږي، کوم ته چي په سترګو خلاصولو سره سم دا ويل شروع شي، چي چيرته يو داسي ذات هم شته چي هر وخت هر چيرته هغه موجود ده. چي هغه هر څه ګوري او اؤريدلئ شي. له هغه نه په نړئ کي کيدونکي له کوچني نه کوچنئ کړني هم نشي پټيدلئ، وغيره وغيره. دا داستان که څه هم د ماشومانو د ځينو پوښتنو ځواب ويلئ شي مثلاً، خلک چي مړه شي چيرته ځي؟ (د الله خواته) يو څوک بې وخته ولي مري؟ (دا د الله خوښه وي) د دې ماشوم پښي ولي نشته؟ (همداسي الله جوړ کړئ ده) همدغه ځوابونه بيا نورې نوې پوښتني هم زيږوي.

د دې پلټونکو ماشومانو په شانتي ما هم شپه او ورځ د خپلي مور اعصاب ورخراب کړي وو. د الله خوښه ولي بدليږي؟ همدا پرون د دې ماشوم پلار مړ شوئ وو او نن ورپسي دا ولي مړ شو؟ ايا د دې ماشوم مور کومه ډيره ګناګاره ښځه ده؟ الله بدو

خلکو ته ولي سزا نه ورکوي؟ هميشه د ښو خلکو ژوند ولي ژر اخلي؟ که الله له مسيحيانو او يهوديانو څخه بيزوګان او خنزيران جوړ کړي وو نو زمونږ د کلي هغه بدماش ولي تراوسه نه نيسي اخر ولي؟

د دې پوښتنو ځوابونه به مي مور څه راکړي وو چي هغي پخپله د مور پلار وربښودل شوئ جهالت څه په مشکل سره هضم کړئ وو، خو په مکتب کي چي لګ وړاندې لاړم نو راته معلومه شوه چي د ډيرو پوښتنو ځوابونه خو يوازې مذهب درکولئ شي. ښه نو راځئ چي مذهب وګورو. د ډير بچګانه پوښتنو نه ډير بچګانه پوښتني خو مونږ ته په مذهب کي پيدا شوې چي ......

الله پاک دا دنيا د دې لپاره جوړه کړه چي ترڅو خپل خوږ پيغمبر ورته راوليږي. الله بدو خلکو ته مهلت ورکوي چي وګوري هغه ترکومه او څنګه ځي. الله پاک خپل ګران خلک پيغمبران جوړوي او د هغوئ په مرستي سره خپل پيغام تر خلکو رسوي. له دې ځوابونو پيدا کيدونکي اضافي پوښتني که پرينبودلئ هم شي (پيغمبران د خدائ پيغام راوړلو لپاره غرونو ته ولي تلل؟ ايا الله هلته خپله مهمانخانه يا د پيغمبرانو تربيت ګاه جوړه کړي وه؟ که الله مخامخ د ميګافون په مرستي سره دنيا ته خپل هدايتونه اورولي وائ نو ژوند به څومره اسانه او ښکلئ وو. چا به په کوم پيغمبر يا رسول باندې د دروغجن تور هم نه لګوو. او بدکرداره خلکو به د الله حکم په مخامخ ډول اوريدلو سره شايد له خپلي بدکرداری نه په شا شوي وائ) .

خير دا خو خبره بل خواته وغځيدله . خبره څه داسي وه چي دا ځوابونه که هر څنګه وو خو مذهب مونږ ته راوړاندې کړل. که چاته قانع کونکي وي يا نه، خو کم نه کم ځوابونه خو ورکړل شوي دي کنه. اوس د دې پوښتنو بايد څه وشي، کومې چي له مذهبه پيدا کيږي؟ همداسي يوه پوښتنه چي له ماشومتوب نه تراوسه راسره ده هغه په قران کي د موجوده علم په اړه ده. ما هميشه له مشرانو اوريدلي دي چي قران د خدائ کتاب ده، او دا د شته نړی تر پايه پورې د هدايت او رهنمايي سټه ده. ما کوښښ وکړ چي قران له ترجمي سره ولولم، خو راته محسوس شوه چي د دې ويل خو اسانه دي خو پرې پوهيدل يې ډير ګران دي. بيا ماته وويل شول چي د قران د تفسير مقصد د قران مفهوم د ناپوهانو د پوهاوي لپاره ده. نو ما د تفسير مطالعه هم شروع کړه. ما لاتراوسه په مکتب کي زده کړې کولي چي زما مشره خور FSC کي داخله شوه. د هغې د بيالوجي کتاب مي چي د پلټني په خاطر ولوسته نو راته معلومه شوه چي په دنيا کي د انسانانو له راتګ څخه ډير وړاندې ډير غټ غټ حيوانات هم اوسيدل. کومو ته چي په عامه ژبه کي ډايناسور ويل کيږي. دا ډايناسور کوم پنځه شپيته ميليونه کاله پخوا له دې نړی څخه ختم شوي دي. او له دې وړاندې دوه سوه ميليونه کالونو پورې په دې نړی کي موجود وو. ما په قران کي د څه داسي اشارې پلټنه وکړه، چي ماته وښيي چي الله ته د ډايناسورو معلومات وو او هغه خپلو بندګانو ته په دې باره کي ويلي هم دي، خو متاسفانه زه ناکام شوم. زما لپاره دا خبره ناقابل د يقين وه چي په دې دنيا کي دې دومره عظيم حيوانات تر دوه سوه ميليونه کاله پورې وساتي، خو عام کس خو څه چي خپلو پيغمبرانو ته يې هم په دې اړه يو ټکي پورې څه نه دي ويلي. زما لپاره دا خبره ډيره ناقابل د يقين وه.

په ماشومتوب کي زما لپاره هم د نورو ماشومانو په شانتي د پيريانو او ښاپيريو په نقلونو او کيسو اوريدلو کي ډيره دلچسپي وه، او ما چي کله هم د کومو ـغټو پيريانو د وجود باره کي پوښتلي دي نو ماته د تل په شانتي همدغه ځواب راکړل شوئ ده چي د پيريانو وجود حق ده، ځکه چي د هغوئ يادونه په قران کي شوې ده. په اسلامي عقيدې کي خو به د پيريانو کيسي ډيرې پيدا کړئ، د کومو د وجود چي تر نن ورځي پورې يوه معمولي نښه هم نه ده موندل شوې. خو په نړی کي تر دوه سوه ميليونو کلونو پورې اوسيدونکي ډايناسوران له قران نه هير شوي دي. ما له ډيرو لوستو خلکو نه چي ځانونه به ورته عالمان ښکاريدل او ورته ويل کيدل به، دا پوښتنه ترې وکړه چي خدائ پخپل کلام قران کي ولي د ډايناسور يادونه نه ده کړې؟ خو هيڅ چا هم ماته کوم تسلي بخش ځواب رانکړ. اخر فيصله په دې وشي چي د الله خوښه څه چي غواړي ووايي او څه چي نه غواړي پټ يې وساتي.

دغه ځواب خو شايد کوم داسي کس قانع کړي چي د سترګو په بندولو سره يې له پيل نه د مذهب ويل شوې هره خبره رينښتيا منلي وي. خو زما لپاره دغه منطق بلکه په دغه غير منطقي ځواب باندې پوهيدل ډير ستونزمن وو. کله چي زه BA ته ورسيدم نو زما رسيدګي د يو مشر دوست کتابخانې (لايبريري) ته وشوه او ما هم د نړی په تاريخ له خبريدني او پوهيدني تفتيش پيل کړ. ماته معلومه شوه چي يو ايرش پادري بلکه ستر پادري د نړی د پيدايښت تاريخ يې تعين کړئ ده.

ما ولوستل چي ستر پادري جيمز اشر په تورات او انجيل کي د ورکړل شويو واقعاتو او د پيغمبرانو د نسبي شجرو په ليدلو سره دا نتيجه راوباسلې ده چي د نړی پيدايښت د يکشنبې ورځ ۴ اکتوبر ۴۰۰۴ قبل مسيح شوې ده. همداسي د نړی عمر کوم

شپږ زره کاله پخوانی ښودل کیږي. ماته د یو کشمیري په حیث سره دا علم وو چې د خطه کشمیر تاریخ د نړی ترټولو پخوانی لیکونکی تاریخ ده او د دې په موافقت سره کشمیر هم له شپږ زره کلونو راهیسې مسلسل ابادیږي . خو په دې خبرې زما سر خلاص نشو چې که د جیمز اشر د دعوې په مطابق هغه وخت د نړی جوړښت کیده او الله پاک شیطان سجدې کولو ته مجبوروو، نو په کشمیر کې بادشاه او په زرګونو خلکو مشتمل ولس له کومه راغئ؟

د سائینس پرمختګ که څه هم ژوند ته په څو ډوله سهولتونه او اسانتیاوې ورکړې دي، خو همدلته د هغه یو بل کمال هم ده، دې سائینس زمونږ د سیارې یعنې د ځمکې د تصنیف کولو کې هم بې سارې مرسته کړې ده. که هغه د ډایناسور د هډوکو او د نورو فاسلز عمر تعین کول دي او یا که د جیالوجي په مرستې سره د ځمکې په تل کې د تاریخ خښه شوې تجزیه ده. سائینس چې مذهب له کومو چیلنجونو سره مخ کړئ ده، د هغه نه منل داسې فکري نظام ته ممکن نه ده، د چا چې بنیاد په ړنده عقیده ولاړ وي.

په اسلام کې د عیسویانو او یهودیانو کتابونه هم د خدائ کتابونه منل شوي دي، همداسې به د جیمز اشر ورکړل شوئ تاریخ د اسلام لپاره هم د منلو وړ وي. اوس که دغه دعوه د سائینس په رڼا کې وکتل شي نو د مذهب کف به په دقیقو کې کیني. که ډایناسور الله جوړ کړي وو نو د هغوئ د جوړولو مقصد څه وو؟ له ډایناسورو نه تر ننه پورې په ځمکه څه کیدل؟ ډایناسورونه ولې ختم شول؟ ایا د ډایناسورو د هدایت لپاره هم پیغمبران رالیږدول شوي وو؟ الله پاک خپل پیغمبران له دومره غټ تاریخي حقیقت نه ولې بې خبره وساتل؟ او که پیغمبرانو ته یې ویلي وو نو پیغمبرانو دغه خبره خپلو مریدانو ته ولې ونه ویله؟ دا خو یوه مخامخ خبره شوه چې اسلام خو څه له هیڅ مذهب سره یې ځوابونه نشته.

فرض کړئ! چې پادري جیمز اشر د پیغمبرانو عمرونه په سمه توګه نه دي نوټ کړي او په پخوانی زماني کې د خلکو عمرونه نهه نهه سوه کالونو پورې وو (د اسلام دعوه) نو بیا هم هم له ادم نه تر عیسی پورې درې شپیته نسلونه یوازې تر شپیته پنځه شپیته زره کالونو پورې غوړیدلئ شي. پنځه شپیته میلیونه کاله یوه ډیره اوږده موده وي. د پخوانیو خلکو عمرونه نهه نهه سوه کاله او د هغوئ قد شپیته شپیته متره دعوه خو خنده داره ده هم، د ځمکې په تل کې د موندل شویو نښو نښانو نه دا دعوه هسې کچه هم ثابته شوې ده. او داسې بیا د ادم، حوا او شیطان د سجدې کولو کیسو باندې ایمان راوړونکي سائینس څنګه غلط بللئ شي؟ .

کوم خلک چې د پیریانو (په فرضي توګه مکمل) وجود فقط د دې په خاطر په پټو سترګو قبلولو ته تیار دي چې د هغوئ یادونه په قران کې شوې ده، هغوئ په قران کې د الله د دومره عظیم تخلیق په اړه د یادونې نه کیدلو باندې دې پوښتنې ته څه ځواب ورکولئ شي؟ کیدئ شي ډایناسور کوم بل خدائ جوړ کړي وي او الله د کسبي رقابت له وجې د هغو یادونه په خپل کتاب کې نه وي کړې.



**نهمه برخه:**

ما چې له کله نه خپل يادابښتونه ليکل شروع کړي دي، په لسګونو خلکو مسيجونه راليږلي دي چې پکې ويل شوي دي چې زما له ويل شويو خبرو سره موافق دي، خو لکه څنګه چې دوئ د يوې مسلماني کورنۍ غړي دي نو نشي کولئ چې زما په پوسټ باندې کمينټ وکړي. دغه ملګري ماته ډاډګيرنه راکوي او ما تاکيد کوي چې خپل کار جاري وساتم له دې څخه د ډيرو خلکو په ذهن کې شته شکونه لرې کيږي او هغوئ په ښه توګه د مذهب خاص کر د اسلام د مذهب پلټنه کوي. همداسې ځينې ملګري چې زياتره پکې د ځوانانو تعداد شامل ده له ماڅخه پوښتنې کول هم شروع کړي دي. د هغو پوښتنو انداز هغه شانتې نه ده، چې ړندو عقيدو والا مسلمانان يې پوښتي، بلکه له دې نه په ښه توګه معلوميږي چې پوښتونکي کسان د سپړنې له هغه دوران نه په تيريدو دي چيرته چې زه په لس کلنۍ کې ولاړ ووم. يوه پوښتنه چې ترټولو ډيره پوښتل کيږي، هغه د پيغمبر اسلام د ښځو په اړه ده. نو زه کوښښ کووم چې نن درته په دې اړه خپلې کړې څيړنې له تاسو سره شريکې کړم.

په ماشومتوب کې مونږ ته ويل شوي وو چې د پيغمبر اسلام ذات د هر مومن مسلمان لپاره يوه بهترينه نمونه ده. او که څوک غواړي چې د جنت حقدار او د الله نږدې بنده جوړ شي، نو هغه ته په کار دي چې د پيغمبر اسلام په سنتو عمل وکړي. د يو ماشوم په حيث زما هم همدا خواهش وو چې زه له مړينې وروسته دې د دوزخ په اور کې ونه سوځول شم بلکه د الله نږديوالئ په څه ډول زما ترلاسه کول وو. کله چې د سيرت النبوي مطالعه ما په لومړي ځل شروع کړه نو زما د خوښې ترټولو غټ مرکز د محمد صيب ذاتي ژوند وو .هغه څه خوړل او څه يې څګل، په څه ډول يې له خلکو سره معاملې کولې، د هغه له خپلوانو او ګاونډيانو سره سلوک څنګه وو. په ملګرتيا کې د هغه معيار څه او څنګه وو؟ وغيره وغيره

کله چې دې هر څه ته په تفصيل ويلو سره کښيناستم، نو ماته د محمد صيب د ازدواجي ژوند په باره کې ډير معلومات وشول او ډير حيران شوم، چې محمد خو پخپله مسلمانانو ته دا حکم کوي چې هغوئ يوازې له څلورو ښځو سره يوځائې ودونه کولئ شي، او هغه هم په هغه صورت کې چې له دې ټولو سره يو شانتې برخورد وکړي . خو پخپله يې له لسګونو ښځو سره ودونه وکړل او د رواياتو د اختلاف باوجود هم له دې خبرې څوک انکار نشي کولئ چې د هغه په يو وخت کې له اووه نه تر يولس پورې ښځې پاتې شوې دي. زما د حيرانی بنياد دا وو چې که د پيغمبر اسلام ذات زمونږ لپاره د تقليد يوه بهترينه نمونه ده نو هغه ته په مکمله توګه د قران له هداياتو سره برابر او متناسب ژوند کول وو .... خو داسې نه ده. د دې پوښتنې ځواب ماته څو کاله وروسته پيدا شو ما چې له کومو لوستو او عالمانو سره په دې مورد خبرې اترې کړې دي، هيڅ چا نه يم قانع کړئ. ځينو خو د سختو عذابونو زيرې هم راباندې وکړل چې يو ايمان لرونکې ته داسې قسمه خيالونه په زړه کې پيدا کيدل د شيطان برلاسي او د دوزخي نښې دي .

زما د څيړنې په دوران کې ماته د پوهيدنې لپاره د محمد او د هغه د ښځو په باره کې ډير څه پيدا شول . هغه له کوم بل ځايه نه له همدغه قران او حديثونو نه . ماته معلومه شوه چې د محمد لومړنۍ ښځه خديجه له هغه څخه په عمر کې مشره وه. او د هغې په ژوند کې محمد بل واده ونکړ. خو د خديجې له مړينې وروسته خو داسې ښکاريدله لکه د ښځو تجارت يې چې جوړ کړئ وي. زما لپاره دا خبره ډير د تعجب وړ وه چې د پيغمبر پيرونکو به چې کله په کومې قافلې يا کلي باندې بريد وکړ، نو د هغوئ ټول نارينه به يې ووژل او د هغوئ ښځې به يې ژوندۍ نيولې، او غلاماني به يې ترې جوړولې او بيا خو به يې يا له هغوئ نه په تاوان (د پيسو په بدل کې خلاصونه) اخيستلو سره به يې خوشې کولې او يا به يې له دوئ نه مينځې او ښځې جوړولې. همداسې يوه واقعه ماته د بني مصطلق جويريه په باره کې د لوستلو لپاره پيدا شوه کومې چې يو شانتې ټکان راکړ. بايد ووايم چې دغه ښځه بني مصطلق د يو لوئ سردار ښځه او د لويې مرتبې ښځه وه. کله چې مسلمانانو د هغوئ نارينه ووژل او له ښځو يې غلاماني جوړې کړې، نو کله چې د هغوئ د ازادئ په بدل کې يې د تاوان غوښتنه ترې وکړله نو جويريه ورته وويل چې اې محمده! له ماسره خو د تاوان رقم نشته. نو محمد هم په تلوار سره ورته وويل چې که ته له ماسره واده وکړې نو زه به ستا د تاوان رقم ادا کړم. نو همداسې جويريه د ده په حرم کې داخله شوه.

همداسې يوه واقعه د خيبر له جنګ نه وروسته ده په کوم کې چې د صفيه نامې يوې ښځې خاوند او د هغې د فاميل نور غړي ووژل شول. د کلبي په نوم يو کس محمد ته راغی او له محمد نه يې د دوو مينځو غوښتنه وکړه. محمد هم د دوو ښځو وړلو حکم ورکړ خو لګ وروسته يو څوک راغئ او محمد ته يې وويل چې کومې ښځې چې قلبي ته ورکړل شوې دي، په هغو کې صفيه نامې يوه غير معمولې ښځه ده. محمد د کلبي په راغوښتلو سره ورته وويل چې ته د صفيه پر ځائ کومه بله مينځه بوزه او پخپله يې په صفيه څادر وغوړاوو يعنې واده يې ورسره وکړ. د دې واقعې په تفصيلاتو کې مونږ ته دا هم ښکاره څرګنديږي چې په دې وخت کې محمد په قران کې د بيان شوي عدت حکم هم هيڅ پروا ونکړله. هلته يې ويلي دي چې که د

کومي ښځي خاوند مړ شي نو هغي ته د څلور مياشتي او لس ورځي وروسته د بل واده کولو اجازت ده. خو محمد په همدې شپه د واده شپه ولمانځله او له دې ښځي سره يې ازدواجي تعلقات پيل کړل. زما لپاره په دې واقعه کي يو بل دردونکی اړخ دا هم ده چي کوم کس چي د دې ښځي ورونه، پلار او خاوند قتل کړل هغه په همدې شپه له دې سره په مينه کولو کي مصروف شو. په داسي وخت کي به په دې ښځي څه يو قيامت تير شوئ وي . که په تاسو کي له چانه کوم ګران د مرګ لاسونو ته لويدلئ وي، نو تاسو ته بيا د دې اندازه کول مشکله نه ده .... په ياد مو وي، د کوم ذات شريف خبره چي دلته روانه ده د هغه يو لقب رحمة اللعالمين هم ده .

له دا شانتي بيشميره کيسو او واقعو نه د حديثونو او سيرت کتابونه ډک پراته دي. که څوک غواړي چي نور هم معلومات ترلاسه کړي نو دغه کتابونه دې ولولي .يوه بله ام المومنين د کومي يادونه چي د پيغمبر اسلام د ژوند په اساس کي ډير مهم رول لري. هغه بي بي عايشه ده. بي بي عايشه د ابوبکر صيب لور وه .کله چي د هغي له محمد سره نکاح وشوه، هغه وخت عايشه شپږ کلنه وه او محمد يو پنځوس کلن بوډا وو. يقيناً ستاسو شاؤخوا به کومه نهه کلنه ماشومه وي. کيدئ شي ستاسو لور وي ، خور وي، وريره وي، لمسی وي يا کوم نژدې خپلوانه ... که د لګ وخت لپاره هغي ماشومي سره خبرې اترې وکړئ، نو درته به معلومه شي چي هغه په څومره اندازې سره معصومه او وړه شانتي ماشومه ده. او دا زه تاسو ته په هغه زمانه کي وايم چيرته چي هر دويم سړی دا خبره کوي چي د نن سبا ماشومان ډير زر ځوانی ته رسيږي.

زمونږ په زمانه کي (يعني کوم شل ديرش کاله وړاندې) به مونږ په هيڅ شي نه پوهيدلو. ټوله ورځ به مو له نانزکو سره لوبې کولې، له نړۍ به ناخبره وو. لګ فکر وکړئ چي که د شل ديرش کاله وړاندې د ماشومانو د معصوميت دا حال وو، نو څوارلس سوه کاله مخکي به د نهه کلنو ماشومانو څه حالت وو؟ دا ماشومه د پيغمبر ښځه شوه او اسلامي تاريخ مونږ ته وايي چي ترټولو وړه محبوبه جوړه شوه. کله چي محمد وفات شو نو د دې ماشومي عمر يوازې اتلس کاله وو، خو لکه څنګه چي هغه اميرالمومنين وه، همدې وجې نه هغي ته د بل واده کولو اجازت هم نه وو. يو لوري ته خو اسلام دعوه کوي چي هغه سره د ښځو د نفساني جذباتو احساس شته، همدې وجې نه د کونډې واده کول ضروري دي. خو د پيغمبر ملکيتي فطرت دا اجازه نه ورکوي چي د هغي ښځي دې له ده وروسته له بل چاسره ازدواجي ژوند جوړ کړي، نو ځکه خو عايشي پاتي ټول ژوند بي له کوم نارينه تير کړ. له کومي راهبي نه په پوښتلو سره وګورئ چي په داسي ژوند تيرولو کي څه څه مشکلات پيښيږي....

يوه ډيره مشهوره کيسه د زينب بنت حجش هم ده چي د محمد د تره لور ده. د حديثونو له مخي د هغي واده د محمد په خپلوي منل شوي ځوئ زيد سره شوئ وو. يوه ورځ محمد د زيد کور ته لاړو نو زينب يې د بې پردګئ په حالت کي وليدله او ډير ترې متاثره شو. د نور تفصيل لپاره په فيسبوک کي د غلام رسول ليکل شوئ نوټ ولولئ. لنډه دا چي پيغمبر له خپل ځوئ نه زينب ته په طلاق ورکولو سره پخپله له هغي سره واده وکړ. په دې معامله کي چي هر څه وشول هغه خو وشول خو يوه خبره چي ډيره عجيبه وشوه، هغه دا چي په اسلام کي په خپلوي د منل شوي تصور يې ختم کړ. چي وړاندې له اسلام نه په عربو کي دا يو پخوانی روايت وو په کوم کي چي په خپلوي منل شوی ځوئ ستا حقيقي ځوئ ګڼل کيده .

خو په هر حال مونږ خپلي پوښتني ته بيرته راګرځو که د پيغمبر اسلام ژوند زمونږ لپاره يوه بهترينه نمونه ده نو دغه اصول د هغه په ودونو ولي نه عملي کيدل؟ څه وجه ده چي په ميليونونو مسلمانان چي د پيغمبر د قدمونو خاؤرې کيدل يې د ژوند ارزو ګڼل کيږي او د دوئ لپاره د کردار او عمل بهترينه نمونه يعني پيغمبر اسلام پخپله د خپل مذهب ځيني اصول د خپو لاندې کول خو کله هم کوم مسلمان په دې اړه هيڅ فکر پورې ونکړ؟

د دې ځواب ماته دا راکړل شو چي ماته له يو دوست سره د يو بزرګ په محفل کي د تللو اتفاق وشو. په محفل کي په لسګونو خلک موجود وو چي هغه بزرګ به ورته درس ورکوو. د لږې مودې لپاره چي د لمانځه وقفه شوه نو ټول مريدان يې يوې ځانګړې کوټې ته د لمونځ کولو لپاره لاړل. حال دا چي هغه بزرګ پخپل ځائ کي اوږد وغځيده او ويده شو. له محفل نه په وتلو سره مي له خپل ملګري نه وپوښتل چي ستاسو پير صيب ولي لمونځ ادا نکړ؟ نو هغه وويل چي (هغه د خدائ نيک او پاک بنده ده د هغه لمونځ فرښتي ادا کوي او په فرښتو کي هم مقابله روانه وي چي نن به د دې بزرګ پرځائ کومه فرښته لمونځ ادا کوي .(.....

د هغه په دې عجيبه منطق پورې خو ما ډېر وخندل، په هغه مې مسخرې هم وکړې خو د هغه دې حماقت ماته دا درس را زده کړ، کله چې ستاسو په سترګو د عقيدې پټۍ تړل شوې وي، نو تاسو د خپل محبوب شخصيت له لوئ نه لوئ عيب ليدلو نه هم بې برخې کيږئ ..... همدې وجې نه د عقيدې شدت په عمومې ډول د ړندې عقيدې په نوم سره هم بلل کيږي.....

د پيغمبر اسلام د ژوند په دې اړخ کې خو ځينو مسلمانانو ته هيڅ د فکر کولو ضرورت نه محسوسيږي. چې د همدغه پيغمبر په کيسه کې دا غټ غټ داغونه له سره ورته ښکاريږي هم نه! او ځينې مسلمانان د عقيدې د کمزورتيا په غم کې تللې دي چې د پيغمبر په ذات يا مذهب په باره کې يو وړوکی شک هم دوئ د کفر کندې ته ټيل وهلئ شي، چې دغه شيطاني وسوسې يې ژوند ورڅخه وانخلي .....



**لسمه برخه:**

تاسو به د پينس کرسټين (ايمپررز نيو کلودز) يا د باچا نوې جامې مشهوره کيسه لوستلې وي. په کوم کې چې دوه ټګماران دي او باچا په دې خبره قانع کوي چې هغوئ يوه بې وزنه جامه جوړولئ شي، او ورسره دا شرط هم لګوي چې دا جامه به يوازې هوښيارانو ته ښکاريږي. د باچا درباريان چې کله د جامې تيارولو جايزه اخيستنې لپاره ځي او هغوئ ته هيڅ هم نه ښکاري. نو هغوئ ته خپل ځانونه کمعقلان ښکاره شي او د جامې په نه ليدلو سره هم د جامې تعريفونه کول شروع کوي. جامه چې تياره شوه او باچا ته وراغوستل کيږي، نو څرګنده ده چې هغه پوره بربنډ وي، خو باچا هم همدا فکر کوي چې شايد زه بې عقل يم ځکه خو دا جامه راته نه ښکاريږي.

درباريانو هم باچا بربنډ ليدلئ وي، خو له يرې غږ نشي کولئ چې شايد مونږ به کمعقلان يو ځکه چې دا جامه نه وينو. نو همداسې کله چې باچا د نوې جامې په اغوستو سره د ښار چکر ته ووځي، نو د ښار ټول خلک هم ځانونه کمعقل ګڼي او د ناديده لباس صفتونه شروع کوي. اخر يو وړوکی ماشوم د باچا په لورې ګوتې نيولو سره د هغه د بربنډوالي خبره کوي چې باچا خو بربنډ ده.

ماته چې کله په لومړيو کې د اسلام په تعليماتو په پوهيدنې کې ستونزې راپيدا شوې او په ذهن کې مې رنګا رنګ پوښتنې راغلې، نو ما قران لوستل پيل کړل، خو چې بيا مې هم سر پرې خلاص نشو، نو يو عالم دين سره مې وليدل کوم چې دا

فیصله راوکړه چې له قران نه یوازې هغه هدایت ترلاسه کولئ شي، کوم چې درک او فهم ولري. که ته په زړه کې په شک راوستو سره قران لولې، نو ته به د قران له روښنایي څخه تل محروم وې. شرط دا ده چې لومړئ ته په دې مکمل ایمان راوړه او ځان یو نیک او متقي انسان جوړ کړه، بیا به تاته د قران حکمت ښکاره شي.

د ملا صیب دغه تاکید زه په عجیبه تشویش کې واچولم . ما خو قران په دې خیال سره لوستلو چې د دې له روښنایي نه ښیګڼه ترلاسه کړم، خو راته معلومه شوه چې زه هم د " ایمپررز نیو کلودز " د کیسې په شانتې کمعقل یم، چې مخامخ څیز راته نه ښکاریږي. داسې راته ښکاره شوه چې زما شاؤخوا ډیر خلک څوک چې زه هوښیار ګڼم شاید د همدې ډار له وجې د قران د حقانیت قسمونه خوري راخوري چې داسې نه چیرته دوئ هم ګنانکاره هم کمعقل ونه ګڼل شي. خو لنډه دا چې قران هم زما راهنمایي ونکړه. دا ماته ډیره وروسته څرګنده شوه چې په قران کې موجوده تضادونه او د ژبې او بیان په غلطیو باندې هم لیکوالانو ډیر څه لیکلي دي. دا لیکنې ښکاره څرګنده ده چې د پاکستان په شانتې هیواد کې نه ترلاسه کیږي، نو زما د ژوند څو کلونه په دې فکر کې تیر شول چې ما به خپل ځان کمعقل او کم فهم ګڼلو. د قران په حقانیت باندې د شک کولو جرآت مې ونکړ، خو د څو کلونو وروسته د قران او حدیثونو مسلسل مطالعې اخر دا کار هم سرته ورسوو. کله چې زه کوم مسلمان په پوره خوند سره د قران لوستلو په حالت کې ګورمه، نو باور وکړئ زما ورته ډیر زړه سوزیږي، چې کاش! ته چې کوم عبارت په دومره خوند او عقیدې سره تلاوت کوې د دې په معنا او مفهوم هم پوئ شې. کوم کس چې په ډیر ښکلي انداز کې قرات کوي او په هغه کې داسې ایاتونه تلاوت کوي، په کوم کې چې الله د حورو د جسمونو په تعریف کې ځمکه اسمان سره یو کوي. یا د کوم داسې ایت قرات په کوم کې چې الله خپلو غوښتونکو ته امر کوي چې هر چیرې مو چې غیرې مسلم خلک ونیول ځائ پر ځائ یې غرق کړئ، نو ماته ډیر افسوس هم راځي او حیرانیږم هم چې وګوره عقیده انسانان څومره د سپکتوب په لوري بیایي.

خبره د قران روانه وه. نو څو خبرې چې ماته په قران او حدیثونو کې په لاس راغلې. او چې په لوستو یې زما دا احساس نور هم پسې قوي کړ، چې دا د کوم خدائ کلام نه ده، بلکه د یو سیاسي مشر طاقت او اقتدار د لاسته راوړنې لپاره زیږول شوي جملې دي. هلته د داسې ایاتونو سره هم مخ شوم چې د پیغمبر اسلام د شخصي ژوند د سهولت لپاره جبراییل صیب به سمدستي حاضریدلو او ړانده پیرونکي به یې بې سوچه بې فکره له ړندې عقیدې څخه بیهوښه شول......... داسې یوه واقعه د حضرت عایشي د غاړکۍ د ورکیدلو هم ده. له حدیث نه معلومیږي چې د مسلمانانو قافله چیرته په سفر روانه وه او د څه مودې لپاره قافله په دښته کې دمه شوه. بې بې عایشه چې د رفع حاجت لپاره بیرون لاړله نو خپله غاړکۍ یې ورکه کړه. خیمې ته په واپسۍ سره چې د غاړکۍ ورکیدل ورته معلوم شول، نو خپل ضد یې شروع کړ چې د غاړکۍ لټولو نه بغیر دې قافله مخکې نه ځي. پیغمبر اسلام چې د عایشې لپاره یې خصوصي مینه لرله، مومنانو ته یې د غاړکۍ د پیدا کولو امر وکړ. دا لټون جاري وو چې شپه شوه. د قافلې خلک پریشانه شول چې هغوئ ته وړاندې تلل وو، خو د غاړکۍ په لټه کې دوئ د دښتې په مابین کې ګیر راغلل. د عایشې پلار خپلې لور د پوهونې لپاره د هغې خیمې ته ورغی. نو وئ لیدل چې پیغمبر محمد د حضرت عایشې په زنګانه خپل سر ایښی ده او خوبونه کوي. پلار خپلې لور ته په قهریدلې غږ وویل چې ستا د ضد له وجې مونږ په دښته کې دریدلي یو. په څو شیبو کې به د مازیګر د لمانځه وخت شي او دلته تر لرې لرې د اوبو نوم او نښان نشته، خلک به اوس اودس څنګه کوي. حدیث مونږ ته وائي چې پیغمبر اسلام دغو اوازونو له خوبه راپاڅوو او هغه کیفیت کې لاړ، چې د وحي نازلیدو په وخت کې به پرې راته او څو شیبې وروسته یې هغه ایت بیان کړ په کوم کې چې ویل شوي وو ( اې مؤمنانو! که ناروغان یا مسافر یاست، یا ستاسې څخه کوم څوك له حاجت پوره کولو څخه راشي یا تاسې پر ښځو لاس لګولی وي، او اوبه ونه مومئ؛ نو له پاکې خاورې څخه کار واخلئ، پر هغې لاسونه ووهئ، پر خپلو مخونو او لاسو یې را کاږئ) درواخلئ مسله حل شوه.

یعني د الله اخري کتاب چې د شته نړئ تر پایه د انسانانو لپاره د هدایت او رهنمایي درس دپاره وو، د دې ایاتونه په داسې وختونو کې د پیغمبر اسلام د ضرورت او خواهش په مطابق هم نازلیدل. الله هم خوښ، پیغمبر هم خوښ، مومنان او مومنات هم خوښ. د قراني ایاتونو په داسې شانتې نزول ډیر ثبوتونه په قران کې شته دي، او په حدیثونو کې د ده د شان نزول د هر چا سترګو خلاصونې لپاره کافي دي. او حدیث او په قران کې د داسې خبرو پیژندلو لپاره د متقي او پرهیزګارۍ شرط هم نشته، یوازې د عقل استعمال ضروري ده.

همداسې یو بل روښانه مثال مونږ په سورت البقرة کې هم لیدلئ شو چې تفصیل یې څه داسې ده چې د مسلمانانو (شاید محرم میاشت) کومې مقدسې میاشتې کې جنګونه د عربو د رواج مطابق به منع وو، د قریشو په یوې قافلې برید کولو سره یې مرګ ژوبلې او چور و چپاول وکړ، نو مومنانو پوښتنه وکړه چې ایا په دې میاشت کې داسې کول حرام نه دي؟ نو وګورئ

جبراییل ځنګه ناځاپي د محمد مشکل حل کوي .... خلك ستا څخه پوښتنه کوي چې په حرامه میاشت کې جنګېدل ځنګه دي؟ - ورته ووایه: پدې کې جنګ کول ډېر بد دي؛ خو د خدای د لارې څخه د خلکو منع کول، پر الله باندې کافر کېدل، د مسجد حرام لاره د خدای پالونکو پر مخ تړل او د حرم اوسېدونکي له هغه ځایه ایستل، د خدای په وړاندې له هغه څخه هم ډېر زيات بد کار دی؛ او فتنه له وينو تويولو څخه لويه ګناه ده." هغوی به ستاسې سره تل په جنګ اخته وي، ان تر دې چې که يې وس ورسيږي، نو تاسي به له دې دين څخه واړوي له تاسي څخه چې هر څوك له دې دين څخه واوړي او د کفر په حالت کښې ومري، د هغه عملونه به په دنيا او اخرت دواړو کې بابېزه او ضايع شي، داسې خلك ټول دوزخيان دي او تل به په دوزخ کې اوسيږي. بقره ۲۱۷

دا شانتې بيشميره نور ډېر مثالونه په قران کې موجود دي. د حضرت عايشې په جلاتوب کې که د پيغمبر اسلام لپاره د سولې بهانه جوړول وي نو د خدائ ګواهي موجوده، که خپله پخوانۍ انړور ځانته حلاله کول وي نو جبراييل له هماغه ايت او امر سره حاضر، که خپلو ښځو د خواهش په خلاف له مينځو سره د مباشرت جواز پيدا کول وي نو د قران ايت تيار، که خلک له خپلو کورونو لرې ساتل وي چې څو شيبې په مينه او محبت له خپلې ناوې سره تيرې کړي نو سورت الاحزاب ورته د مرستې لپاره رارسيږي..... که چيرته بيا له کوم عالم دين سره مو وليدل نو له هغوئ نه د دې وضاحت په اړه ضرور وپوښتئ. که تاسو ته يې قناعت درنکړ نو هغه ته ووايـاست چې الله فرمايلي دي کوم څيز چې تاسو په شک کې اچوي هغه سمدستي پريږدئ، که تاسو د خپل ايمان سلامتي غواړئ .

يولسمه برخه :

زما هغه دوستان چې له څو اونيو راهيسې زما کتاب (ما مذهب ولې پريښود؟) څو برخې راسره لولي، له دې سره ښه بلد دي چې د دې ليکنې د پوستې کولو په نتيجه کې زه د خپلو مسلمان ملګرو له طرف نه له سختو نيوکو او مخالفتونو سره مخ کيږم. دا مخالفت په عامه توګه کنځلې، د تشدد اخطارونه او څه نورې يې په شخصي ميسيج کې د ناوړه خبرو شکل نيسي. څه موده وړاندې يو مسلمان په ډېر ښه انداز سره زما پر پوستونو تبصيرې کول پيل کړل، چې په عمومي توګه يې مسلمانان نه کوي. په لومړيو کې هغه هم شخصي ميسيج راواستوو چې زه تاسره خبرې کول غواړمه. ماته داسې په لسګونو ميسيجونه هره ورځ راځي چيرته چې په بد حالت کې بند مسلمانان ملګري پخپلې بيچارګی باندې ژاړي، چې په هر څه د پوهيدنې برسيره هم خپل ځان مسلمان ښودلو باندې مجبوره دي. نو ما اسويلي ووېسته او ورته مې وويل هر څه چې پوښتې، وپوښته زه درته حاضر يم. هغه صيب وويل چې زه له شيعه مسلک سره تعلق لرم، او د هغه په خيال کې ماته د اسلام ترک کولو نه وړاندې د فقه جعفريه مطالعه کول ضروري وو. ما ورته وويل چې ما شيعه مذهب هم لوستی ده خو هغه بيا هم اميدواره وو چې هغه ما قانع کولئ شي. او هغه په کمينټونو کې بار بار له ماسره بحث وکړ او زما همفکره ملګرو سره هم. هغه کوښښ کوو چې ما د خدائ په وجود قانع کړي. هغه د نورو مذهبيانو په شان بار بار په تکراري خبرو زمونږ د قانع کولو کوښښ وکړ. زما ملګرو هم هغه ته بار بار وويلي چې که خبره کول وي نو په دليل سره يې وکړه خو هغه په خپلې طريقې باندې ايمان راوړئ وو. يو وخت داسې راغئ چې هغه زما ملګري چې ماته به يې له داسې بيکاره بحثونو د منع کولو مشورې راکولې، خفه شول او دا صيب هم ترخې ته واوښت. نن داسې وشول چې د دې صيب ميسيج راغئ چې زه تاسره څه خبرې کول غواړمه. ما ورته وويل چې د پوستې په کمينټ کې دې خپله پوښتنه وليکې. هغه په کمينټونو کې هم شايد پوښتنه کړې وي خو ما تر دې دمه نه وه ليدلې. خو هغه يوه پوښتنه په شخصي پيغام کې راوليږله، نو ماته مې د خپل ماشومتوب يوه کيسه راياده شوه. نو فکر مې وکړ چې د راتلونکي برخې موضوع به په همدې جوړه کړم. دې پوښتنې سره زه د څيرنې په وخت کې هم مخ شوئ يم نن مې بيا وړاندې ده ...... خير اوس د هغه ميسيج ولولئ بيا به په دې خبرې وکړ .هغه وايئ :
19:44 Ali Raza Shoro Hazrat Ali a,s se kisi ny pocha k kon se janwar bache dete hen or kon se ande dete hen? To Hazrat Ali a,s ne farmaya jin k kan bahir hen wo bache dete hen ur jis k andar hen wo eggs, mujhe bataen ap log science ki bat karte hena to uswaqat sciense to nahi thi na itni to Hazrat Ali a,s ko ye kese pata chala? Aj tak yehi bath hai or yehi such hai apki science bi esy bat ko manti hai jo Hazrat Ali a,s ne 1400 sal pehly kahi thi, to kese pata chala Hazrat Ali a,s ko? کومye jis hasti ne unko bataya wo hai khuda. Jawab zarur de jeaga aaen shaen mat mareaga.
ملګري چې له اردو سره مشکل لري هغوئ ته دا ميسيج په پښتو کې ليکم :له حضرت علي عليه السلام نه يو چا پوښتنه وکړه چې کوم حيوانات بچې زيږوي او کوم حيوانات هګۍ اچوي؟ نو حضرت علي عليه السلام وفرمايل چې د کومو حيواناتو چې غوږونه بيرون وي هغه بچې زيږوي او د کومو چې غوږونه دننه دي هغه هګۍ اچوي. ماته ووايا تاسو د سائينس خبرې کوئ کنه؟ هغه وخت خو سائينس نه وو کنه دومره؟ تر نن ورځې دا خبره ده او همدا ريښتيا دي. ستاسو

سائينس هم همدا خبره مني کومه چې حضرت علي عليه السلام له نن نه ۱۴۰۰ کاله وړاندې کړې وه، نو دا حضرت علي عليه السلام ته څنګه معلومه شوه؟ دا چې کومې هستۍ حضرت علي عليه السلام ته ويلي دي هغه ده خدائ. ځواب ضرور راکړې .شايد هغه وخت ما په دويم يا دريم صنف کې زده کړې کولې چې ما د اسلاميات په کتاب کې ولوستل چې پيغمبر اسلام خپل ځان د علم ښار او علي يې د هغه دروازه بللې وه. يو وړوکې ماشوم ته په داسې استعارې پوهيدل ګرانه دي، همدې وجې نه کور ته په رسيدو سره سم مې له مور نه پوښتنه وکړه چې د علم ښار د دروازې مطلب څه ده؟ نو هغې د استعارې په تيارو کې ويلو نه بغير يې په ساده ټکو کې زما د پوهولو کوښښ وکړ. هغې ماته همدا خبره وکړه چې حضرت علي د نړۍ ترټولو غټ عالم تير شوئ ده. هغې ماته وويل چې الله پاک حضرت علي د نړۍ له ټولو علومو بډايي کړئ وو او د شته نړۍ ترپايه به د هغه په شان صاحب علم پيدا نشي .ما د مور دا خبره ومنله چې حضرت علي يو ډير غټ عالم وو او له همدې اعتقاد سره ځوان شوم. کله چې زه لس کلن ووم نو زما شوق راغئ چې د کبانو لپاره يو حوض جوړ کړم. ما ماهي حوض جوړ کړ او د هغه لپاره مې په خصوصي توګه په پنډۍ کې رنګا رنګ ماهيان واخيستل او کور ته مې راوړل. يو دوه ورځې وروسته د مکتب له رخصتۍ نه وروسته په خوښۍ سره د ماهيانو د ليدو لپاره کيناستم نو څه ګورم چې په کوم حوض کې چې ما دوه ورځې وړاندې اته ماهيان ايښي وو هلته اوس لس پنځلس نور واړه واړه بچيان هم موجود دي ....... ياخدايا! دا بچيان له کومې راغلل؟ فکر مې وکړ چې رازه معلومه کړم چې د ماهيانو هګۍ څو ورځو کې پخيږي ..... بس کې کيناستم او په پنډۍ کې هماغه د ماهيانو دکان ته مې ځان ورسوو . خو کله مې چې معلومات وکړل او له دکان نه رابهر شوم نو ځمکه راباندې تاؤ شوه. راته معلومه شوه چې کوم ماهيان چې ما راوړي دي هغه هګۍ نه بچي اچوي ....... يا خدايا دا څنګه کيدئ شي؟ د ماهيانو غوړونه خو بيرون نه وي؟ زما مور چې په ډيرې خوارۍ سره د حضرت علي د علميت کوم بت چې زما په زړه کې اودرولئ وو هغه پرمخې راوولويده ...... هغه وخت پورې زه د مذهب په باره کې د پلټنې کولو په لومړنيو مرحلو کې ووم کله به مې څه فکر کوو او کله څه د کوم ماهي چې زه يادونه کووم هغه ته ګپي ويل کيږي ....... وروسته مې چې تحقيق او پلټنې وکړې نو داسې داسې حيرانونکې خبرې مې تر غوږونو شوې ......مثلاً دا چې داسې حيوانات هم شته چې هګۍ هم اچولئ شي او بچي هم مثلاً (ايفډز) داسې حيوانات هم شته چې هم ماده وي او نر هم ...... ځينې داسې هم شته چې خپل جنس بدلولئ شي !......... ځينې مسلمانان د حضرت علي په اړه دغه اثر د ايمان په شانتې ګران ساتي، خو کله د دې ګستاخي کولو باندې فکر هم نه کوي چې رازه معلومه به يې کړو ... دا خو يوه داسې خبره ده چې په اتفاق سره ماته معلومه شوه، خو که داسې شوي هم نه وائې نو هتمن به مې په دې اړه پلټنه کوله ترڅو بيخ ته يې رسيدلئ وائ ..... اوس که دا خبرې د علم دروازې ته معلومې وائ نو ضرور به يې ويلې .... شورو صيب زه افسوس کووم چې ستا ديني عقايدو ته داسې زيان رسوم خو څه وکړم، ريښتيا همداسې دي....... د حضرت علي دا دعوه ستا په قول چې د الله د وجود ثبوت ده بلکل غلطه ده. ...... د حضرت علي په اړه د پيغمبر اسلام دا فرمان چې زه د علم ښار او علي د هغه دروازه ده بلکل داسې مشکوکه ده لکه څنګه چې د هغه نورې دعوې وې..... خبره د حضرت علي کيدله نو په تلو تلو کې د هغه يو بل فرمان ستاسو په خدمت کې وړاندې کووم. د دې فرمان په لوستلو سره زما مخ تک سور شوئ وو او ما به فکر کوو چې که زه په هغه زمانه کې موجود وائ نو شايد چې د اسلام له راتګ نه وروسته تر ډيرو ورځو ژوندۍ پاتې شوئ نه ووم ..... حضرت علي پخپل کتاب نهج البلاغه کې (چې د اهل تشيع په نزد د قران هومره مقام لري) فرمايي چې که کومه ښځه تاسو ته مشوره درکړي نو که هغه ځومره ښه هم وي، هغه هيڅکله مه منه، ځکه چې که تاسې نن د هغې ښه مشوره ومنله نو هغه به سبا د بدې مشورې په درکولو سره اصرار کوي چې اوس دا هم ومنه .....د ښځو باره کې داسې پوچ خولي او سپک الفاظ دې پيغمبرانو او د هغوئ خپلوانو ته مبارک وي زه له داسې عقيدې لرې اوسيدل غوره ګڼم.

**دولسمه برخه:**

دغه نوټ مې په روانه کې ليکلئ ده دا يوازې زما ډونګيدل وګڼئ او وئ لولئ!.......

ماته خو په سمه توګه ياد نه دي، خو عمر به مې له اته يا لس کالونو څخه زيات نه وو، چې ماته په لومړي ځل معلومه شوه چې که کوم مسلمان خپل مذهب پريږدي نو د هغه د قتل کولو حکم شوئ ده. زما لپاره دغه خيال د حيرانتيا باعث وو چې ايا کوم مسلمان خپل مذهب هم پريښودلئ شي. دا څنګه ممکنه ده چې کوم کس دې يو خدائ او د هغه ريښتيونئ دين پريږدي. د شيطان په شيطاني باندې زما حيرانتيا پخپل ځائ موجوده هم وه خو بيا هم ذهن مې دې خبرې منلو ته تيار نه وو چې ايا اسلام هم څوک ترک کولئ شي. کوم ځائ کې چې زما پيدايښت شوئ وو او چيرته مې چې د ژوند ابتدايي برخه تيره کړې وه، هلته د کوم غيرې مسلمان تګ راتګ خو هيڅ نه وو بلکه زما په ياد دي چې ما شايد په نولس شل کلنۍ کې انګلستان ته په راتګ سره په لومړي ځل کوم سيک يا هندو ليدلئ وو، عيسوي او يهودي خو ډيره لرې خبره وه. په داسې وخت کې دا فکر

کول چي څوک اسلام هم پرېښودلئ شي زما لپاره منل ډېره ستونزمنه وه. نو د هغي سزا شدت زه هغه وخت ډېر پرېشانه کړئ نه ووم. هغه وخت زما لپاره د هغه کس سر قلم کول کوم چي اسلام پرېږدي د قبول وړ وه.

زما ښه په ياد دي په لومړي ځل چي ماته د )رنګيلا رسول(، راجپال او د علم دين کيسي د لوستلو لپاره په لاس راغلي، نو ماته خو په کتاب کي کومه داسي دلچسپي محسوس نشوه ، نه د راجپال په مړيني باندې راته کوم قسم افسوس راغئ، خو د علم دين په خوش قسمتي باندې د سيالئ جذبه مي اوس هم ياده ده. ويل کېږي چي يو چا د پيغمبر اسلام د جنسي ژوند په واقعاتو يو کتاب د رنګيلا رسول په نوم وليکه چي په لاهور کي راجپال پبلشر چاپ او بازار ته وړاندې کړ. مسلمانانو د دې کتاب په چاپ باندې ډېره سخته غندنه وکړه او معامله محکمي ته ورسيدله. راجپال په عدالت کي د ليکوال د هويت څرګندولو څخه معذرت وغوښت، خو په دفاع کي يي داسي وويل چي په دې کتاب کي ليکل شوې ټولي کيسي پخپله د مسلمانانو په لاس ليکل شوی د اسلام له تاريخ نه نقل شوې دي، ليکوال د خپل ځان له لورې هيڅ څه هم نه دي پکې ليکلي. جج صيب د ده دفاع قبول کولو سره راجپال خوشی کړ خو کله چي يو نيم لوستي ځوان علم دين په دې اړه واوريدل نو د نورو عام مسلمانانو په شانتي يي وينه رابيداره شوه، او راجپال يي پخپل دکان کي د چاکو په وار سره قتل کړ. وروسته بيا علم دين ته د اعدام سزا واؤرول شوه، چي بيا هغه په دې باندې مرسته وغوښته او موسس پاکستان محمد علي جناح د هغه د وکيل د صفايي په طور باندې شل زره (بلکه شايد پنځه ويشت) د هغه دور پيسي په وصول کولو سره وړاندې شول .جناح صيب د هغه په صفايي کولو سره محکمي ته وويل چي د ده مذهب ته په سپک کتلو سره د هغه مذهبي جذبي په راپاريدو سره داسي کړي دي، نو له دې امله دې د ده سزا له اعدام نه د عمر بند سزا ته واړول شي .

محکمي دا دريځ قبول نکړ او علم دين اخر هم اعدام شو. په کومه زمانه کي چي ما د علم دين کيسه ولوستله، نو زه هم د هغه په قسمت باندی ډېر وسوځيدلم، چي دې ځوان ته خدائ څه يوه موقع په لاس ورکړه چي هغه د الله د پيغمبر ګستاخ په دوزخ ته رسولو خپل ځان د جنت حقدار کړ. زما دا کيفيت يقيناً د هغه تربيت نتيجه وه چي ماته په ماشومتوب کي راکړل شوئ وو خو وروسته چي بيا د سوچ کولو قابل شوم نو ماته احساس وشو چي يو څوک د هغه د خيالاتو په بنياد وژل يو غيري انساني کار ده . که چا د الله او يا د هغه د پيغمبر په شان کي ګستاخي کړې وي نو الله پخپله هم هغه ته سزا ورکولئ شي. ولي داسي ده چي په اسلامي تاريخ کي هيڅ کوم ګستاخ يا کافر ته الله پخپله سزا نه ده ورکړې بلکه له هميش نه د کوم جنوني مسلمان په لاسونو قتل شوي دي. کوم خدائ چي په انسانانو کي روح پوک وهي او هغه ته ژوند ورکوي هغه د خپلو ګستاخانو او د پيغمبر د دښمنانو ژوند ولي نشي ختم کولئ؟ څه وجه ده چي تر نن ورځي پورې الله ته په داسي معاملو کي د خپلو بندګانو د مرستي ضرورت پيښيږي؟ ........؟؟؟

کله چي ما مکتب ويلي نو زما خيال وو چي د پيغمبر اسلام نه بهترين انسان به نړۍ هيڅکله نه وي ليدلئ او نه به يي په ائينده کي وګوري. د مکتب په کتابونو کي د هغي بوډۍ کيسه موجوده وه کومي چي په محمد باندې به يي خځلي اچولي. کله چي يوه ورځ هغي خځلي پرې وانه چولي، نو د هغي د خيريت پوښتني لپاره محمد د هغي کور ته ورغی او هغي ايمان راوړ. په کتابونو کي دا کيسه هم وه چي يو يتيم ماشوم د اختر په ورځ په لاره کي ولاړ وو چي پيغمبر اسلام هغه خپل کور ته راوستو هغه ته يي جامي ور واغوستي، او د خوراک لپاره يي هم څه ورکړل او هغه ته يي وويل چي له نن نه وروسته محمد ستا پلار او خديجه ستا مور ده. له داسي هستي سره به څوک مينه نه کوي، چي په دومره اندازه شفيق او زړه سواندئ وي، چاسره چي د غريبانو او لاچارو په دومره اندازه احساس وي. په کتاب کي دا هم ليکل شوي وو چي کله د طايف خلکو محمد په کاڼو ويشتلو ويشتلو په وينو سور کړ، نو الله غوښتنه وکړه چي زه به دغه خلک په ټوټي ټوټي کولو سره وو وژنم خو محمد انکار وکړ. دا د پيغمبر اسلام يوه داسي څيره وه چي په ليدو يي زه هم ليونی ووم. او دا تمنا به مي کوله چي خدائ کومه ورځ ما هم د اسلام په لاره کي وو ازمايي. خو کله مي چي د هوښ سترګي خلاصي شوې نو راته معلومه شوه چي د پيغمبر د ذات يو بل اړخ هم وو د کومو يادونه چي په درسي کتابونو کي نشته. خو پخپله د مسلمانانو په لاس ليکل شويو اسلامي تاريخونو کي له هميش نه موجود ده. دا د يو داسي پيغمبر داستان ده کله چي کمزورئ او يوازې وي نو له خلکو سره په نرمئ، اخلاقو او ميني سره مخ کيږي. د هغوئ د ترخو خبرو ځواب هم په نرمئ سره ورکوي. څوک چي ورسره بد وکړي نو دا ورته دعا کوي خو کله چي همدغه پيغمبر دنياوي طاقت ترلاسه کوي نو خپلو مرستيالانو ته حکم کوي چي که چا هم له رسول الله سره څه بد وکړل نو د هغه ژبه دې پرې کړلئ شي.

خپلو پيروانو ته حکم کوي چي تاسو نشئ مسلمان کيدلئ که تاسو زما په خاطر خپل مور پلار، ورونه، خويندې او د اولادونه پرېښودلو ته تيار نه شوئ. دغه پيغمبر دوه کسان کومو چي يو د مسلمان په وژلو سره د هغه اوښ غلا کړئ وو، د هغوئ لاسونو او پښي يي پرې کړې او په سختي ګرمئ کي يي د بيديا په شګو کي د مړه کيدلو لپاره پرېښودل. دغه پيغمبر د

يهودانو د سردار كعب بن اشرف باره کې خپلو مرستيالانو ته حكم كوي چې په تاسو کې به هغه څوک وي چې د هغه کټ شوئ سر دلته راوړي او خپل پيغمبر خوشاله كړي. دغه پيغمبر د يوې قبيلې ټول نران حلال كړي دي او د هغوئ د سردار له ښځې سره نكاح كوي او په همدغه شپه پخپله د خپل مذهب د احكاماتو خلاف له هغې سره شپه تيروي. ماته معلومه شوه چې د پيغمبر اسلام په حكم سره د اسما بنت مروان قتل په داسې حال کې وشو چې هغه له خپلو پنځو ماشومانو سره بيده وه او د هغې يو پې خوړونكې ماشوم د هغې تي ته پروت وو. اسما بنت مروان يې د هغې د پنځو وړو وړو ماشومانو په شتون کې د رسول الله په امر سره حلاله كړه. د هغې گناه څه وه؟ د هغې گناه دا وه چې هغې د ابو افک نامي يو شاعر په وژنې باندې (كوم يې چې په همدغه تور وژلئ وو چې هغه به د خدائ د رسول په خلاف نظمونه ليكل) يو نظم ليكلئ وو. په دغه نظم کې اسما بنت مروان د مدينې خلک ملامت بللي وو چې هغوئ د خپلې قبيلې نه د بيرون يو كس سرداري منلې ده. داسې بيشميره داستانونه د سيرت النبي په څو كتابونو کې شته دي، كوم چې پخپله د مسلمانانو په لاس ليكل شوي دي.

كله چې زه د سوچ او پوهيدنې قابل شوم، نو زما په زړه کې د پيغمبر په دې كارونو په باره کې د ناخوښې جذبات پيدا شول. ما فكر وكړ چې كه يو داسې پيغمبر كوم چې خدائ يې د ټول عالم لپاره رحمت گڼي له خلكو سره داسې رويه كولئ شي نو د خدائ نور غوښتونكي به څنگه وي. خبره له كوم ځائ نه چيرته لاړله. خبره مې كوله د اسلام پريښودونكو لپاره د مرگ سزا. پيغمبر اسلام ښه په وضاحت سره فرمايلي دي چې كوم مسلمان چې اسلام ترک كړي هغه قتل كړئ. په تاريخ کې مونږ ته داسې په زرگونو مثالونه پيدا كيږي چيرته چې يې خلک په دې جرم کې قتل كړي دي. ما د دې سزا په حوالې سره د مسلمانانو اكثريت موافق ليدلي دي. ښكاري داسې چې په اسلام کې د سوچ كولو اجازه نشته. كه تاسو سوچ كوئ نو پوښتنه وكړئ او كه پوښتنه كوئ نو مرتد به بلل كيږئ او كوم نه كوم مسلمان به له تاسو د جنت ټكټ جوړوي او سر به مو له تن نه جدا كوي. كله چې ما د دې پوښتنې ځواب پيدا كولو كوښښ كوو، نو د هميش په شانتې له هيڅ چاسره د دې داسې تسلي بخش ځواب نه وو. يو ځواب البته داسې وو چې له تاسو سره يې شريک كول غواړمه. يو عالم دين وفرمايل چې د اسلام پريښودلو په صورت کې د قتل كولو حكم نه شاته د الله تبارک وتعالى حكمت دا ده چې مسلمانان د يو پوځ په شانتې دي، څنگه چې له پوځ نه د كوم عسكر په تښتيدلو په صورت کې له هغه سره سخت اقدام كيږي، همداسې د ملت اسلاميه پريښودلو والا هم غدار گڼل كيږي او د غدار سزا هميشه مرگ ده. كوم صيب چې دا مثال وړاندې كړ هغه د پاكستان يو مشهور او پيژندونكې عالم ده. د هغه په ځواب کې كه فكر وكړلئ شي نو معلوميږي چې د هغه په نزد اسلام په اصل کې د يو پوځ نوم ده كوم چې خدائ دنيا ته د خدائ د سانتې لپاره راليږلئ ده.

دغه پوځ په محنت كولو سره انفرادي قوت او طاقت جمع كوي، ځكه چې د دې قابل شي چې نړۍ د طاقت په زور د اسلام په دايره کې داخله كړي. اسلام ته د دې ضرورت ولې ده؟ ايا مسلمانانو ته د خپل مذهب په حقانيت اعتبار نشته؟ كه كوم كس اسلام پريږدي نو له دې نه خدائ او د هغه د پيغمبر په ميليونو پيروانو ته څه تاوان رسيږي؟ بيا دا چې كه چا د خپل عقل او پوهې په مطابق دا نتيجه راوباسلې ده چې اسلام د هغه له طبيعت سره نه ښايي د هغه ميلان د كوم بل مذهب په لورې ده يا هغه ټول مذهبونه يو شانتې گڼي، هغه نو خدائ او مذهب دپاره څه مشكل جوړولئ شي؟ چيرته داسې خو نه ده چې مذهبونو يا بلخصوص اسلام ته دا ويره ده چې هغه خلک چې د دوئ له گرفت نه ووځي، د هغه په ليدو ليدو نورو خلكو ته هم د سوچ او فكر كولو موقع په لاس ورځي؟ چيرته داسې خو نه ده چې د اسلام په نظر کې د مذهب پريښودونكي قتلول ضروري دي ځكه چې خپل هم مذهبه خلک په زړه کې داسې فكر كولو نه لرې وساتل شي؟ هغوئ دې د يو ډار له سيوري لاندې وساتل شي چې د تل لپاره د دوئ د ډلې غړۍ واوسي. په هر صورت كه دوئ په زړه کې د اسلام حقانيت ته قايل وي يا نه وي خو د منافقانو په شانتې دې لمونځ روژه وكړي، او همدا ووښيي چې هغه يو ريښتيونۍ مومن ده كه څه هم زړه کې يې بل څه وي؟

زما په زړه کې يو خيال راغئ چې ايا داسې خو به نه وي چې دا هم د خلكو زړونه او ذهنونه په يوه دايره کې د قابو ساتنې لپاره دي؟ د دې ټولو پوښتنو په رڼا کې ما دا نتيجه راوباسلې ده چې خلک د مذهب بدلولو نه د طاقت په زور د اودرولو كوښښ كول بلكل هماغسې رويه ده، څنگه چې اهل قريشو پيغمبر اسلام د دعوت په ځواب کې اختيار كړې وه. او د دې رويې بنياد خو ټولو ته معلوم ده .قريشو ته ډار وو چې كه خلک د دوئ جوړ كړل شوي مذهب په پريښودو سره اسلام قبول كړي نو په خلكو به د دوئ كنترول په خطر کې پريوځي. نن لكه څنگه چې د اسلام او د هغه لمسون څخه د ملايانو او مذهبي ټيكدارانو په خلكو كنترول قايم ده. دوئ به هيڅكله دا ونه غواړي چې خلک دې اسلام پريږدي .

د مذهب په بدلولو سره څوک قتل كول يو سپک عمل ده كوم ته چې په نننۍ پرمختللي زمانه کې هيڅ گنجايش نشته. همداسې څوک په دې بنياد قتل كول يا ورته نقصان رسول چې د ده خيالات ستا له خيالاتو نه بدل دي، دا هم يو جاهلانه فعل ده .

مسلمانان شپه ورځ دا ډول هم وهي چې د اسلام مطلب سلامتي ده او دا د سولې مذهب ده، خو خپلو توندو کړو وړو باندې غور کولو ته اماده نه دي. کوم سړی د حديثونو په کتابونو کې د موجوده ليکل شويو کيسو ته د يو (ډير په بد کيفيت سره) فلم شکل ورکوي، نو د نيل له غاړې څخه تر طرابلس پورې د اور لمبې لګيدل پيليږي. بيګنا غيری مسلمانانو ته د امريکا يو کمعقل فلمساز په وجه سزاګاني ورکوي څوک ژوندي سوځول کيږي، او له چا نه سرونه کټ کيږي، ولې؟ لومړی خبره خو دا چې څوک دا حق نلري چې د چا خله دې د طاقت په زور بنده کړي او که دا حق وئ هم، نو په امريکا کې اوسيدونکئ د کوم احمق کار په سزا باندې په ليبيا کې د امريکا سفير په داسې وحشي توګه وژل يوازې د کومې جاهلې ډلې کار کيدلئ شي .

که تاسو دومره پوهيږئ چې د يو ناديده خدائ پر نوم باندې د قتل او خونکارئ اجازه هر يو مذهب د نن سبا په زمانه کې ترلاسه کولائ شي، نو بيا فکر وکړئ. د مسلمانانو په خلاف کوم نفرت چې تاسو د اسلام په خلاف دسيسه تعبيروئ هغه ستاسو خپله کرل شوې ونه وه. په دې خبره کې کوم شک نشته چې د مسلمانانو اکثريت يو سولييز ژوند تيرول غواړي، خو کوم مسلمانان چې د نړيوالو ټلويزيوني چينلو په خبرونو کې د خلکو وژل، تعميرونه په اور سوځول او چور و چپاول کولو باندې ښکاري، د نړيوالو په نزد د د اسلام اصل څيره همدغه ده ..... نړئ مسلمانان له همدغه تعارف څخه پيژني. که معتدله مسلمانانو سره د خپل تصوير فکر وي نو په خپل مذهب کې دې له سره کتنه وکړي او داسې ظالمانه قوانين او احمقانه احکامات دې چې له ننني زماني سره سمون نه خوري، له اسلام نه دې د ويستلو کوښښ وکړي، که نه نو د اسلام راتلونکی به څه روښانه نه وي.



**ديارلسمه برخه:**

د دې نوټ ليکني خو يوه ګټه دا هم شوه چې له ډيرو همفکره ملګرو سره مې ليدنه وشوه. په دوئ کې ځيني داسې دي چې د وسوسو او خفګانونو له منزل نه په تيريدو سره يې خپل ځوابونه موندلي دي، خو ځيني دوستان داسې هم شته کوم چې اوس هم خپلو پوښتنو ته د ځوابونو پيدا کولو په لټه کې دي. زما انباکس ته هره ورځ څلور يا شپږ داسې پيغامونه ضرور راځي، په کومو کې چې د ځينو پوښتنو ځوابونه غوښتل کيږي. په ځينو کې د ځوابونو تصويب کولو خواهش کيږي. ځيني پوښتني بيا داسې دي چې زما په ذهن کې هم کله نه دي راغلي.

نن زه هم په يوې داسې پوښتنې خبرې کول غواړمه، کومه چې يو دوست مې ډيره پخوا راته راليږلې وه خو ماته د هغه ځوابولو لپاره وخت پيدا شوئ نه وو. يوه بله خبره چې وضاحت کول يې ضروري دي هغه دا چې زه خو نه کوم فلسفي يم، نه کوم تاريخ پوه يم، نه مذهبي عالم او نه هم کوم سائينسدان. زه هم ستاسو د ټولو مسلمانانو په شانتې يو عام غوندې مسلمان ووم چې د زړه له تله به مې د خپل مذهب عزت کوو او په زړه کې به مې دا خواهش وو چې په نړئ کې ټول مسلمانان يو باعزته مقام ترلاسه کړي. ما خو کله د نسيم حجازي غوندې د کمعقل اسلامي اتل خوبونه نه دي ليدلي، خو د علامه اقبال

شعرونه ...... متاع بے بہا ہے درد و سوز ارزومندی..... مقام بندگی دے کرنہ لوں شان خداوندی ....په ویلو سره به متاثره کیدم او خوښیده مې. د اقبال همدغه شعر ماته ترټولو ډیر زړه راښکونکئ وو...
ترے آزاد بندوں کی نہ یہ دنیا نہ وہ دنیا
یہاں مرنے کی پابندی وہاں جینے کی پابندی

د دې وجه به یقیناً همدغه وه چې زما ذهن غیر مناسبه بندیزونه هیڅ نه خوښول. خیر دا جملې هسې یادې شوې اوس خپل مقصد ته راځم. زما دوست پوښتلي دي چې اسلامي سپارښتنې په کوم کې چې لمونځ، روژه، حج او ورسره رنګا رنګې دعاګانې، حکمونه، د لمانځه طریقه، د لمانځونو رکاتونه وغیره یو نالوستئ کس یې څنګه کولئ شي. هغه پوښتلي چې زما په نزد د دې تشریح څه ده؟

په دې کې ترټولو مهمه خبره دا چې پیغمبر اسلام هم نالوستی وو. د اسلامي تاریخ زیاتره روایتونه د دې خبرې تصدیق کوي چې حضرت محمد نالوستئ وو. کله چې پر هغه لومړنی وحي نازله شوه نو جبرایل ورته وویل "اقرا" یعني "ولوله" ... د دې په ځواب کې پیغمبر اسلام وویل چې زه لوستل نشم کولئ. فرښتو بار بار په دې خبره ټینګار وکړ وغیره وغیره .... له دې مخکې چې مونږ وړاندې لاړ شو، یوه پوښتنه همدلته پیدا کیږي چې اشاره ورته کول ضروري دي او زه یې هم تر ډیرې مودې په تشویش کې اچولئ ووم. هغه دا چې که الله پاک د پیغمبر اسلام په خاطر دا نړۍ تخلیق کړه، هغه یې نیک او سپیڅلی جوړ کړ، ترڅو هغه ته د اخري پیغمبر درجه ورکړل شي او هغه یې خپل معشوق وټاکه. نو څه وجه ده چې جبرایل یې راولیږه خو دومره یې ورته ونه ویل چې هغه نالوستی ده. جبراییل خو داسې هم ورته ویلئ شول چې په ماپسې یې تکراروه خو هغه خو ټینګار وکړ چې محمد صیب ولوله (ولې؟ (ایا الله ته معلومه نه وه چې محمد نالوستی ده؟ یا الله ته خو معلومه وه خو جبرایل ته معلومه نه وه . د الله د ذات په لوړې داسې په بنیادي ډول غفلت د هر یو مسلمان لپاره د یوې خطرناکې پوښتنې حیثیت لري، او زما لپاره هم وو. په پایځ کې دغه ایاتونه د الله اخري او مکمل کتاب برخې جوړې شوې. بیا یو نالوستی پیغمبر داسې مخاطب کول څه معنی؟ په هر صورت وړاندې ځو .... یوه خبره چې د نوټ کولو ده هغه دا ده چې د اسلام مذهب په یوه ورځ کې نه ده نازل شوئ. بلکه د قران نزول کوم دیرش کاله وخت ونیوو چې وخت نا وخت به ایاتونه نازلیدل. همداسې د اسلام نور احکامات هم په یوې اوږدې مودې کې رامینځته شوي دي. د تاریخ له مطالعې څخه معلومیږي چې ډیری احکامات د بیرنې ضرورت په مطابق جاري شوي دي. ما په تیرو برخو کې د تیمم د ایت کیسه بیان کړې ده. د زنا په جرم کې د څلورو کسانو د ګواهې ایات هم د همداسې بیرنې ضرورت یو مهمه مثال ده. په تاریخ کې راځې کله چې پیغمبر اسلام مدیني منورې ته هجرت وکړ نو هغه ته د عاشور د ورځې معلومات وشول کوم چې د یهودیانو رواج وو، او هغه هم خپلو پیروانو ته د دوئ په سیالی کې د ورځ په عاشور باندې د روژې نیولو حکم جاري کړ (چې بیا وروسته د لومړۍ وحې نه کوم اولس کاله وروسته د روژې په راتګ سره یې منسوخ کړ. (

که د شرابو د ممانعت حکم وي یا متعه (عارضي واده) وي. د اسلام احکامات په یوې اوږدې مودې کې په وقفې وقفې سره نازلیدل. څرګنده ده چې په دې دومره مودې کې به له پیغمبر اسلام سره د نویو احکاماتو د تجویز لپاره او نوي قوانین وضع کولو لپاره ډیر وخت وو. د هغه د ژوند محور د خپل مذهب پیلول او تبلیغ وو همدې وجې نه د ده د ژوند ډیره برخه په همدې مذهب کې نوي نوي احکامات داخلولو او په قوانینو جوړولو کې تیره شوه. د یو کس لخوا څخه دومره تفصیلي احکامات او درستوالی یوازې په هغه صورت کې د حیرانتیا باعث ګرځیدلئ شي که دا هر څه په یوه ورځ کې تیار شوي وائ. خو داسې هیڅ هم نه دي. بیا ځینې داسې احکامات هم دي کوم چې د پیغمبر له وفات نه وروسته نورې سمونې پکې راغلې، مثلاً د پیغمبر په وخت کې د زکوة جمع کولو کوم انتظام نه وو، دغه قانون حضرت ابوبکر جاري کړ. همداسې تاسو به اوریدلي وي چې حضرت عمر د سهار لمانځه په اذان کې د "الصلوة خیر من النوم " الفاظ ګډ کړل، د تراویحو لمونځ یې شروع کړ او د متعه واده کول یې حرام وبلل. حضرت عثمان په لومړي ځل قران شریف په تحریري بڼې سره یوځائې او خپور کړ وغیره وغیره.

د اسلامي تاریخ په غور سره لوستو نه وروسته به تاسو ته دا هم معلومه شي چې اسلام په ابتدا کې د مکې او د شاؤخوا سیمو خلکو ته راغلئ وو. په قران کې هم دې ته اشارې شوې دي .اسلام ته چې کومه بریا ترلاسه شوه د هغه دومره توقع محمد پخپله هم نه لرله .د پیغمبر اسلام نه وروسته د حضرت عایشې او حضرت علي ترمینځ د شوي جنګ جمل کیدل هم دې خبرې ته اشاره ده چې اسلام د پیغمبر نه وروسته هم د بدلونونو او اختلافونو نه تیر شوئ ده. حضرت محمد چې دا په کوم حالت کې پرینېی وو هغه کوم مشخص او مکمل حالت نه وو د ځینو مسلمانانو په نزد حضرت محمد نالوستی نه وو. د دوئ دې دعوې د ریښتیونولې لپاره یو مشهور حدیث هم موجود ده په کوم کې چې ویل شوي دي چې پیغمبر اسلام د مرګ په

بستره کي خپلو ملګرو ته وويل چي ماته يو کاغذ او قلم راوړئ زه تاسو ته يو داسي وصيت ليکم چي وروسته بيا ګمراهان نه شئ، خو حضرت عمر وويل چي پيغمبر ته وهم لويدلئ ده مونږ ته د کوم وصيت ضرورت نشته زمونږ لپاره قران کافي ده. حقيقت که هر څه وي ... محمد که نالوستي نه وو هم، نو په ديرش کلني مودي کي د اسلامي عبادتونو طريقه او دې ته ورته احکاماتو ته ترتيب ورکول کومه داسي لويه خبره ده هم نه چي پرې حيران شو. له وخت سره سره ځيني د ضرورت په حساب احکامات زيږيږي، د کوم چي يو غټ مثال د يوم عاشور روزه نيول دي چي وروسته بيا د هغه اوښتنه هم ده خو له دې سره تړل شوې يوه په زړه پورې کيسه د اسلام او د يهوديت ترمينځ د ګډو تعلقاتو ده.

**څوارلسمه برخه:**

ما په تيره برخه کي د پيغمبر اسلام د مديني ته د سفر په اړه يادونه کړې وه او دا مي هم ليکلي وو چي په بله برخه کي د يهوديانو او مسلمانانو د تعلقاتو باره کي به خبرې کوو.

له دې وړاندې به تاسو ته د خپل ماشومتوب يوه بله کيسه واؤروم ...... زه به هغه وخت شايد دولس ديارلس کلن ووم چي مور مي په لومړي ځل دا خبره راته وکړه چي په باغ وحش کي د کومو بيزوګانو په ليدو ليدو چي زه خوشاليږم، کيدئ شي دا يو وخت يهودي يا عيسوي پاتي شوئ وي. زه د هغي خبرې په اوريدلو سره حيران پاتي شوئ ووم کله مي چي د تفصيل پوښتنه وکړه نو هغي وويل چي په قران کي ويل شوي دي چي الله پاک په ماضي کي نافرمانه قومونو نه بيزوګان او خنزيران جوړ کړي وو !!......

دلته يوه بله په زړه پورې خبره چي زما مور لفظ خنزير هم نه استعمالوو. دې لپاره هغي د پنجابی ژبي يو بل لفظ (باهر لا) مخصوص ساتلئ وو، د کوم چي لغوي معني "بيرون والا " ده. د دې وجه هغي دا ويله چي خنزير دومره مردار او چټل حيوان ده چي يوازې د هغه نوم په اخيستو سره ژبه تر څلويښت ورځو پورې ناپاکه وي. ولې ناپاک ده؟ که دومره مردار ده نو الله پيدا کړئ ولې وو؟ ايا له يهوديانو او عيسويانو نه بيزوګان او خنزيران جوړولو نه وړاندې بيزوګان او خنزيران نه وو؟ او دلته په باغ وحش کي کوم شل مختلف قسمه بيزوګان دي، په دغو کي کوم ډول يې سابقه عيسوي يا يهودي وو په دې زما مور چپ پاتي وه. هغي دا خو ويل چي د هغه نافرمانو به د شنبې په ورځ کبان نيول وو که څه هم د شنبې ورځ خو يې مقدس ګرځولې وه او په دې ورځ کبان نيول منع وو خو يوه پوښتنه د دې له پوهي څخه وتلې وه چي که الله يهوديانو ته ويلي وو چي د شنبې ورځ مقدسه ده، نو عيسويانو ته يکشنبه او مسلمانانو ته يې د جمعي ورځي باره کي ولي داسي خبره وکړه؟ ايا له پيغمبرانو سره سره د الله جوړې کړل شوې مقدسي ورځي هم بدليدلي؟

همداسي په نه پوهيدونکو کيسو کي زما ماشومتوب تير شو. دا شوق به مي هميش په زړه کي وو چي يو ښه سړی جوړ شم. او د ښه سړي عادتونه په ځان کي راوستلو مي ډير کوښښ کوو. کوښښ به مي کوو چي له خلکو سره په ادب کي مخامخ شم، له ضرورتمندانو سره مرسته وکړم او له بدو کارونو لاس واخلم.....

خير په دې پوهيدني وروسته چي الله له عيسويانو او يهوديانو څخه بيزوګان او خنزيران جوړ کړل، ما يوه بله عجيبه کړنه شروع کړه. خنزير ته رسيدل خو ممکن نه وو، خو که بيزو ګډونکی کوم سړی مي ليدلي وائ نو د هغه تعقيبولو سره به مي د دې بيزو په مسلسله توګه مشاهده کوله، چي شايد دا بيزو کومه داسي کړنه وکړي، له کومي چي څرګنده شي چي دا هم يو وخت په عيسوي يا يېتر بلل کيده. يو وخت مي له ملګرو سره ښکار کولو ته شوق وشو او مونږ هم د خنزير ښکار کول شروع کړل. زما په ياد دي، په يوې توره تياره شپه کي مونږ په لومړي ځل د يو خنزير ښکار وکړ، نو په مونږ کي هيڅ چا دومره همت نه لرلو چي يو څوک له نژدې دغه بيچاره وګوري. داسي ښکاريدل چي په ورنږدې کيدو سره سم به په مردارئ او ګناهونو کي لمبيږو .زمونږ په ډله کي يو تکړه هلک همت وکړ او خواته په ورتلو سره يې له خنزير نه لکی پرې کړه. کله چي واپس راغی نو هرچا د چاکو په پليت کولو ملامت کړ خو هغه وويل چي د ښکار شوي خنزير لکی که د زراعت محکمي ته يوسو، نو جايزه راکول کيږي او د جايزې په پيسو داسي څو نوي چاکوګان اخيستلئ شو.

خبره بيا له کوم ځائ نه کوم ځائ ته لاړه .... مونږ راګرځو د ظهور اسلام او د مسلمانانو له يهوديانو سره تعلقاتو ته.....

کله چي محمد بن عبدالله د پيغمبرئ دعوه وکړه، نو د عربو خلک له وړاندې څخه د پيغمبر راتلو ته منتظر وو. د دې پيغمبر نوم احمد ښودل کيده (کوم چي د مسلمانانو د دعوې له مخي د محمد معنی لري، خو د دې پوښتني هيڅ ځواب نشته چي کوم

خدایځ چې د پیغمبر رالیږلو وعده ایښې وه هغه د احمد په ځایځ ولې سم دم محمد نه ویلې) خو دا هم چیرته نه ویل کیږي چې د محمد د راتګ یادونه د یهودیانو یا عیسویانو په کوم کتاب کې شوې ده؟ خیر کله چې پیغمبر اسلام تبلیغ شروع کړ، نو هغه خپله قبله فلسطین وبلله. او لمونځ یې هم بیت المقدس ته په خلې اړولو سره ادا کوو . کله چې ما په اسلام کې د ژورې څیړنې کول شروع کړل او د دې مذهب ریښتیوني یا د دروغو په باره کې مې تحقیقات کول پیل کړل، نو زه دې خبرې ډیر په تعجب کې واچولم چې محمد پخپله په مکه کې چې خانه کعبه د ده کور ته مخامخ وه، مسلمانانو یروشلم ته په مخ کولو سره لمونځ ولې کوو؟ که حضرت محمد یې د کائینات تخلیق کولو نه وړاندې په تخلیق کولو سره هغه ته د اخري پیغمبر درجه ورکړې وه، نو یقیناً چې د اسلام دین به هم هغه وخت کې جوړ کړایځ شویځ وو، نو بیا څه وجه وه چې د نبوت دولس دیارلس کاله مسلمانانو کعبې ته په نه پام سره د یروشلم په لورې لمونځونه کول؟ الله پاک چې په قران کې په دې اړه کوم وضاحت کړیځ ده هغه په وړو او نرمو الفاظو کې هم راټولیدلیځ شي ځکه چې د هغه مفهوم څه داسې ده چې د خدایځ څه خوښه وي کوي یې ......

کله چې پیغمبر اسلام مدینې ته لاړو، نو هغه د دې سیمې خلکو سره په ګډه یو قسم وړوکې دولت رامینځته کړ او له ټولو مقامي خلکو سره یې یوه معاهده وکړه، د کومې له مخې چې ټول د یو او بل د مال محافظان وو. په دې معاهده کې یهودیان هم د امت برخه بلل شوي وو. کله چې په مدینه کې د مسلمانانو پښې مضبوطې شوې او د غزاګانو په نتیجه کې چې د دویځ سره د مال و دولت او پوځي طاقت پریماني شوه نو ورو ورو یې له مدینې څخه د یهودیانو ویستل شروع کړل. په مکه کې هغه وخت د یهودو درې قبایل وو بنو قینقاع، بنو نضیر او بنو قریظه .... مدینې ته له راتګ څخه وروسته مسلمانانو څه لږې موده کې په بنو قینقاع او بنو نضیر تورونو لګولو سره له مدینې وویستل او د هغویځ په ځمکو او جایدادونو یې خیټه واچوله. له جنګ خندق نه وروسته د بنو قریظه نوبت وو په کوم چې تور ولګول شو چې هغویځ له قریشو سره په پټه مرسته کړې ده .حال دا چې د دې هیڅ ثبوت مونږ ته په تاریخي کتابونو کې نه موندل کیږي .لنډه دا چې د خندق جنګ نه سمدستي وروسته مسلمانانو تر پنځه ویشتو ورځو پورې د بنو قریظه کورونه محاصره کړي وو او کله چې بنو قریظه پخپله خپل ځان مسلمانانو ته حواله کړ. نو د دې بدنصیبې قبیلې له شپږو تر اته سوه پورې نارینه او یوه ښځه یې د مدینې په ښار کې حلال کړل. وجه یې دا ښودلې چې هغویځ له قریشو سره ترون کړیځ وو. د فکر کولو خبره ده . که بنو قریظه په ریښتیا سره له قریش سره ترون کړیځ وو نو چا چې ترون کړیځ وو هغو ته سزا ورکول به کافي وو، خو له شپږو نه تر اته سوه خلک بازار کې قتلول ولې؟ د ابن اسحاق په وینا د بنو قریظه هغه ټول هلکان د چا چې له نامه لاندې ویښته راوتل پیل شوي وو، د دې قتل عام خوراک شول .

د دې واقعو په لوستلو چې زه کومې نتیجې ته ورسیدم هغه دا وه چې کله چې محمد د نبوت دعوه وکړه نو د هغه دا خیال وو چې د عربو جزیرې عیسویان او یهودیان به هغه د ابراهیمي سلسلې نویځ پیغمبر ومني او د ده بیعت به وکړي. او داسې په ناسته به د یو لویځ امت لاربښونکیځ شي خو کله چې د دغو مذهبونو خلکو د ده مزاحمت وکړ، نو پیغمبر اسلام خپله بله لار غوره کولو سره د یو نوي مذهب پیژندنې پریکړه وکړه. دې وخته پورې د مسلمانانو قوت دومره زیات شویځ وو چې د خپلو متو په زور د مدینې نور مذهبونه تر خپل کنترول لاندې یې راوستلیځ شول. همدا وجه ده چې د نبوت لومړني دیارلس کاله هغه د یروشلم په لورې مخ کولو سره لمونځونه وکړل، کوم چې عیسویانو او د یهودیانو دواړو لپاره یو مقدس مقام وو خو کله یې چې ولیدل چې دغه خلک د ده لورې ته نه مایل کیږي نو خپله لار یې جدا کړه، او هغه ته ناڅاپي ورپاده شوه چې د ده پخپل ښار کې هم د الله جوړ کړل شویځ تیار کور موجود ده .

که تاسو په دې پوښتنې فکر وکړیځ نو کومې نتیجې ته به ورسیږیځ؟ که خانه کعبه کوم لورې ته که مونږ پښې هم وغځوو نو ګناهګاره بلل کیږو، تر دیارلس کلونو پورې د محمد سترګو ته مخامخ موجوده وه خو هغه دا د دنیا مقدس ترینه ځایځ ونه بللو بلکه د یهودیانو او عیسویانو د ګیرولو په کوښښ کې یې یروشلم خپله قبله جوړه وه او د یروشلم په لورې به یې لمونځونو کولو سره د دویځ شاه د کعبې په لورې وه ..... خو کله چې اخر نااميدي ډیره شوه نو یوه ورځ د ماسپښین د لمانځه په دوران کې یې د سجدې لورې له یروشلم نه د مکې په طرف واړوو. ایا د نړۍ مکمل ترینه مذهب رالیږونکیځ خدایځ د قبلې په شانتې د مرکزي حیثیت ودانۍ بدلوي؟ ایا الله ته معلومه وه چې دیارلس کاله وروسته به زه دویځ د یروشلم پرځایځ مکې په طرف د مخ کولو وایم؟ داسې کوم مجبوریت وو، ایا وروسته له دې یروشلم د قبله جوړیدنې لایق پاتې شوۍ نه وو؟ ایا هغه کې کومه ستونزه راولاړه شوې وه، یا خدایځ په کعبه کې کوم ښه والیځ موندلی وو؟ لګ فکر وکړیځ.....

دې ته ورته يوه پوښتنه چې سورت المايده کې قران وائي چې عيسويان او يهوديان ستاسو دوستان نشي جوړيدلئ، په کومې بلې برخې کې به په دې اړه خبرې وکړو. که په مدينه کې لمونځ کونکئ شخص د يروشلم په لورې مخ کولو سره لمونځ وکړي، نو د هغه شا د مکې په لورې کيږي .الله دغه ظلم ديارلس کاله څنګه برداشت کړ؟؟؟؟؟




**پنځلسمه برخه:**

په ماشومتوب کې زمونږ کور ته به يو مشر بابا راتلو. ماته د هغه نوم خو معلوم نه وو خو دا راته ياد دي چې ټولو به هغه د سائی (بزرګ، پير) په نوم بللو. پير صيب به چې هر کله راتلو د کور ټول غټ واړه به د ده شاؤخوا جمع کيدل، چا به ترينه دعاګاني غوښتلې، چا به ورڅخه ديني پوښتني کولې. زه له ډير ماشومتوب نه په دې پوهيدلئ ووم چې له هغه نه کيدونکې پوښتني په سمه معنی کی پوښتني نه دي. د مثال په توګه که په ما کې دومره همت وائ يا د وړوکي ماشوم په حيثيت سره يې ماته له هميش نه د احمق خيال نه کولائي، نو ما به له هغه څخه د دنيا تخليق، د الله اوصافو، د پيغمبر اسلام د ژوند او په زړه کې د راپيدا شويو وسوسو په اړه به مې ترې پوښتني کولې. زما مشر ورور به هم ترې اکثر ګډې وډې پوښتني کولې خو د هغه پوښتني به هم داسې قسم ته وې لکه که کوم انسان چيرته په لرې پرتې سيمه کې پيدا شوئ وي او د اسلام نوم يې په ټول ژوند کې نه وي اوريدلئ او همداسې هغه پرته له مسلمانيدو مړ شي نو ايا هغه به جنت ته ځي او که دوزخ ته؟ ماته په ښه توګه ياد دي چې ورور ته مې داسې په عجيب شانتې انداز کې کتل، چې دا خو څرګنده خبره ده که چا د دينِ حق نوم هيڅ نه وي اوريدلئ نو هغه ولې دوزخ ته تللئ شي؟ خو دا بيا ماته ډيره وروسته معلومه شوه چې جنت ته د تلو لپاره کليمه شهادت ويل ضروري دي. که چا کليمه شهادت نه وي ويلې که هغه څومره هم ښه او نيک انسان ولې نه وي هيڅکله هم جنت ته نشي داخليدلئ. زما د فاميل يو مشر چې د جنون تر حده مذهبي وو مونږ ته به يې په اشاره اشاره کې دا هم ويل چې پير صيب په اصل کې انسان نه ده پيرئ ده، چې د دې مشر په وجه زمونږ کور ته ځي راځي.

زمونږ د فامیل دغه مشر د مکتبه بریلوي سره تعلق لرلو، او په دیني معاملاتو کې ډېر سخت وو. هغه زمانه کې به حج کول یوه ډېره غټه کارنامه بلل کېدله، خو دغه مشر زما له پیدایښت نه شل دیرش کله وړاندې د بحري کښتیو په مرسته عربو ته تللئ وو او څه لار یې پیاده وهلې وه او حج یې کړئ وو، همدې وجې نه د ده هره کړې خبره د کاڼي کرښه شمېرل کېده. یو ځلې زه د دغه مشر کور ته لاړم. هغه د کرنې ډېر شوقي وو او هغه په کور کې ډېرې رنګا رنګ ونې او ګلان کرلي وو. زه له دروازې نه دننه کېدم چې څه ګورم مشر حویلې ته راښکته کېږي. باغ ته یې له کوم ځائ څخه بزه راننوتي وه. څه بزه وه سیرلئ وو، د هغې قد څه د یو درمیانه سپي څخه هم کم وو. د دې مشر سترګې لکه سرې وینې داسې شوې. هغه بزه پخپلو لاسونو له شاته ټینګ څخه ونیوله او د کالي مینځونکي په شانتې یې له سر نه پورته جګولو سره درې ځلور ځلې په ځمکه ووهله . زه به هغه وخت شاید لس، یولس کلن ووم. بزه په داسې وهلو سره به یقیناً ډېره زخمي شوې وي، هغه چې په کوم انداز سره وچیغېدله او وررېدېدله د هغې بیانول ګران دي. زه د څه مودې لپاره خو بیخي بې ساه شوم. هغه بزه څو واره په ځمکې وهلو نه وروسته پرېښوده او هغه بیچاره په مې مې کولو سره ماته ګوډه له دروازې بیرون ووتله.

زه په خاموشئ کې د هغه له څنګ نه په تیریدلو سره دننه شوم. هغه مشر لکه چې ماته بیخي ونه کتل، خو ما چې څنګه د سترګو له کونجونو د هغه ځیرې ته وکتل نو له ډاره په رپږدېدا شوم. داسې په قهر وو ښکارېدل خو داسې چې هغه بزه په ژوندۍ خوشي کولو سره یې افسوس کوو . دغه پېښه مې څو ورځې په مغزو کې ناسته وه. په خوب کې به مې هم د دې بزې چیغې اورېدلې، نو زه به دغه فکر کولو ته مجبوریدلم چې د یو نیک او د یو خدائ کس زړه څنګه غواړي چې یو بې ژبې حیوان دې دومره سخت وځوروي، د کوم چې ګناه یوازې دومره وه چې هغه د خوراک په لټه کې د خلاصې دروازې له لورې د ده باغ ته داخله شوې وه ..... نن هم چې کله کوم مسلمان دوست مې په دې پوهولو کوښښ کوي چې د الله منونکو زړونه نرم او سخي وي نو ماته بې وجې هغه پېښه رایادیږي. مسلمانان ولې دومره سخت زړي دي؟ دغه پوښتنه مې اکثره وخت ځوروي .

زما په یاد دي کله چې مونږ ماشومان وو نو زمونږ مور او پلار د لوئ اختر په مراسمو کې له هغو وحشي منظرو څخه د منع کولو کوم کوښښ نه ده کړئ، په کومو کې چې بې ژبې حیوانات په بعضو صورتونو کې لس شل نفره په ګډه ځملوي، او د هغه سر په تیره چاړه ترې جدا کوي. په دغه کار کې چې کومه وینه بهیږي او په کوم ځور سره چې له حیوان څخه ساه وځي د دغه وحشیتوب اندازه ماته هغه وخت ولګیدله کله چې ما پرمختللیو هیوادونو ته سفر وکړ، او ومې لیدل چې هغوئ ماشومان په کوم ډول له دغه وحشت څخه لرې ساتي. همدا تیر کال به تاسو د پاکستاني ښار سیالکوټ د هغو دوو ځوانو ورونړو تصویرونه لیدلي وي په کومو چې یوې ډلې برید کړئ وو. چیرته چې په دغو ځوانانو یوې ډلې د کانو، خښتو، ډنډو او نېوهیږم د څه او څه باران یې پرې جوړ کړئ وو، د څو ساعتونو وحشت وروسته یې د مرګ په خوب ویده کړي وو او بیا یې د هغوئ جسدونه د برق پایې باندې راځوړند کړي وو. تاسو به څو ورځې وړاندې په سند ایالت کې د شوې پېښې انځورونه هم لیدلي وي په کوم کې چې یو نیمچه لیونی کس د پیغمبر او د الله د کتاب په مینه کې په همداسې رسوایي سره یې وژني، او بیا د هغه جسد ته اور ورته کوي. ولې داسې ده؟ ایا د دغو خلکو په زړونو کې رحم نشته؟ ایا دوئ یو څوک په داسې وحشت وژلو سره ترې سکون اخلي؟ د دې پېښو په لیدلو سره ماته ناڅاپي هغه د بنو قریظه له شپږ سوه څخه تر اته سوه (مختلفو روایتونو کې یې تعداد مختلف راغلئ ده خو له شپږ سوه څخه هیڅ ځائ کې کم نه دي) کسان راياد شي، له کومو څخه چې یې د مدینې په کوم ښار کې ښکاره سرونه کټ کړل.

ما په تیره برخه کې د یهودیانو کیسه بیان کړې وه. په هغې برخه کې مې د دې لیکلو خیال نه وو چې د تاریخ اسلام د مستندو کتابونو له مخې کله چې پیغمبر اسلام مدینې ته لاړ، نو هغه ته معلومه شوه چې یهودیان د عاشورا په ورځ روژه نیسي . له دې نه مونږ ته دا اندازه هم کیږي چې هغه له دې وړاندې له یهودو څخه ډېر باخبره نه وو. پیغمبر اسلام چې کله دا واوریدل نو هغه وویل چې موسی زمونږ هم یو غوره پیغمبر ده، نو همداسې محمد هم مسلمانانو ته د یوم عاشورا په ورځ د روژې نیولو حکم وکړ. وروسته چې کله د رمضان روژو نیولو حکم راغئ نو د عاشورا روژه یې ترک کړله. خو د دې کیسې په لوستلو چې زما په ذهن کې څه راغلل، هغه خو مې څه په تیرې برخې کې بیان کړي دي چې پیغمبر اسلام په اصل کې د یهودیانو او عیسویانو په متاثر کولو سره پخپل امت کې شاملول غوښتل، او د هغوئ له لورې له مایوس کېدلو نه وروسته د اسلام لارې جدا کړلئ شوې . بل کوم خیال چې زما په زړه کې راغلئ وو هغه دا چې تر هغه وختې پورې که د محمد ژوند په غور سره ولوستل شي نو معلومیږي چې د اسلام ابتدایي زمانه د عیسویت له کیسو څخه متاثره وه، کومې چې پیغمبر اسلام له یو او بل چا څخه اوریدلي وې. له دې حوالې څخه هم یو مهمه نوم د ورقه بن نوفل ده، کوم چې د حضرت خدیجې د تره ځوئ وو، او د اسلامي روایتونو له مخې کله چې پر محمد لومړنۍ وحي نازله شوه نو حضرت خدیجې هغه ورقه بن نوفل خواته وړئ وو. ورقه بن نوفل پخواني اسماني کتابونه لوستلي وو، او په هغو کې له موجوده کیسو څخه هم واقف وو. د

ځينو خلکو دعوه ده چي همدا ورقه بن نوفل په اصل کي د قران ليکوال وو. يا کم نه کم هغه له حضرت محمد سره د قران په تيارولو کي مرسته کړې وه.

زما خبرې لکه څنګه چي يوازې د اسلامي کتابونو تاريخ، حديث او سيرت النبي پورې محدودې دي نو له دې امله يې زه په دغه بحث کي نه لولم. البته ماته په دې خبره پوره يقين ده چي پيغمبر اسلام د قران بنياد په زړو او نويو اوريدل شويو کيسو کيښود. (په دې اړه يوه ډيره په زړه پورې کيسه د النضر بن حارث هم ده، چي نويو لوستونکو ته به يې ډيره ژر وړاندې کړم. کوم خلک چي له اسلامي تاريخ څخه باخبره دي هغوئ به يقيناً دغه نوم او ورسره اړونده کيسه اوريدلې وي) دغه کيسي مستعار اخيستلو کي چي له دوئ نه کومي غلطياني شوې دي، په هغو کي يوه غلطي د قران په سورت مريم يو ايت کي ښکاره ده. د قران په سورت مريم ايت نمبر ۲۸ کي مريم د هارون خور سره بلل شوې ده. د نجران عيسويانو چي دغه ايت ولوستلو نو د دې په بنياد يې اعتراض وکړ چي مريم خو د هارون خور نه ده، ځکه چي د هارون زمانه د مريم له پيدايښت څخه هم کم نه کم دولس سوه کاله مخکي ده. پيغمبر اسلام چي بيا وروسته د دې غلطي کومه توجيه وړاندې کړه، هغه مونږ. ته د صحيح مسلم دغه حديث په صورت کي پيدا کيږي کوم چي زه لاندې نقل کووم ....

مغيره بن شعبه څخه روايت ده: کله چي زه رسول د خداى د نجران خلکو ته واستولم، د نجران خلکو ما ته وويل: آيا د تاسو پيغمبر نه پوهيږي چي هارون د موسى ورور ده، دې تاسو خدائ ويلي مريم د هارون خور ده او د موسى او عيسى تر مينځ ډير کلونه تېر شوي؟
زه نه پوهيدم څه ځواب ورکړم، کله چي د پيغمبر خواته راستون شوم او دا خبره مي ورته وکړه هغه راته وفرمايل: ولي دې ورته ونه ويل چي هغو وختو کي خلکو د خپلو مخکينيو انبياو او صالحو خلکو په نوم يو بل ته غږ. کوو...... صحيح مسلم حديث نمبر ۲۱۳۵

که په دې کيسه کي غور وکړئ نو اندازه درته لګيږي چي پيغمبر اسلام په څومره ښکلا سره پخپلې دې غلطي باندې پرده اچولې ده. که تاسو سورت مريم ولولئ نو تاسو ته به ښکاره څرګنده شي چي په هغه کي يې مريم د هارون خور بللې ده، خو بيا وروسته په غلطي نيوني سره پيغمبر اسلام پخپل کمال سره په هغې ډيره ښه پرده واچوله. خبره له پير صيب نه شروع شوې وه، له پير صيب کوم بل ځائ ته ووتله حضرت مريم پورې .... کومي کيسي بيانولو ته چي زه ناست يم په هغې کي همداسي لاندې باندې تلل راتلل راځي. کله چي تاسو په دې شک کي شئ چي هغه " عالمي حقيقتونه " په کومو چي په پوره باور سره ستا مشرانو خپل ژوند تير کړئ ده او کله چي د سترګو خلاصولو سره سم درباندې په غړپ غړپ سره وڅکل شول، نو ستا جوړه نړئ به ورانه ويجاړه شي. همدې ته د پوهي عذاب هم ويل کيږي. کومو خلکو ته چي دا خبرې روښانه کيږي، هغه ته ويل کيږي چي دا دې تر خپل ځان پورې محدودې وساتي،که نه نو په ټولنه کي به فسادونه خواره شي او کله چي څوک د دې فشار شدت برداشت نشي کړلئ، او په لارو کوڅو کي د منصور الحلاج غوندې داسي نعرې شروع کړي چي (انا الحق) يعني زه يم حقيقت / زه يم حق / زه يم خدائ، نو بيا د ښار کاني د ده تقدير کي کيږي ..... خله خلاصول سزا ته دعوت ورکول جوړيږي ..... شايد د همداسي وخت لپاره ميا بخش ويلي وو چي:

خاصاں دی گل عاماں اگے نيئں مناسب کرنی
مٹھی کھیر پکا محمد کتیاں اگے دھرنی

يعني د خاصو وګړو خبره عامو وګړو ته کول داسي دي لکه خوږ. کهير له پخولو وروسته د کوم سپي مخ ته کيږدي. (زمونږ. د مقامي متل په شانتي چي د سپي کهير نه هضم کيږي) .

يا بلهي شاه چي کله وايئ چي:

بلھیا کھا کباب تے پی شراب تے بال ہڈاں دی اگ
چوری کرتے بھن گھر رب دا اس ٹگھاں دے ٹھگ نوں ٹھگ

نو هغوئ ريښتيا وائي، مونږ. هغه ته سل قسمه معناوي ور اغوندو ......



**شپاړسمه برخه:**

تیرو دری ځلور ورځو کې مې هیڅ څه لیکلو ته زړه نه کیده. د هندوستان د تقسیمیدو او د هندوانو په اړه مې یو مضمون لیکل شروع کړي وو خو نیمچه مې پریښود. ذهن چې تیت وپرک وي نو خیالونه یوځائې کول تقریباً ناممکنه وي. زما سره هم همداسې وو. نن کومه موضوع وچیړم، په کوم شي خبره وکړم، هیڅ پریکړه مې نشوه کولئ. همداسې فیسبوک مې ځارلو چې د جان ایډم په یو پوسټ مې سترګې ولګیدلې. هغه د پیغمبر اسلام په اړه یو څه حقایق لیکلي وو، په کوم چې دوه مسلمان ملګري ډیر غصه شول او هغه ته یې بد رد ویل پیل کړل. جان ایډم په ډیرې مینې سره زما نوم ورته په یادولو سره وویل چې د ده لیکنې ولوله تاته به معلومات وشي چې مونږ ته د اسلام په حقانیت باندې یقین ولې نشته. ترټولو لومړئ خو له جان ایډم څخه مننه چې هغه دوه نور ګاکان هم زما لورې ته راولیږل. امید لرم چې هغه دوه مسلمانان به زما دغه لیکنه هم ولولي، او په خپل ذهن کې به د فکر او سوچ عادت جوړولو کوښښ وکړي. ماته د داسې ډیرو خلکو میسیجونه راځي د کومو په ذهن کې چې د تحقیق چونجی شتون لري خو همت نه.

تیرو ورځو کې د همداسې یو مسلمان میسیج راغلئ وو، هغه میسیج څه داسې ده:

*************************************************************

زه ستاسو کیسې لوستلو سره سم لیونی شوئ یم. د پوهنتون ۹۰۰۰ فونډ فیسونه مې جمع کړي دي، خو زده کړې نشم کولئ. عجیبه عجیبه خیالونه مې ذهن ته راځي. پلار مې وفات شوئ ده، دعا ورته وکړم که نه، هیڅ نپوهیږم. ځلور کوچني ورونه مې دي، کله چې کور ته زنګ وهم نو د لمونځ کولو نصیحت ورته وکړم که نه.

په برطانیه کې له خپل تره سره په کور کې اوسیږم، هغه د لمونځ کولو راته وائي، که یې ونکړم نو وایي چې وراره چې برطانیه ته راغئ نو خراب شو، او که لمونځ وکړم نو د څه او د چا لپاره؟؟؟؟؟؟

یو لس کلن ورور مې ده، عجیبه پوښتنه کوي. اغا مې د خدائ لورې ته ولې لاړو. مور مې وایي چې ته پخپله خراب شوئ یې، پلار دې په سر نشته وړوکي ورونو ته دې د اسلام باره کې هیڅ نه وائې. ژوند مې بې معنا شوئ ده. کله چې په

مشکلاتو کې راګیر کېږم نو کوم خدائ یاد کړم؟؟؟ او نور خو دې فکر کولو لیونی کړئ یم چې وروسته له واده خپل بچیان په کومه لاره روان کړم؟؟؟

زه یې په الفاظو کې نشم بیانولئ چې په کوم دام کې راګیر شوئ یم . له تاڅخه هیله کووم چې دا اوس دې کومې کیسې باندې پیل کړئ ده، هغه کومې نتیجې ته ورسوي، که نه نو نور به څومره خلک زما په شان په مینځ کې راګیر وي. تاته اوس د چا قسم درکړم، په همدې نپوهېږم. خو که هر څه دي، ستا دې خپلې مور، پلار، ورور او خور باندې قسم وي، چې اوس یې کوم حل هم راته ووښایا، که مرګ هم درته راغئ نو لومړئ مونږ کومې لارې ته برابر کړه او بیا ځه، هسې خپلمنځې خبره ده، زما خوبونه تېښتېدلي دي. کومه یوه لاره خو راته ښودلی شې، چې په ارام سره ویده شم.

زه که ځم هم نو چیرته لاړ شم، هدایت که وغواړم نو له چا څخه یې وغواړم، کوم خدائ چې وو د هغه خو دې بیړه غرقه کړه. او یو اخري وړاندیز! زما نوم په لیکنه کې مه لیکه. که زما حالت لیکل درته مناسب ښکاري ولیکه خو نوم مې ورسره مه لیکه. امید لرم چې ستا ځواب به ژر راکړل شي. ایاز وروره خوشاله اوسې.

***************************************************************

دا پیغام مې له انباکس نه په کاپي کولو سره دلته پیسټ کړ. د ټایپ کولو غلطیاني مې هم هماغسې پرېښې دي، ځکه چې تاسو ته د دغه ځوان د احساساتو اندازه وشي. د دې په لوستلو مې راته د ځوانی زمانه رایاده شوه. د هغه وخت ځینې کیسې له تاسو سره شریکول غواړم. کوم ځوان چې دغه میسیج رالیږلئ وو هغه ته به هم معلومه شي چې یوازې هغه په دې مشکل کې ګرفتاره نه ده، هر هغه کس چې فکر کول او پوهیدل غواړي له همدا شانتې عذابونو څخه تیریږي. زما حالات له دغه ځوان څخه څه بهتره وو. زما لپاره د هغه زماني فکرونه کوم داسې جدي نه وو کوم چې د دغه ځوان لپاره دي. له خوړل او څټلو کور سره مې تعلق وو. د هیڅ کوم شي کمښت محسوسولو ته مې ټول ژوند مور پرینښودم، او نه هم کومه داسې زمه واري وه چې د هغې بوج یې کومې بلې لارې ته وړئ وي. خو د دې هر څه باوجود دا تصور کول هم یو عجیبه شانتې عذاب وو چې د خدائ وجود یوه ټکې هم کیدائ شي. د اسلام کیسې یوازې تشې کیسې هم کیدلئ شي، د پیغمبر اسلام دا دعوه غلطه هم کیدلئ شي چې الله جبرایل ته د یو پیغام په ورکړې سره ده ته رالیږلئ وو ............. په خاصه توګه پاکستاني ټولنه کې او یقیناً چې په هندوستان کې هم همداسې ده. د یو مسلمان د ژوند آغاز په مذهب او له هغه سره د تړل شویو داستانونو څخه کیږي، او تر مرګه پورې په کفن باندې د لیکل شوې کلیمې او د کیدونکې جنازې لمانځه پورې مذهب هر وخت له انسان سره لکه سیورئ خښ وي. په داسې وخت کې که ناڅاپې یو داسې څه څرګند شي نو د هغه ځوان په شانتې خامخا د هر چا په ژوند کې ناڅاپې یوه ډیره غټه خلا راپیدا کیږي. زه چې یو خندور، لوبیدونکئ او خوشاله ځوان ووم، غصه ناکه او تونده مزاجه شوم. په ژوندکې د هر قسم جذب باوجود هم د کوم شي کمښت محسوسیدلو شروع وکړه. ډیره موده مې د همدې ځوان په شانتې په ذهني ګډوډۍ کې تیره او د همدغې ګډوډۍ کمولو لپاره مې په کتابونو کې پناه واخیستله. خو څومره مې چې کتابونه لوستل ذهن مې نور هم صفا کیده. په ډیرو نوو خبرو وپوهیدم. که مذهبونه دروغ دي نو هغوئ موجود ولې دي؟ د مذهبونو په راتګ سره انسانانو ته کومې ګټې او کوم کوم نقصانونه شوي دي؟ پیغمبرانو، رسولانو او مذهبي مشرانو ته اخر څه ضرورت وو چې هغوئ خپل ژوندونونه یو داسې شي ته وقف کړې دي د کوم شي چې هیڅ کومه ګټه نشته ........

د دې ټولو پوښتنو ځوابونه د پرله پسې مطالعې او څیړنو نه وروسته اخر پیدا هم شول او د دې لیکنو مقصد هم په دې سفر کې له تاسو سره مرسته کول دي، ځکه چې کوم وخت چې ما په بیکاره سرګردانئ کې تیر کړئ ده هغه په تاسو تیر نشي. تاسو پورې د خپل زړه خبره خلاصه دروورسوم، ځکه چې تاسو خپله فیصله پخپله وکړئ ....

ما چې کله د مذهب باره کې فکر کول پیل کړل او په لومړي ځل مې دغه خیال ته په زړه کې ځائ ورکړ چې کومې خبرې مونږ ابدي حقیقت ګڼو هغه دروغ هم کیدلئ شي، نو زه هم د هغه ځوان په شانتې له ډیرو مشکلات سره مخ شوئ ووم. دغه لیکنه لوستونکي ډیر کسان به د ژوند له دغه منزل څخه د تیریدو په حال کې وي. په دغه منزل باندې انسان یقین هم کولئ شي او له شک څخه هم ځان نشي خلاصولئ. کله چې د خپل شک د تصدیق کولو کوښښ کوي، نو د ډار او ویرې ځنځیرونه ورته په پخو کې پراته محسوسیږي. مونږ چې په کومې طریقې سره د پیدایښت سره سم د مذهب په زولنو او ځنځیرونو کې تړي، په اصل کې هماغه مونږ د مذهب باره کې له شک کولو څخه منع کوي. او کوم خلک چې په زړورتوب سره دغه خیالونه هاخوا غورزوي، هغه هم په کوم ځائ کې خامخا ډاریږي. چا ویلي وو چې که په مذهب باندې دغه بندیز ولګول شي چې ترڅو ماشوم تر اتلس کلنی نوي رسیدلی هغه ته دې د مذهب باره کې د تعلیم ورکولو اجازه نه وي، نو تاسو به وګورئ

چې اتلس کلنی ته په رسیدلو سره به هیڅوک مذهب قبلولو ته تیار نه اوسي. د برطانیه یو مشهور لیکوال او آتئیست ریچرډ ډاکنز دا ادعا ده لکه څنګه چې په پیدایښت سره سم په هیڅ ماشوم باندې دا مهر نشي لګولئ چې هغه د پارټې، کنسرویټو یا د لیبرل ډیموکریټ ډلې ماشوم ده (دا درې واړه د برطانیه غټې سیاسي ډلې دي) همداسې مور او پلار دا حق هم نلري چې د ماشوم د پیدایښت سره سم په هغه باندې د هندو، مسلمان، عیسوي یا د یهودي ټاپه پرې ولګوي، ځکه چې هغه خو لاتراوسه د سوچ او پوهیدنې قابل لا نه ده.

که ریچرډ ډاکینز دغې خبرې کې فکر وکړو نو همداسې ده هم. پخپله د اسلام حکم هم ده چې ماشوم کله اووه کلن شي نو هغه ته لمونځ کول ور زده کړئ، او چې لس کلن شي او له لمونځ کولو انکار وکړي، نو په وهلو سره لمونځ پرې وکړئ. ولې؟ د دې لپاره چې مقصد د ماشوم په کچه ذهن کې د مذهب ډار او له هغه سره تړل شوي ګډوډ عقاید پرې کیښنول دي. له ماسره هم زما مور او پلار څه همداسې کړي وو او همدا وجه ده چې کله د مذهب په حقانیت باندې د شک کولو خبره کیږي، نو پاڼه اوبه کیږي. لکه څنګه چې مې وړاندې هم ویلي دي چې زما لپاره هم دا مرحله ډیره ګرانه وه. خو بیا ما یو پلان وسنجوو، تاسو یې هم په عملي کولو سره لیدلئ شئ. زه یقین لرم چې تاسو ته به ګټور تمام شي. روزمره ساعت نیم ساعت له مذهب څخه رخصتي واخلئ. فرض کړئ تاسو له کوم مذهب سره هیڅ تړاؤ نلرئ او تاسو د خپل ځان لپاره د کومې عقیدې د انتخابولو په لټه کې راوتي یاست . په همدې کیفیت کې اسلامي کتابونه ولولئ. او کوښښ وکړئ چې هغه په مکمله توګه په یو طرفه قضاوت کولو سره ونه ګورئ . بیا به تاسو ته معلومه شي چې د مذهب زیاتره عقاید یوازې غیر عقلي هم نه بلکه په ډیرو صورتونو کې احمقانه هم دي. تاسو ته به معلومه شي چې له ادم نه وروسته د حوا د تخلیق کیسه، د هابیل او قابیل کیسه او د یو ورور په لاسونو د بل قتلول، موسی غره ته په ختلو له خدائ سره خبرې اترې او بني اسراییلو ته له اسمان نه تیار پاخه خواړه راتلل، ابراهیم د الله په لاره کې د خپل ځوئ حلالولو کوښښ، لوط خپل قوم ته د فرښتو په بدل کې خپلې لورګانې وړاندې کول، د لوط لورګانو خپل پلار ته شراب ورکول او بیا ورسره همبستري کول، یونس د ماهي په خیټه کې اوسیدل، د نوح په طوفان کې د کښتې په جوړولو سره د نړۍ د هر جاندار یوه یوه جوړه په هغې کې خوندي کول، حضرت سلیمان د حیواناتو په رمباړو پوهیدل، ذوالقرنین د لمر پریوتلو او لمر راختلو ځائ ته رسیدل، عیسی د یوې پیغلې له بطن نه پیدا کیدل، په ځانګو کې خبرې کول، مړي راژوندي کول.......... د کجورې ونې د پیغمبر اسلام په جدایي کې ژړل، د ادم نوي فټه لوړوالئ، د پیغمبرانو عمرونه زر زر کاله وغیره وغیره ....... دا او دا شانتې په لسګونو نورې خارق العاده داستانونه ایا دا ټول د باور وړ دي؟

که ته مسلمان یې، او د مسلمانۍ سوچ کوې نو ستا دننه موجود مسلمان به تا خپل ځانته په دروغ ویلو اماده ساتي. خو که ته د یوې دقیقې لپاره هم له سترګو د عقیدې رتاړې لرې کولو کې بریالی شوې، نو ستا مخ ته به د یوې نوې نړۍ دروازه خلاصه شي. د مذهب لیدنې لپاره یوه بله طریقه هم شته چې ستاسو په دې کیفیت کې درسره مرستندویه کیدی شي ...... د انسان ژوند ډیر نه ډیر سل څه باندې سل کاله کیدی شي. همدې وجې نه د انسان لپاره په زرهاوو کلونو باندې محیط انساني ژوند احاطه کول ستونزمن کیږي. ایا تاسو یقین کولئ شئ چې له عیسی نه وړاندې پخواني یوناني خدایان هم همداسې منل کیدل، لکه د نن بګوان، الله او لکه څنګه چې نور خدایان منل کیږي. ایا تاسو یقین کولئ شئ چې د اپالو او زیوس په الوهیت باندې ایمان نه راوړلو سزا هم همداسې دردناکه مرګ وه لکه د نن په پاکستان کې چې ګستاخ رسول ته ورکول کیږي. نن هغه اپالو او زیوس یوازې افسانوي کردارونه جوړ شوي دي، خو لکه څنګه چې مونږ د نن په زمانه کې پیدا شوي یو، مونږ ته د هغې ویرې او دهشت اندازه لګول ډیره مشکله ده کومه چې د زیوس د منکرینو مقدر جوړیدله.ایا ته انوبس، انات ، اپچ، باهل، شاپسو، اینکي، زیوس، افروډایټي، ګوان ین، یم، اوتزومي یا دا شانتې په زرګونو خدایانو کې کوم یو منې؟ د دغو خدایانو منکرینو باندې به هم ایمان لرونکو همداسې تشدد او ظلم کوو لکه نن چې له اسلام ترک کونکو سره کیږي. هغوئ به یې هم په داسې بې رحمانه توګه د خدائ په نوم د مرګ کندې ته ور اچول، لکه څنګه چې نن احمدیان، شیعه ګان او د نورو فرقو مسلمانان ور اچول کیږي ...

د نړۍ د ټولو خدایانو پر نوم باندې همداسې ظلمونه او ستمونه جایز ګڼل او ویل کیږي، څنګه چې د پیغمبر اسلام په لاسونو د مکې قریش او د یهودیانو قتل عام ته د اسلام خدمت او د الله پیغام د سرلوړي لپاره د کوښښ نوم ورکول کیږي ... له نن څخه پنځه یا لس زره کاله مخکې په لکونو خلکو چې کومو خدایانو ته عبادت کوو، نن هیڅوک د هغوئ د عبادت کولو له ډلې څخه نه دي پاتي، همداسې د نن د خدائ تصور به هم یو وخت د افسانو برخه جوړیږي .... څنګه چې اسلام له عیسویت او عیسویت له یهودیت څخه کیسو په اخیستلو سره نوئ مذهب ودراوو، همداسې یهودیت هم له پخوانئ زماني رسم او رواجونه په خپلولو سره نوې عقیده وړاندې تیاره کړې وه .... ایا له حضرت محمد نه وړاندې په عربو کې د حج مراسم نه ادا کیدل؟ ایا له اسلام څخه وړاندې د کعبې طواف او د صفا او مروه سعي نه کیدله؟ ایا ظهور اسلام نه وړاندې حج ته

تلونکو خلکو همداسې په شیطان کاڼي نه وارول لکه څنګه یې چې اوس واروي؟ په کعبې کې خښه حجره اسود څه ده؟ د پخوانیو عربو خیال او دعوه وه چې دا له جنت څخه رالیږل شوې تیږه ده .... همدغه دعوه اسلام هم مخته یوړه او پخپله پیغمبر اسلام به دغه تیږه د طواف په وخت کې ښکلوله. ما څو مسلمانانو څخه دا دعوې اوریدلې دي چې له سائینسي تجربو څخه هم ثابته شوې ده چې دا تیږه د دې نړۍ څخه نه ده .... یقیناً په دې کې هیڅ شک نشته چې دا تیږه د ځمکې نه ده .... خو له دې څخه دا نه ثابتیږي چې دا تیږه الله پاک له جنت څخه رالیږلې ده چې هغه په کعبه کې ولګوي. دا تیږه اخر ده څه؟ یوازې یوه د شهاب ثاقب ټوټه (اسماني کاڼی، لویدونکې ستورۍ). دا شانتې نورې په زرګونو ټوټې اوس هم هر کال د نړۍ په مختلفو برخو کې غورزیږي. فرق یوازې دومره ده چې د نن انسان د کاڼي په لیدلو سره ویلۍ شي چې دا د کوم شهاب ټوټه ده، د پخوانۍ زماني عربو بلکه پخپله د اسلام هم دا عقیده وه چې ځمکه د کائنات مرکز ده او لمر د ځمکې چاپیره تاویږي. شهابونه څه شي وي، او د دې ټوټې وخت نا وخت ولې په ځمکې راغورزیږي؟ د دې معلومات خو د پخوانۍ زمانې د عربو پرښتو ته هم نه وو. ځکه خو یې د جنت تیږه بللې ده، او نن هم په لکونو، میلیونونو مسلمانان د دې تیږې د ښکلولو په خواهش کې کعبې ته د ورنژدې کیدلو کوښښونه کوي، او هلته د ولاړ عسکر دیکې خوري. او ما او تاته یې وویل چې په اسمان کې کوم ستورۍ ماتیدلو سره چې راغورزیږي، د هغه حقیقت دا ده چې شیطان اووم اسمان ته په تللو سره د الله او پرښتو ترمینځه کیدونکی خبرې په خاموشۍ سره د اوریدلو کوښښ کوي، نو فرښتې په هغه سکروټې واروي او هغه بیرته واپس لاندې راښکته کیږي ..........

څه یو زبردسته وضاحت ده د شهاب ثاقب د لویدني کیسه یوازې همدومره ده چې که پخپله د مذهب نه د څو شیبو لپاره د جلا فکر کولو کوښښ وکړۍ هر څه به درته روښانه شي .... ایا ته د یوې شهاب ټوټې لیدنې په هیله کې د ټول ژوند ګټې بربادونې لپاره پیدا شوۍ وی؟ ایا ته دومره هوښیار هم یې چې ټول ژوند دې په ژړا ژړا د هغې ځمکې ته د تللو ارزو وکړې، او کله چې دې ارزو پوره نشي نو خپل ځان ملامت کړې چې زه همدومره ګناهګار ووم چې زما خوږ پیغمبر زه د زیارت کولو قابل ونه ګڼلم؟؟؟؟؟ لګ خو فکر وکړۍ ......؟؟؟؟؟

انځور: د دوه زره لسم کال د جولایي په میاشت کې د لندن په یوې سیمې کې د الله لخوا رالیږل شوې خصوصي تحفه حجره اسود نمبر ۲.



**اولسمه برخه:**

ډیر دوستان شپه او ورځ میسیجونه رالیږي چي بله برخه ژر پوسټ کړم. د لیکلو لپاره چي ذهن کوم یوځائي کیدني ته ضرورت لري، هغه خو نن نشته خو کوښښ کووم ......

ما بار بار پخپلو پوسټونو کي دا خبره تکرار کړې ده چي له ماشومتوب څخه زما په زړه کي د یو ښه انسان جوړیدني ارمان موجود وو. همیش به مي کوښښ کوو چي د ټولو په کار راشم، څوک راڅخه خفه نه وي، که څوک له ما څخه خفه شي نو سمدستي ترې ببښنه وغواړم وغیره وغیره . د ښه انسان جوړیدني د ارمان پوره کولو لپاره یوه لاره موجوده وه او هغه د پیغمبر اسلام په نقش قدم تلل وو. کوم حدیثونه چي په لومړي ځل زما له سترګو تیر شول، هغه شاید د دریم یا څلورم صنف د اسلامیاتو په کتاب کي وو. په یو کي لیکل شوي وو چي د نبي کریم په ذات کي د هر مسلمان لپاره د ژوند کولو یوه بهترینه نمونه پرته ده.

ما هم له هماغه وخت نه دا پریکړه وکړه چي په هر کار کي به د محمد رسول الله د اطاعت کولو کوښښ کووم. په ماشومتوب کي به مي چي د هغه د حسن سلوک یادونه اوریدله، نو زړه به مي نیغ شو چي کاش زه هم د هغه په زمانه کي پیدا شوئ ووم او د هغه له شفقت نه برخمن شوئ وائ. ژوند مي ډیر ښه تیریده. داسي کوم تضاد نه وو چي زه یې پریشانه کړئ ووم. خو کله چي د مذهب باره کي پوښتنو سر راپورته کول پیل کړل نو هره نوې ورځ به مي د یوې نوې پوښتني په راوړلو سره سر راپورته کوو. د ځینو پوښتنو ځوابونه پیدا کول اسانه وو او ځیني انتهایي ستونزمن. د وسایلو کمښت او د کتابونو نه موجودیت او دا شانتي ډیر نور مسایل به همیش نه د پښو ځنځیرونه راته جوړیدل .... ویل کیږي چي له لټون سره خدائ هم ملاویږي، همداسي وګڼئ چي ما پیدا کړ. "دا خدائ خو هغه نه ده له کوم سره چي زما په ماشومتوب کي تعارف شوئ وو ځکه چي د دغه خدائ یوه مور هم شته، او د هغه نوم ده مرګ ..... د مرګ ډار د خدائ تصور وزیږاوو. او اوس د خدائ ډار د میلیونونو خلکو لپاره یو جنون جوړ شوئ ده."

یوه بله خبره چي د بحث وړاندې وړلو نه مخکي یې واضح کول ضروري دي، دا ده چي د پیغمبر اسلام د ژوند زیاتره احوال مونږ ته یوازې د یو کتاب په مرستي رسیدلي دي . د دې کتاب نوم "سیرت الرسول" ده او د دې لیکوال "ابن اسحاق" ده. د ابن اسحاق کتاب خو د امتداد زماني ښکار شو، خو د هغه له مرګ نه سمدستي وروسته ابن هشام نامي یو کس د دغه کتاب ماتي ګوډې پاتي شوې کیسي سره یو ځائ کړې، او د پیغمبر اسلام ژوند لیک یې د تلپاتي نړئ لپاره محفوظ کړ. د حدیثونو کتابونه چي د اسلام یو ډیر مهمه او لازمي برخه جوړه شوې او ګڼل کیږي، دا د پیغمبر اسلام له وفات څخه تقریباً دوه سوه کاله وروسته لیکل شوي دي. په سیرت الرسول کي د پیغمبر د ژوند په بیشمیره اړخونو رڼا اچول شوې ده، نو د همدې مطالعې په دوران کي یو نوم ډیر زما په زړه ولګیده. دغه نوم د "نضر بن حارث" وو کوم چي د قریشو یو مهمه کس وو. د سیرت النبي د مولف په قول نضر بن حارث د قریشو له شیطانانو څخه یو شیطان وو. نضر بن حارث د پیغمبر اسلام دعوه له پیله دروغ ګڼله، او هغه بار بار د پیغمبر اسلام د نبوت دعوه چیلینج کړه. کله به چي هم د قریش خلکو د محمد بن عبدالله د نوي مذهب او د هغه د مکي په چاپیریال باندې د ممکنه اثراتو په باره کي خبرې کولو ته کښیناستل، نو نضر بن حارث به هلته همیشه موجود وو، او په زور او شور به یې د محمد مخالفت کوو . د مکې قریشو پیغمبر اسلام ته په لالچ سره د نوي مذهب له ایجادولو نه د اودرولو ډیر کوښښ وکړ خو هغه ونه منله. اخطارونه یې هم ورکړل خو هیڅ اثر یې ونکړ.

له اهل قریشو سره د محمد په ملاقاتونو کي نضر بن حارث بار بار ویلې چي کومې کیسي چي محمد اؤروي زه له هغه څخه څه بهتره کیسي جوړولئ شم. د ثبوت په ډول به هغه پخوانئ کیسي د نظمونو په شکل کي ورته اؤرولي هم، ځکه چي هغه هم یو صاحب علم وو. لرې نژدې سیمو ته یې سفرونه کړي وو او ډیر پخواني داستانونه یې یاد وو. د همدې علم په بنیاد باندې به هغه د پیغمبر اسلام کیسي هم چیلینج کولې چي هغه له یو او بل خوا اؤریدل شوې کیسي تاسو ته په ویلو خپل ځان نبي ثابت کول غواړي. د قریش خلکو د النضر بن حارث په خبرو یقین درلود او د محمد دلاسه پریشانه وو. په څو ځایونو کي نضر بن حارث پیغمبر اسلام ته ښکاره ښکاره وویل خو د دې دښمنی اغیزه د سورت کهف په کیسه کي ده ........

ابن اسحاق وائي چي .....
نضر بن حارث د مکي خلکو د مدیني ځینو یهودیانو خواته ولیږه، کومو چي پخواني اسماني کتابونو باندې تسلط درلوده. له ده سره د قریشو یو بل مهم سردار عقبه بن المعیط هم وو. د ده دا زمه واري وه چي له یهودو عالمانو نه د محمد ماته معلومه کړي. تاریخ وایي چي کله دوئ دواړو د یهودو علماؤ ته د محمد کیسه واؤروله، نو هغوئ وویل چي کوم کس چي د نبوت

دعوه کوي له هغه څخه دري پوښتني وکړئ. که چيرته هغه د دي دريو پوښتنو ځوابونه درکړل نو پوئ شئ چي هغه ريښتيا وايي، او که يي ځوابونه درنکړل نو پوئ شئ چي د هغه د نبوت دعوه هسي دروغ ده، هغه دري پوښتني څه داسي وې .....

١-- کوم ځوانان چي په پخوانئ زمانه کي غايب شوي وو د هغه احوال څه ده (څوک وو، څو وو، له کومه راغلي وو چيرته لاړل وغيره)؟؟

٢-- کوم عالي قدر سړي چي د مشرق او مغرب سفر وکړ د هغه کيسه څنگه ده؟

٣-- روح څه ده؟

نضر بن حارث او عقبه بن المعيظ له دغو پوښتنو سره چي مکي ته راورسيدل، نو دوئ پيغمبر اسلام د قريشو ناستي ته طلب کړ او دغه دري پوښتني يي د ده وړاندې کيښودلي. پيغمبر اسلام وويل چي هغه به له خپل خدائ څخه د جبراييل په مرسته دغه پوښتني وکړي او په راتلونکي ورځي ناستي کي به دوئ ته ځوابونه وړاندې کړي . خو ورسره يي دا هم ليکلي دي چي پيغمبر اسلام "انشاالله " نه وو ويلي. په سيرت النبي کي راغلي چي پيغمبر اسلام بله ورځ ناستي ته نه وو حاضر شوئ. بلکه تر دوه اونۍ پوري د قريشو پيغورونو باوجود هم غونډې ته حاضر نشو، چي خپل ځوابونه ووايي، د دې ځنډ وجه د سيرت النبي د مولف په نزد دا ده چي هغه دوران کي وحي موقوفه شوې وه. يعني جبراييل غايب شوئ وو، ځکه چي د حضرت محمد "انشاالله" ويل هير شوي وو. خير دوه اونۍ وروسته چي کله محمد غونډې ته حاضر شو، نو هغه د قران يو نوئ سورت وړاندې کړ ..... نن سبا مونږ دغه سورت د سورت کهف په نوم سره پيژنو. په سورت کهف کي پيغمبر اسلام د قريشو وړاندي کړل شويو پوښتنو ځوابونه ورکړي وو، خو په مجلس کي ناست خلک له دغو ځوابونو څخه مطمين نه شول او محمد بن عبدالله يي د پيغمبر منلو څخه انکار وکړ. له دې پيښي وروسته پيغمبر اسلام له مکي څخه مديني ته د هجرت کولو نيت وکړ ... قريشو چي په کوم بنياد باندې له دې ځوابونو تسليم کولو څخه انکار کړئ وو هغه ډيره په زړه پوري ده.

قريشو چي مشرق او مغرب ته د تلونکي کوم کس په اړه پوښتلي وو هغه سکندر اعظم وو. کوم چي د ټولي نړئ فاتح هم بلل کيږي. د سکندر يو تاريخي نوم ذوالقرنين هم ده. د قريشو په نزد محمد چي د کوم ذوالقرنين کيسه ورته اؤرولي وه، هغه سکندر اعظم نه، بلکه کوم نبي وو. (په سورت کهف کي دا ذکر هم شته چي ذوالقرنين په تلو تلو هغه ځائ ته ورسيد چيرته چي لمر پريوځي. هغه وليدل چي لمر په يو خټين مردار کوهي کي ډوبيږي. همدا شانتي دا هم ويل شوي دي چي هغه د لمر راختلو ځائ ته هم رسيدلی وو. د قران په حقانيت باندې راپورته شويو بيشميره اعتراضونو کي يو دا هم ده چي لمر خو هيڅ چيرته نه ډوبيږي، او دا ځمکه گردی ده، نو د قران له دغه ايت څخه خو ښکاره ظاهريږي چي پيغمبر اسلام او د هغه خدائ ته د ځمکي د گرديوالي معلومات نه وو) ..... د قريشو د دوهمي پوښتني ځواب پيغمبر اسلام په سورت کهف کي د موجود اصحاب کهف د کيسي په صورت کي ورکړ. د دغه ځواب په زړه پوري لوری دا ده چي په دې کي دا لا دا نه دي ويل شوي چي هغوئ څوک وو، حتی تر دې چي د هغوئ تعداد څومره وو؟ په قران کي د تعداد له حوالي سره ځواب ډير مشکوک ده ..... تاسو يي هم وگورئ "ځيني کسان به ووايي چي هغوی دري تنه ول او څلورم د هغو سپی و او ځيني نور به ووايي چي پنځه ول او شپږم د هغو سپی و. دا ټولي بې ځايه د بې خبری ويناوي دي. ځيني نور خلك وايي چي اووه ول او اتم د هغو سپی و. ووايه: زما رب ښه پوهيږي چي هغوی څو تنه ول. لږو کسانو ته د هغو صحيح شمیر معلوم دی" تاسو وليدل څومره په چالاکی سره يي پوښتنه بل لوري ته کش کړې ده. قريشو ويل چي که د محمد دعوه سمه ده نو هغه د اصحاب کهف تعداد ولي نشي ښودلی. او لکه څنگه چي پخپله د هغه په اياتونو کي ليکل شوي دي چي خدائ ښه پوهيږي چي هغوئ څو تنه ول. نو خدائ پيغمبر ته د دې تعداد په ويلو سره کيسه ځائ په ځائ ولي ختم نکړه. خدائ البته دومره دا ضرور وکړل چي د اصل کيسي برعکس يي سپی هم له هغوئ سره يوځائي روان کړ، او د خوند خبره خو دا چي سپی خو که څه هم په اسلام کي يو ډير نجس او پليت حيوان بلل کيږي، خو د اصحاب کهف سپی د يو ډير لوړ سپي درجه لري. او په ځواب کي يي د دوو اونيو تاخير خو تاسو ولوسته .... محمد صيب انشاالله ويل هير شوي وو ....

له همدې برخي سره تړلي نورې خبرې به سبا ته وړاندې کړم.




**اتلسمه برخه:**

د سورت کهف خبره لنډووم. د محمد صیب ورکړل شوي ځوابونه قریشو رد کړل، او د نضر بن حارث لپاره د هغه په زړه کي نفرت د تل لپاره پوخ شو. په یاد مو وي چي د سورت کهف په ویلو سره به تاسو ته اندازه ولګیږي چي پیغمبر اسلام د دریمي پوښتني هیڅ ځواب نه ده ورکړئ او د وحي دریدلو وجه یي هم په سورت کهف کي څه داسي رانغښتي چي کله هم کومه خبره کوئ نو انشاالله باید هتمن ووایئ. د بعضو خلکو په نزد په دې موقع باندې د امام حسن د یو سپي ذکر هم راغلئ وو، چي د هغه د پلیتی په وجه دومره موده حضرت جبراییل لرې وو، خو د دې دعوې کوم ثبوت ما ونه مونده. هسي هم د سورت کهف د نزول په وخت کي د علي او فاطمي واده تر دې دمه نه وو شوئ، نو شاید دغه قیاس غلط وي، کله یي چي د بدر په میدان کي د قریشو تجارتي سامان لوټ کړ، نو ډیر یي قتل او پاتې باغیان یي یرغمال کړل، نو په دغو کي نضر بن حارث او عقبه بن معیط هم موجود وو. قید کړل شوي د تاوان په بدل کې خوشي کړل شول، خو سیرت الرسول مونږ ته دا هم وائي چي له بدر څخه مدیني ته د واپسی په دوران کي عقبه بن ابي معیط او نضر بن حارث یي وژلي وو.

همدغه کتاب مونږ ته دا هم وائي چي د نضر بن حارث سر قلم کونکی بل څوک نه پخپله د ګران پیغمبر اسلام د تره زوی جانشین او زوم حضرت علي وو دې به په دغه وخت کي ډیر نه ډیر اولس کلن وو، چي هغه پخپلو لاسونو د محمد صیب اوږدمهالني دښمن د ژوند له قید څخه آذاد کړ ....... زما لپاره په دغه ټوله کیسه کي چي کوم درس وو هغه دا وو چي د نبوت د دعوې ریښتیونولي یا دروغو څخه بي پروایي، که پیغمبر اسلام کوم یي چي مونږ ته یو معصوم او له غلطیو پاک ذات معرفي کولو سره وړاندي کړئ ده، که له چا به خفه وو نو بیا سر پریکولو نه کم څه باندې به نه رضا کیده. د تاریخ مطالعه وکړئ تاسو ته به ډیر داسي کم خلک پیدا شي چا چي دې پیغمبر اسلام خفه کړئ وي او د هغوئ سر دې سلامت پاتې شوئ وي. (په داسي خلکو کي خو ځیني سراسر خوش قسمته وو، خو ورسره ځیني داسي وو کومو ته چي غصه ښودل پخپله د پیغمبر اسلام لپاره زیانمن ثابتیدلئ شول..... (

مونږ ته د سورت کهف شان نزول باندې د پوهیدني نه معلومه شوه چي پیغمبر اسلام د مکي په ژوند کي تر یو حده تذلیلیدل هم ولیدل، او ښکاره څرګنده ده چي تذلیل برداشت کول د هر چا او نه چا د وس خبره نه ده، خو لګ پاتې شئ مونږ د کوم عام سړي خبره نه کوو. دلته د یو داسي هستی خبره روانه ده کوم یي چي د ټولې نړئ لپاره رحمت بللو سره راولیږه، د کوم

چې سخاوت، نرم مزاجي او د صبر و برداشت يوه دنيا نن هم تر دم لاندي ده ..... د تاريخ اسلام د تفصيلي مطالعي نه وروسته يوه خبره ماته څرګنده شوه چې پيغمبر اسلام خپل دښمنان په اسانۍ سره نه بخښل. د هغه د نرم مزاجۍ او د صبر او برداشت ټولي کيسي د هغه وخت دي، کله چې هغه په مکه کې وو او دښمنان په ده برلاسي وو او څنګه چې هغه مديني ته ورسيده او مسلمانانو قوت ترلاسه کړ، هغوئ پخواني دښمنان يو يو سره مړه کړل. او کوم يي چې وبخښل هغه د دوئ نږدې خپلوان وو. د پيغمبر اسلام چې کوم انځور په روزمره ژوند کې مونږ ته ښکاري او ښودل کيږي هغه د يو مجسم د عدل و احسان شخصيت ده، خو ماته معلومه شوه چې شايد داسي نه وه .....

ما چې د مکتب په زمانه کې د رسول اسلام د کومو صفتونو ذکر لوستلی وو، په هغه کې دري واقعي اساساً د پام وړ وې. يوه د ابوجهل هغه واقعه چې ابو جهل د پيغمبر اسلام پر شا د اوښ کولمي واچولي خو د هغه باوجود هم پيغمبر په خاموشۍ سره هر څه وزغمل. دوهمه واقعه چې يوې ښځې په محمد باندې په لويه لار کې خځلي غورځول او د پيغمبر په هغې باندې شفقت کول. او دريمه د طايف خلکو د بدچلند باوجود هم الله ته سفارش کول چې د طايف خلک د دوو غرونو په مابين کې ختم نکړي. اوس د دې دريو کيسو انجام هم وګورئ. کومي تاريخي حوالي چې ما وموندلي د هغه له مخي يوه ورځ چې هغې ښځې په محمد خځلي وانه چولي، نو محمد يي پوښتني ته ورغي نو هغه مسلمانه شوه. د دې ښځې نوم څه وو؟ د هغې عمر څومره وو؟ د دا شانتي پوښتنو ځوابونه ما هيڅ ځائ کې ونه موندل خو امر ابن هشام چې محمد به ورته له طنز نه ابو جهل ويلي، او همدا نوم تراوسه پورې يي مسلمانان استعمالوي، د جنګ بدر په دوران کې يي وواژه .او د طايف د خلکو انجام د طايف د محاصره کولو په کيسه کې موجود ده، چيرته چې ترڅو مياشتو پورې يي د ښار په محاصره کې د خوراک څښاک سامانونه، د طايف د خلکو د انګورو باغونه او د هغوئ حيوانات يي قبضه کې اخيستي وو. کله چې د ښار خلکو ورته پيغام واستوو چې مونږ به ښار مسلمانانو ته تسليم کړو، صرف مونږ ته دې د خپلو خدايانو د عبادت جاري ساتني اجازت راکړل شي، نو پيغمبر اسلام ورته صفا انکار وکړ. او دوئ ته يي د بي قيد و شرط ښار مسلمانانو ته د سپارلو او يا مرګ ته د تيار سې وويل. د طايف يوې غټې قبيلې بنو حزوان مشر ته يي لالچ ورکړ چې که هغه د خپل ښار خلک پريږدي او له مسلمانانو سره يوځائي شي، نو هغه او د خاندان نورو غړو ته به يي څه نه ويل کيږي، او هغوئ ته د جايداد ساتني اجازه به هم ورکول کيږي. نو همداسي يي د طايف خلک مجبور کړل چې ښار مسلمانانو ته وسپاري، او مسلمانان هم چې څنګه ښار ته ننوتل ترټولو لومړئ يي د هغوئ جوماتونه ړنګ کړل. مونږ ته ويل کيږي چې کله مکه فتح شوه، نو رسول الله خلکو ته عامه بخښنه وکړه، او چاته يي څه سزا ورنکړه، حتی چې ابو سفيان هم وبخښل شو کوم چې د مسلمانانو بدترينه دښمن وو. خو مونږ ته دا نه ويل کيږي چې ابو سفيان د پيغمبر اسلام د يوې ښځې ميمونه بنت حارث ترورځوئ وو ... مونږ ته دا هم نه ويل کيږي چې کله مکه فتح شوه نو پيغمبر اسلام د لسو کسانو ليست خپلو عسکرو ته ورکړ چې که دغه خلک د کعبې په غلاف کې هم پناه واخلي، بيا به يي هم ژوندي نه پريږدئ قتل يي کړئ. په دغو لسو کسانو کې د پيغمبر اسلام د يو پخواني ملګري عبدالله ابن سعد نوم هم وو خو د هغه کيسه بيانولو دغه ځائ نه ده .... که لوستلو ته د چا زړه وو نو راته دې ووايي زه به يي په يوه ليکنه کې وليکم .

بل لورې ته که په مدينه کې د رسول اسلام د ژوند جايزه واخيستل شي، نو کعب بن اشرف، ابو رفيع، ابن سنينه، اسما بنت مروان او د يو سل او شل کلن عمر بوډا ابو افک د هغه د غصې قرباني کيدو والاوو په زرګونو نومونو کې څو داني وو. زما خيال خو دا وو چې له عمر سره سم په مزاج کې بدلون رامينځته کيږي، خلک خپله غصه قابو کې کول زده کوي. نسبتاً نرم مزاجه کيږي، خو له پيغمبر اسلام سره داسي څه وشول چې هغه په مکه کې د قيام په دوران کې خو ډير حليم مزاجه او بخښونکئ سړی وو، خو کله چې يي طاقت لاس ته راغئ نو د معافۍ او بخښلو داستانونه او کيسي هسي د خوب ليدل جوړ شول؟؟؟ په اخره کې يوه واقعه بيانول غواړم چې ډيرو کمو مسلمانانو به اوريدلي يا لوستلي وي.

انس بن مالک څخه روايت دی چې په مدينه کښې د عرينه قبيلې ځيني خلک رسول الله ته راغلل او د مديني د هوا د خرابوالي له امله ناروغان شول. رسول الله ورته وفرمايل: که مو خوښه وي د صدقي اوښانو خوا ته ورشئ او د هغو شيدې او بولې وڅکئ. هغوی همداسي وکړل او روغ شول، وروسته ئي شپانه ووژل او د اسلام څخه منکر شول او د رسول الله اوښان ئي وتښتول. دا خبر نبی ع ته ورسيده هغه خلک پسي ولېږل تر څو هغوی ئي راوستل او ورته ئي وسپارل. پيغمبر هم لاسونه او پښې ترې پرې کړل او د هغوی سترګې ئي په ګرمه اوسپنې وويستلي، وروسته ئي په ګرمي صحرا کې خوشي کړل ترڅو مړه شي .
صحيح بخاري (۱۴۰۵) صحيح مسلم (۳۱۶۲(

ماته به له همیش نه په غلا باندې لاس پرې کول یا په قتل باندې د سر قلم کولو سزاګانې ډېرې وحشیانه محسوسیدلې. خو په دغه واقعه کې خبره یوازې د سر قلم کولو یا لاس یا پښې پرې کولو پورې محدوده نه ده، د دواړو کسانو دواړه لاسونو او پښې پرې کړئ شوې، دوئ یې ړانده کړل او بیا یې په صحرا کې پرېښودل. ایا په اسلام کې د قتل همدا سزا ده؟

د ټولو دنیاوو لپاره رحمت رالیږونکي نبي څخه د دومره نقیص قلبي توقع کیدلئ شي؟ ما خو دا توقع نلرله، خو بیا مې د اسلامي تاریخ مطالعه وکړله ...... او بس......

نولسمه برخه:

ما چې له کله نه خپل داستان لیکل شروع کړئ ده. په تاسو کې ډیرو دوستانو زما خبرې په ډیر نفرت ډک انداز کې غندلې دي. ډیر دوستان داسې هم شته کومو چې په خلاص زړه زما خبرې منلې او په دلیل سره یې زما د قایل کولو کوښښ هم کړئ ده، چې زه غلط وایم او زما دین اسلام باندې پوهه ناقصه ده. ځینې دوستان داسې هم دي چې په دې سفر کې له ماسره یوځائ روان دي .دوئ هم زما په شانتې په یوې مسلمانې کورنئ کې زیږیدلي دي او مذهب د دوئ په رګ رګ کې هم ننوتلئ ده، خو زما په شانتې دوئ هم دغه پوښتنې پریشانه کوي. په دوئ کې خو ځینو خپل ځوابونه موندلي دي، او ځینې اوس هم د ګوډیو په مرسته کوم داسې جواز ګوري، چې په کوم شانتې د ابا او جد له عقیدو سره خښ پاتې شي. دوه درې ملګري داسې هم دي، چې نه یوازې زما کیفیت باندې ښه پوهیږي، بلکه هغوئ ته په خپل ذهن کې راپیدا شوې پوښتنې هم ماته رارسوي، چې ما د هغوئ په نسبت د مذهب ډیره مطالعه کړې ده شاید زه ورسره مرسته وکړم .همداسې یو دوست راته دا پیغام رالیږلئ ده، ښکاره خبره ده چې نوم یې نشم لیکلئ خو د هغه پوښتنه ټکي په ټکي را نقل کوم.........

وروره اوس خو مې حالت خراب شوئ ده. هیڅ نپوهیږم څه وکړم. لومړئ به مې له ډوډئ وړاندې دعا لوستله، د شپې ویده کیدو نه وړاندې دعا، سهار پاڅیدلو دعا، د قبرستان خواته تیریدلو دعا، تر دې چې د سیګریټ وهلو نه وړاندې به مې هم بسم الله ویله چې نقصان به کم وي. اوس مې دا پوښتنه په زړه کې رازي چې اوس دا ټول کارونه په کومو کلیمو شروع کړم. څه دا خو څه د نن سبا ژوندلیک وو . زه نن درڅخه دا پوښتم چې اخر څه وجه وه چې محمد د وحي او نبوت دعوه وکړه. دا ټوله لوبه اخر څنګه پیل شوه، د دې څه وجې وې او که دا واقعاً یوه لوبه وه نو څنګه دومره بریالئ شوه؟

اوس زه یې ځواب لورې ته راځم.....

زما محترم دوسته! زما مقصد هیڅکله دا نه ده چې زه دې تا په کومې ستونزې کې راګیر کړم، او که زما له دغې لیکنې څخه ستا زړه او مغزو ته کوم ټونګارئ رسیدلې وي، نو د دې مطلب زه دغه اخلم چې ته د سیرلیو او پسونو په شانتې پخپلو مشرانو پسې شاته روانو کې نه یې، بلکه یو هوښیار سړی یې او په هوښیارانو دا فرض عین وي چې که هغه هره عقیده وساتي نو د پردې ترشا هم یو عقلي او فکري تعقیب ورسره ګډ وي. ستا پوښتنه ډیره مهمه ده او زما لپاره هم تر مودو د پریشانی باعث وه ..... له نن څخه کوم پنځلس کاله وړاندې مې د پاکستان یو لوئ سفارتکار او استاد جوړ کړل شوئ یو فلم "لونګ اسلام" ولیده، په کوم کې چې د مختلفو هیوادونو د مسلمانانو طرز زندګي جایزه اخیستل شوې وه. دغه فلم د یو مسلمان فلم جوړونکي لخوا جوړ شوئ وو، نو ځکه خو په دې کې د مختلفو هیوادونو د مسلمانانو په رواجونو او د ژوند په اختلافاتو روښنایي اچولو کوښښ نه وو شوئ، بلکه په یو ډول سره یې اسلام سرلوړئ ښکاره کړئ وو .ما دغه فلم له بل لورې ولیده. ماته له ابتدا نه دغه پوښتنه ډیره په زړه پورې ده چې په هندوستان کې چیرته چې د محمد بن قاسم په مشرئ کې د حجاج بن یوسف غوندې د طاقتور حکمران فوځونو ډیره خونکارئ هم وکړه، خو د خلکو زړونه یې تسخیر نشوائ کړئ، هلته صوفي مشرانو په څه ډول سره اسلام دومره وغوړاوو .دا څنګه ممکنه وه چې کوم خلک د تورې د طاقت په زور باندې یو مذهب د قبلولو باندې مزاحمت وکړي هغوئ د دغو مشرانو پر وړاندې د موم د غوړو په شانتې ویلې شول.

د دې پوښتنې ځواب ما د کلچر یعني د ثقافت په صورت کې وموند. د برصغیر د مسلمانانو اکثریت د صوفي کرامو په لاسونو اسلام قبول کړ. کله چې اسلام د محمد بن قاسم په صورت کې دلته راورسیده، نو مقامي خلکو ته په دې کې کوم کشش ښکاره نشو. د صوفیانو په خواره شوي اسلام او د محمد بن قاسم په اسلام کې چې کوم بنیادي فرق ماته معلوم شو هغه د ثقافت وو. هندوستان د نړئ له قدیمو هیوادونو څخه یو وو، او دلته مقامي ثقافتونه په خپل مینځ کې د مختلفونو باوجود هم په ځینو څیزونو کې سره ډیر مشابهت درلود، چې په دغو کې موسیقي د یادولو وړ ده. د دوئ ترټولو لوئ مذهب په هندومت کې موسیقي او ګډا دوه ډیر بنیادي څیزونه وو. صوفي بزرګانو اسلام له مقامي ثقافتونو سره د متناسب کولو لپاره په اسلام

کې موسیقي داخله کړه، د کومې چې ابتدايي شکل د قوالي وو. په هندو مذهب کې د کفر کوم تصور موجود نه وو، سره له دې چې له عربو څخه راغلي مذهب اسلام کې د توحید پوښتنه مرکزي وه. په هندومت کې د رنګارنګ خدایانو او الهه ګانو (ښځینه خدایانې) مخ ته یو عام وګړئ سفارش کولو ته موجود وو، خو د عربو په اسلام کې د دې ګنجایش موجود نه وو. بل لورې ته چې په مقامي ژوند کې څو لوئ لوئ عیبونه موجود وو، په هغو کې یو د ارثي نظام (هغه نظام چې خلک پکې د ثروت نسب او اجتماعي موقف په اساس ویشل شوي وي) وو، چې دغه نظام په میلیونونو خلک د همیشه لپاره په سپکئ او د ذلالت په کندو کې یې دفن وساتل. خو څنګه چې صوفیانو د اسلام مذهب مقامي ثقافت ته نژدې راوړ، د ټولنې هغه ټولې ګیرې شوې طبقې، کومو به چې د ګیتا څو حرفونو اوریدلو په عوض کې په غوږونو کې د ویلې شوې وسپنې اچولو غوندې ضررې سزاګانې ورکولې، ناڅاپي دغه نوي مذهب لورې ته مایل کیدل شروع شول، کوم چې د دوئ مذهب ته ورته وو خو په دې کې د غټ واړه، اعلی ذات او ټیټ ذات کوم تصور نه وو. د هندوستاني تاریخ مطالعې څخه معلومیږي چې دغو مسلمان مشرانو به هغه خلکو ته کوم به چې په مقامي ټولنه کې ټیټ او سپک خلک ګڼل کیدل خپل برابر ځائ به یې ورکوو او د هغوئ عزت نفس به یې بیا روغوو. د کومې له وجې چې هندوستانیانو ډیر په تیزئ سره اسلام قبول کړ.

په هندوستان کې د هندومت زوال، د سیکه ایزم پیدایښت او د اسلام په ترویج کې همدغو عواملو رول ولوبولو. که له دې پرته نور عوامل وو هم نو هغوئ ته مرکزي حیثیت حاصله نه ده .... اوس مونږ بیرته راګرځو خپلې پوښتنې ته ..... ما په کومې تیرې برخې کې یادونه کړې ده چې زما په نزد چې کله پیغمبر اسلام د نوي مذهب بنیاد کیښود، نو د هغه مقصد شاید بلکل د یو نوي مذهب قایم کول نه وو، بلکه هغه یهودیت او عیسویت ته ټکان ورکول ثابتول غوښتل. له دې سره په تاریخ کې داسې اشارې هم لیدل کیږي چې هغه له عیسویانو څخه ډیره له یهودیانو سره دلچسپي لرله، ځکه چې په عربي جزیره کې یهودیان په مستعد لحاظ سره د مال و دولت او د ځمکو څښتنان وو. د مسلمانانو بیت المقدس لورې ته لمونځ کول د دې خبرې ثبوت ده چې پیغمبر اسلام د یهودو د خوشالي لپاره ډیر کوښښ وکړ، او خپله لار یې یوازې هغه وخت جدا کړه کله چې د یهودیانو له لورې بیخي مایوسه شو....

اوس پاتې شوه دا خبره چې د اسلام په ابتدا کې د حضرت محمد څه ارادې وې، ما خو چې په څومره اندازه سره د اسلام، قران او سیرت النبي د کتابونو مطالعه کړې ده، له دغو ټولو نه ما همدغه نتیجه راکاږلې ده چې د محمد زمه واري یوازې د مکې او شاؤخوا نږدې سیمو ته د اسلام غوړولو پورې محدوده وه، خو چې مدینې ته په تګ سره هغه زور او طاقت ترلاسه کړ، نو د دغه طاقت په زور یې مکه هم فتح کړه، او د هغه ارزوګانې بدلې شوې، او اوس د هغه نظر د ټولې عربي جزیرې په لورې شو. په همدې موقع باندې هغه فیصله وکړه چې د هغه مذهب به د ټولې عربي جزیرې مذهب وي. کله چې د پیغمبر اسلام د وفات شیبې وې نو هغه چې خپلو پیروانو ته کوم حکم جاري کړ، د هغه الفاظ څه داسې وو چې:

ابن عباس څخه روایت ده چې حضرت محمد د دریو شیانو حکم وکړ، یو دا چې ټول کفار دې د عربو له سیمو څخه وشړل شي، دویم دا چې د غیر هیوادونو د نمایندګانو عزت دې وکړئ شي او هغو ته دې سوغاتونه ورکړل شي، او دریمه خبره د ابن عباس له یاده وتلې وه) .... صحیح بخاري کتاب ۵۹، حدیث نمبر ۷۱۶(

د قران پیغام د مکې او شاؤخوا سیمو ته د محدودیدا ثبوت مونږ ته پخپله په قران کې موجود پیدا کیږي. دغه ایاتونه مونږ ته ښکاره وایي چې پیغمبر بار بار خپل قوم ته وویل چې د هر قوم لپاره پیغام د هغوئ پخپله ژبه کې ورته لیږدول کیږي او قران د مکې او شاؤخوا نږدې سیمو کې د اوسیدونکو لپاره د هغوئ پخپلې ژبې عربي کې رالیږل شوئ ده، د یو داسې رسول په لاس چې د هغوئ پخپلې ژبې باندې خبرې کوي ځکه چې هغه مو سم پرې پوهولئ شي .زه دلته یوازې د ایاتونو ژباړې او حوالې را نقل کوم، د دې په لوستلو سره مو خپل ذهن پخپله جوړ کړئ چې د قران د لیکونکي په ذهن کې دا خیال وو یا نه چې هغه اسلام ټولې نړئ ته رسول غواړي....

سورت یوسف دوهم نمبر ایت:
بیشکه چې مونږ نازل کړې دې دا کتاب په دې حال کې چې قران عربي دې دپاره د دې چې تاسې پوه شئ.

سورت الانعام ایت نمبر ۱۵۵-۱۵۶:
او په همدې ډول موږ دا کتاب نازل کړیدی، له برکته یو ډك کتاب دی. نو تاسې د دې پیروي وکړئ او د پر هيزګارئ کړنچاره غوره کړئ. لیری نه ده چې پر تاسې رحم وشي. اوس تاسې دا نه شئ ویلای چې کتاب خو زموږ څخه مخکې دوو ډلو (یهود او نصارا) ته ورکړ شوی ؤ، او موږ هیڅ خبر نه وو چې هغوی څه ولوستل او څه یې زده کړل.

)يعني الله په موسى باندې يو مكمل كتاب نازل كړئ وو، خو هغه په عربي نه وو، او چيرته تاسو داسې ونه وايئ چې تاسو په هغه پيغام نه پوهيږئ نو ځكه مونږ تاسو ته دا كتاب درولیږه... (

سورت الشورى ايت نمبر اووم:
هو، په همدې ډول اې پېغمبره (ص) دغه عربي قُرآن موږ تا ته وحيي كړى دى، تر څو چې ته د كليو د مركز (د مكې د ښار) او د هغه د خوا او شا اوسېدونكي خبردار كړې او د غونډېدو (قيامت) د ورځي څخه يې وويروې، چې د هغې په راتګ كې هيڅ شك نه شته. د يوې ډلې تلل به جنت ته او د بلې به دوږخ ته دي .

د سورت الانعام ايت نمبر ۹۲ :
دا يو كتاب دى چې موږ نازل كړيدى، له خير او بركت څخه ډك دى، د هغه څه تصديق كوي چې له ده څخه مخكي راغلي ول. او ددې په خاطر نازل كړاى شويدى چې ته په هغه سره د كليو دا مركز (مكه) او د هغې په شاوخوا كښې اوسېدونكي تنبيه كړې.

سورت ابراهيم ايت نمبر څلورم:
موږ چې د خپل پيغام رسولو لپاره هر كله كوم پېغمبر لېږلى دى، هغه ته مو د خپل قوم په ژبه پيغام وركړيدى. تر څو چې په ښه شان په روښانه توګه هغوى په خبره پوه كړي.

زه يقين لرم چې كه پيغمبر اسلام نن سبا راشي او د خپل مذهب خپريدا وګوري او د اسلام پالو هغه رنګا رنګ ګلان چې په مختلفو ډلو او سيمو كې يې كرلي دي وګوري، نو خپله به هم ډير زيات حيران شي.



**شلمه برخه:**

زما په ياد دي په ماشومتوب كې به چې كله ډوډئ خوړلو ته كښيناستو نو په خبرې خبرې به مې مور رټلم. خپل قاب دې خالي كړه. رزق په ځمكه مه غورځوه، ګوره چې چيرته په ځمكې غورځيدلې د ډوډئ په ټوټې دې پښه ونه لګيږي، د رزق په توهين كولو سره په رزق كې كمښت راځي، وغيره وغيره ...... همداسې د رمضان په مياشت كې به يې ليكچر راكوو، چې روژه ونيسم ترڅو احساس درته وشي چې غريب وږي خيټي څنګه محسوسوي. دخدائ شكر ادا كړه چې هغه تاته د مړې خيټي ډوډئ در نصيب كړه، په دنيا كې په زرګونو خلك په خيټو باندې كاڼي تړي نو ځكه خو ژوندي دي .... داسې

خبرو اوریدلو اوریدلو باندې مې نور غوږونه پاخه شوي وو، خو مور مې د دې خبرو په تکراریدلو نه ستړې کیدله. بیا یوه ورځ داسې وشول چې ماته د یوې کیسې اورولو ته کښیناسته، په کوم کې چې یو چا یوه تیږه ماته کړه او وئ لیدل چې د هغې تیږې دننه یو چونجئ موجود وو، او ورسره یوه تکه شنه د کوم بوټي پاڼه هم پرته وه. "ودې لیدل هغه رزاق روزي رسونکئ څنګه په یوې تیږې کې دننه چونجي ته هم رزق رسوي، د دې لپاره چې هغه زمونږ د رزق زمه واري په خپله غاړه اخیستې ده" د مور خبرې مې روانې وې خو زما ذهن کومې بلې نړئ ته رسیدلی وو .

ما د خپلې کیسې په ابتدا کې چیرته د یو هلک یادونه کړې وه، چې زما همځولئ وو خو زمونږ په مکتب کې یې چپړاسیتوب کولو . هغه غریب ته یې څومره رزق ورکوو ما څو ځلې په خپلو سترګو لیدلئ وو. کله به چې مونږ د مکتب د تفریح په وخت کې چاکلیټ وغیره اخیستل نو هغه به له لرې څخه مونږ په کینټین کې یوځائي لیدلو، د هغه سترګو حال ویلې چې کومه یوه روپئ چې مونږ په چاکلیټو خرچ کړې ده، هغه په دغې یوې روپئ د ډوډئ اخیستلو خوبونه ګوري. له مور سره خو مې د دې خبرې ځواب نه وو چې هغه په تیږې کې دننه چونجي ته رزق رسونکي خدائ ته هغه په سرک ماته ګوډ خوځیدونکي ملنګان ولې نه ښکاري؟ خو دغه پوښتنه همیشه له ماسره پاتې ده. کله چې لوئ شوم او له خلکو سره مې د خبرو کولو همت ترلاسه کړ، نو له یو مولانا څخه مې همدغه پوښتنه وکړه، صیب خو ټوله خبره تاؤ کړه، اې بابا دا ټولې د خلکو جوړې شوې خبرې دي، الله پاک خو په قران کې فرمایي چې څوک څومره کوښښ کوي هغه به هغومره ترلاسه کوي. زه لا دې ذهني بلوغیت ته نه ووم رسیدلی چې ملا نور هم ایسار کړم، خو هغه ورځ زما په ذهن کې یوه خبره ښه کښیناستله، او هغه دا وه چې مسلمان (یا د هر کوم مذهب منونکئ) د خپل خدائ په بیان کړل شوې غلطۍ کې خامخا یو نه یو تشریح ورزیاتوي ..... دغه تشریحات ځینې وخت ډیر معقولیت هم لري خو زیاتره وخت دومره احمقانه او بچګانه وي چې له خندا نه ورته د سړي په تسو درد شي. که تاسو په حدیثونو کې کومې غلطۍ ته اشاره کوئ نو درته به ویل کیږي چې بعضې حدیثونه کمزوري دي. که تاسو په سیرت الرسول کې د کومې خبرې حواله ورکړئ نو درته به ویل کیږي چې دغه کتابونه خو انسانانو لیکلي دي وغیره .... د مسلمانانو دغو تشریحاتو ته په کتلو سره ماته معلومه شوه چې په قران کې د ګډ وډیو ځواب کوم مسلمان نشي درکولئ. هغوئ خو د تشریحاتو ګډولو کوښښ کوي، خو په هغو کې به ګنجایش ډیر کم پاتې شي .

کله مې چې قران په تفصیل سره ولوستلو، نو ځینې خبرې چې په هغه کې لیکل شوې وې نو زه یې ډیر سخت حیران کړم. د ذوالقرنین د لمر لویدنې ځائ ته د رسیدلو کیسه مې وړاندې بیان کړې ده، خو کوم شي چې زه ډیر حیرانه کړم هغه د الله دا دعوه وه چې هغه ته د هر څه علم شته او بل دا چې د کوم شي علم چې له خدائ سره ده، هغه له انسان سره کیدی نشي. زما لپاره دا خبره د حیرانی باعث وه ځکه چې ماته په ښه توګه معلومه وه چې زما په شانتې د هر انسان په فطرت کې د پلټنې عنصر وي، کوم چې هغه د معاملاتو بیخ ته رسولو باندې پوهوي. نو په داسې حالت کې څنګه ممکنه ده چې انسان دې نوي علوم او نوې دنیاوې پیدا نه کړي؟ د سورت لقمان په ایت نمبر ۳۴ کې لیکل شوي دي "په یقیني توګه، د هغه ساعت (قیامت) علم له الله سره دی، هماغه باران وروي، هماغه پوهیږي چې د میندو په ګېډو کي څه روزل کیږي، هیڅ یو نفس نه پوهیږي چې سبا هغه د څه کار کوونکی دی؛ او نه څوك په دې خبر دی چې په کومه ځمکه کي هغه ته مرګ راتلونکی دی" ........... همداسې د سورة الرعد ایت نمبر ۸ کې راغلي دي "الله د هري حاملې (اومیدواري، بلاربي) ښځې له ګیډې څخه خبر دی. څه چې په هغې کښې جوړیږي، په هغه هم پوهیږي؛ او په هغه کښې چې څه کمی یا زیاتوالی راځي، له هغه څخه هم با خبره دی. د هر شي لپاره یې یوه اندازه ټاکلې ده" کله چې له کوم عالم څخه دا وپوښتل شي چې صیب د پیغمبر اسلام په زمانه کې خو سمه ده چې یوازې خدائ ویلئ شول چې د کومې مور په ګیډه کې هلک ده او که انجلئ؟ خو نن سبا خو د دوه څلور سوه روپو الټراساؤنډ معاینه درته ویلئ شي چې د راتلونکي ماشوم جنس څه ده؟ نو غلطه شوه کنه چې یوازې له الله سره د ماشوم د جنس علم شته. همداسې نورې ډیرې بابولالې به هم واؤرئ ....

یو صیب وفرمایل چې ته د ایت په روح پوئ نشوې الله پاک فرمایي چې یوازې ماته معلومه ده چې هغه ماشوم چې د مور په ګیډه کې ده، هغه چې پیدا شي نو څنګه به وي؟ هغه به نیک وي یا که بد؟ په ژوند کې به ښه ډیر کوي یا بد وغیره؟ د مولانا صیب په دغه وضاحت خو زما سر خلاص نشو، خو ماته داسې ویل شوي دي چې په دغو خبرو یوازې ایمان لرونکي پوهیږي ...... ایمان لرونکي څنګه پرې پوهیږي او زه نه؟ نو د دې وجه ښکاره څرګنده ده، ایمان لرونکي لومړی د کتاب پر صداقت ایمان راوړي او بیا یې لولي، چې په کتاب کې څه لیکل شوي دي او دغه کار زمونږ د جاهلانو د وس خبره ده هم نه .......


په قران کې که الله په زرګونو دعوې نه دي کړې نو په سلګونو خو خامخا دي. په هغوئ کې زیاتره داسې دي چې له اول نه غلطې ثابتې شوې دي، خو د هغو باوجود هم مسلمان ملګري دا اصرار کوي چې د قران یو یو ټکئ دایمي ریښتیا دي........

په قران کې چې کوم ډېر دايمي ريښتيا ليکل شوي دي، د هغوئ له جملې څخه يو د يهوديانو په اړه هم ده. الله پاک مونږ ته وايي چې يهوديان حضرت عزير د خدائ زوئ ګڼي.... اوس عجيبه دا ده چې د يهودو په عقيده د هغوئ په کتابونو کې له تورات څخه تر تالمود پورې په هيڅ ځائ کې د دې خبرې په اړه هيڅ اشاره نه ليدل کيږي چې د حضرت عزير دې له خدائ سره داسې قسم ته کومه خپلوي وي. په انجيل کې هم داسې قسم ته کومه خبره نشته. که د عيسويت په ابتدا کې د عيسويانو او يهوديانو ترمينځ مخالفت رامخې ته کړو نو د يهوديانو دغه شرک تر ټولو وړاندې عيسويانو ته بې نقاب کول وو، خو نه يوازې دا چې انجيل په دې اړه چوپ ده بلکه حضرت عيسى هم هيڅ کله په يهوديانو د شرک الزام نه ده لګولئ. دلته په سورت التوبه ايت نمبر ۳۰ کې الله پخپله دغه الزام په ډېر ډاډ سره لګوي چې هغوئ عزير د خدائ ځوئ ګڼي.

په لومړيو کې چې کله د قران دغه دعوه چيلينج کړئ شوه، نو عربو علماوو د دې ځواب دا راوکاړه چې د يمن ځينې يهوديان دغه عقيده لري ..... لګ د ايت ياد کړل شوې برخه يو نظر ګورو ..... "يهوديان وايي چې عُزير(ع) د الله زوئ دی او عيسويان وايي چې مسيح (ع) د الله زوئ دی" دلته خو ماته څه داسې نه ښکاري چې ځينو يهوديانو دې عزير د الله زوئ ګڼلی وي، د دې ايت له مخې خو ټول يا د دوئ زياتره برخه دغه اعتقاد لري .... اوس پوښتنه دا راولاړيږي چې ايا الله ته د يهوديانو د عقيدې سم علم نه وو؟ که وو نو الله په قران کې دغه غلط بياني ولې وکړه؟ چيرته داسې خو به نه وو چې محمد صيب ته د عيسويانو پر خلاف د تثليث څټک په لاس ورغلئ وو، د يهودو پر خلاف خو يې د عزير تبرګئ پخپله اماده کړ .

اوس لګ راشئ دې دعوې لورې ته چې د يمن ځينو يهودو دا عقيده درلودله ..... د يهودي تاريخ ( Encylopedia Judaica) په مطابق په يمن کې اوسيدونکو يهوديانو ته عزير اسرائيل ته د تللو وويل، نو هغوئ پاتې شول، په کوم چې عزير هغوئ ملامت کړل، او هغوئ له ده څخه دومره مرور شول چې هغوئ پر ماشومانو د عزير نوم نه کيښودلو عهد هم وکړ ...... اوس لګ غور وکړئ، قران وائي چې هغوئ عزير د الله زوئ بللو، او د دې دعوې کوم معمولي ثبوت هم چيرته موجود نه ده، نو ايا مونږ دغه دعوه درسته منلئ شو؟؟؟ زما په خيال منلئ يې شو، خو په هغه صورت کې چې لومړئ د قران په حقانيت باندې ايمان راوړل شي، او بيا ولوستل شي ( او وو د تالمود په حوالې سره مې يوه خبره راياده شوه ..... په تالمود کې يو ځائ ليکل شوي وو ... چا چې يو روح وژغوره، هغه د ټولې نړئ روحونه وژغورل، او چا چې يو روح ختم کړ، هغه د نړئ ټول روحونه ووژل .... نپوهيږم ولې ماته دغه جمله څه اشنا اشنا غوندې ښکاره شوه) ... .

لکه څنګه چې مې د يهوديانو په اړه مخکې يادونه کړې وه چې د محمد خواهش وو چې يهوديان او مسيحيان دې هغه خپل پيغمبر وټاکي او د قران په مکې سورتونو کې به تاسو هسې په يهودو او مسيحيانو کې د ښو خلکو د موجودوالي يادونه وګورئ او د هغوئ د کتابونو توصيف به هم وګورئ ..... زه د هغه تفصيل ته نه ځم ځکه چې خبره به بيخي اوږده شي .... لنډه دا چې په قران کې زياتره شوې دعوې په بشپړه توګه بې بنياده دي، او که هغه په غور سره ولوستل شي نو څرګنديږي چې د هغه وخت د حالاتو مطابق پيغمبر اسلام هم خپل پيغام تنظيمولو او د هماغه نتيجه ده چې د کوم ثبوت بغير د يهودو او مسيحيانو باندې يې د خپلو کتابونو د بدلون الزام لګولئ ده، که څه هم په قران کې هم دغه خبره څه داسې شانتې نه ده ياده شوې. که د قران ايت ته لاړ شو نو هلته يوازې دومره ويل شوي دي چې دغه خلک د الله کلام په داسې انداز سره لولي چې معنى يې څه بله راوځي. د مسيحيانو او يهوديانو حوالې سره د مسلمانانو دا دعوه هم ډيره احمقانه ده چې د هغوئ په کتابونو کې د پيغمبر اسلام د راتګ وړاندوينه شوې وه. دلته هم د خبرې اوږدولو نه ډډه کووم. که کوم مسلمان دوست دا ثابتولئ شي



**یویشتمه برخه:**

An important Note
Here is a note that I .Dear frieds I am sorry for I have been away for quite some time now
posting it now so I get pushed enough to complete started writing but couldn't quite finish. I am
it by my friends
Hope this would help me get back to writing once again and completing this document at last

زما مور یو ښایسته زړه لرونکي ښځه وه. د هغې تعلق خو له یو بریلوي کورنۍ څخه وو، خو هغه به محرم مجلسونو ته هم تلله. زما په یاد دي د عاشوره په ورځ به هغې مونږ ماشومان له ځان سره د امام بارگاه ته وړلو، چیرته به چې د نورو ماشومانو په لیدو سره ما هم خپلې سینې ته ورو ورو څپیړې ورکولې، دلته په کور کې به د یولسمي ختم هم کیدلو. هره پنځنۍ به مو په دوډۍ دعا لوستلو وروسته هغه په غریبانانو تقسیموله. لنډه دا چې د اسلام د مذهب ټول رسمونه یې قبول وو.

که د پیغمبر اسلام یادونه به وه یا د علي، د ابوبکر خبره به کیدله یا د نظام الدین اولیاوو، د حضرت عایشه یادونه به کیدله یا د حضرت عثمان،،، هغې به د ټولو رعایت کوو، او مونږ ته به یې هم را زده کول. بیا یوه ورځ څه وشول چې د کور د نارینه وو د خبرو په مینځ کې د جنگ جمل یادونه په سرسري انداز کې وشوه. زما لپاره دا یو ډیر غټ انکشاف وو چې د حضرت علي او د حضرت عایشي د فوځونو ترمینځ د رسول الله له وفات نه وروسته باقاعده جنگ شوئ وو. ما خو په مکتب کې دا لوستلي وو چې حضرت علي په ماشومانو کې لومړئ ایمان راوړونکئ، او د رسول پاک گران د تره ځوئ وو. دا هغه حضرت علي وو چې د هجرت په شپه پیغمبر اسلام پخپلې بسترې ویده کولو نه وروسته پریښئ وو. ما په مکتب کې دا هم لوستلي وو چې حضرت عایشه د رسول پاک ترټولو خوږه او گرانه ښځه وه. حضرت محمد د حضرت عایشي په اړه ویلي وو چې هغه په ښځو کې یو لوړ مقام لري .... دا څنگه ممکنه شوه چې د پیغمبر دوه خواږه او نږدې خپلوان نه دا چې سره خفه شول بلکه په باقاعده توگه یې جنگ وکړ په کوم کې چې په سلگونو مسلمانان دواړو خواوو ته ووژل شول .... یوه پوښتنه دا هم وه چې د کومې ډلې لخوا جنگیدونکي به د شهید مقام ترلاسه کوي؟ ځکه چې دواړو غاړو ته مسلمانان وو او دواړه د اسلام په خاطر جنگیدل؟؟؟؟

ډیر کتابونه مې ولوستل او له ډیرو خلکو مې وپوښتل چې داسې ولې وشول؟ ځینو وویل چې غلط فهمي شوې وه که نه دوئ پخپل مینځ کې یو بل سره ډیره مینه درلودله. بعضو وویل چې حضرت عایشي د الله د خوږ پیغمبر دوست عثمان غني د قتل مسولان د عدالت کردار ته رسول غوښتل، خو د حضرت علي له لوري هغو خلکو ته تحفظ ورکول کیده. ځینو بیا ویل چې حضرت عایشي د علي په خلاف کینه لرله او پخپله پیغمبر پخپل ژوند کې ویلي وو چې فتنه به پخپله د ده له کور څخه راوځي. ځیني خو داسې هم وو، کومو چې ویل چې جنگ جمل خو بیخي شوئ هم نه ده یوه وړه شانتې غلط فهمي وه کومه چې د حضرت علي او حضرت عایشي په ملاقات کولو کې لرې شوه.

ما چې کله په دغې پوښتنې تحقیق وکړ نو کوښښ مې وکړ چې په پوره انصاف او د تحقیق تقاضې وړاندې په کینښودلو سره کومې نتیجې ته د رسیدلو کوښښ وکړم. په تحقیق کې دا ډیره ضروري ده چې د واقعاتو صحت دې هغه وخت تسلیم کړئ شي کله چې ستا په وړاندې راتلونکي واقعو د تصدیق کولو کومه استبدادي سرچینه هم موجوده وي. خو په هر صورت داسې معلومه شوه چې د حضرت عایشي او د حضرت علي ترمینځ شخړې له ډیر پخوا نه تخم شیندلئ وو. جنگ جمل یوازې د همدې اوږدې شخړې یوه نتیجه وه. لگ فکر وکړئ، پیغمبر اسلام د الله او د هغه د خوښې دین د سرلوړئ لپاره شپه او ورځ له کفارو سره په جهاد کولو کې مصروفه وو، که د هغه یو طرف ته ابوبکر ده نو بل طرف ته علي، که یو طرف ته عثمان ده نو بل طرف ته طلحه بن عبیدالله ....... خو کله چې منظره بدلیږي، نو یو طرف ته د ابوبکر لور حضرت عایشه ده او د هغې په خوا کې طلحه او بل طرف ته حضرت علي ده او له هغه سره په لسگونو صحابه کرام. زیاتره مسلمانان دغه د غلط فهمۍ نتیجه گڼي، خو لگ ودریږئ ... یو طرف ته د پیغمبر د تره ځوئ بل طرف ته د پیغمبر ښځه، ایا په دوئ کې غلط فهمیانې دومره په اسانۍ سره راپیدا کیدئ شوې؟ ایا دغه خلک دومره سادگان وو چې د پیغمبر سترگې په بندیدو سره سم سازشي خلک په دوئ برلاسي شول چې دوئ پخپل مینځ کې جنگ کولو ته اماده کړي؟

د پیغمبر اسلام ښځې امهات المومنین یعني د مسلمانانو مورگاني بلل کیږي، دا د بل چا نه د خدائ حکم ده چې دغه ښځې د ټولو مسلمانانو میندې دي. او بل طرف ته وگورئ نو د حضرت علي باره کې پخپله پیغمبر اسلام له حجة الوداع نه په

راستنیدو سره د غدیر خم په سیمه کې د حضرت علي یو لاس ونیوو او په واضحه انداز کې یې اعلان کړئ وو د چا چې زه ښونکئ یم د هغه حضرت علي ښوونکئ ده. یعنې یو لوري ته زما والده ده چې د نبي د فرمان له مخې نه زما لپاره د درنښت لایقه ده او بل لوري ته علي چې زما ښوونکئ ده او دوئ دواړه پخپل مینځ کې داسې جنګیږي په کوم کې چې په سلګونو مسلمانان پخپلو وینو کې لمبیدلي دي...... که زه هغه ځائ کې موجود وائي نو زه له چاسره یوځائي شوئ ووم؟ د چا له لوري باید جنګیدلئ وائ؟ ....... دغو پوښتنو زه د هر مسلمان په شانتې پریشانه کړم او کله مې چې ځیرنه وکړه نو دا راته معلومه شوه ...



**دوه ویشتمه برخه:**

ما چې کله د خپل ژوند داستان لیکل شروع کړل نو وړاندې مې څه واضحه مقصد نه وو. یو ورک شانتې ووم، د خپل زړه بوج مې لرې کول غوښتل د کومې چې به تاسو ته هم خامخا تجربه شوې وي بیا داسې وشول چې هر نوي راغلي کفارو مختلف شانتې پوښتنې کول شروع کړې. له هر چاسره به مې وعده کیښودله چې د هغه د پوښتنې ځواب به ضرور لیکم، خو د ژوند مصروفیتونو هیڅ مهلت رانکړ چې د خپل ژوند داستان لیکل جاري وساتم. اوس کوم یو کال وروسته فیسبوک ته واپس راغلئ یم بیا هم د میسیجونو امبار پروت ده چې د لوستلو همت هم نشم کولئ. بیا هم کوښښ کوم چې روزانه یو دوه میسیجونه ولولم او د هغوئ ځواب هم ولیکم. فی الحال د کیسې تحریک بحال کولو سره ځینو بنیادي پوښتنو باندې خبرې کول غواړم. هغه خلک کوم چې اوس د خپل عملي ژوند اغاز کونکي دي او هغوئ دا شانتې پوښتنې پریشانه کوي شاید د هغوئ په درد وخوري ....

ما په خپلې کيسې کې ځاۍ ځاۍ د دغو پوښتنو يادونه کړې ده، د کومې له وجې چې ممکنه ده ډېرې خبرې دلته تکراري هم شي، د هغو بخښنه غواړم. د دومره اوږدې وقفې نه وروسته مې بيا ليکل شروع کړل نو که څه لاندې باندې وو هغه برداشت کړئ. زما په شانتې ستاسو په ذهن کې به هم له وړکتوب نه واخله تر بلوغيت پورې په رسيدو رسيدو به په زرګونو پوښتنې پيدا شوې وې. مختلف انسانان له دغو پوښتنو نه په مختلف انداز کې مطلب اخلي، ځينې توبه او استغفار کوي او کوم ملا يا مشر ته ځان وررسوي چې هغه يې د اخوا ديخوا کيسو په اورولو سره قايل کوي، چې دا پوښتنه په اصل کې د شيطان وسوسه وې، او دغه پوښتنه کونکي په توبې ويستلو باندې شيطان پخپلې اراده کې سخت ناکام کړ. او ځينې بيا داسې خلک هم شته چې هغوئ توبه نه کاږي بلکه د څېړنې او تحقيق لاره نيسي. په وړکتوب کې د کوم شاعر شايد د موهن سنګ نوم وو د هغه شعر مې اوريدلۍ وو:

رب اک گنجھل دار بجھارت رب اک گورکھ دھندا
کھولن لگیاں پیچ ایس دے کافر ہو جائے بندہ
کافر ہونوں ڈر کے جیویں کھوجوں مُل نہ کُھنجیں
لائی لگ مومن دے کولوں کھوجی کافر چنگا

بيا مې پريکړه وکړه چې هر څنګه چې کيږي، مسلمانی ته مې زړه نشته کافر کيده مې قبول دي......

اوس راځو پوښتنو ته:
لومړنۍ پوښتنه خو دا ده چې ايا خدای چيرته موجود هم ده او که نه؟
که ده، نو ايا هغه له انسانانو سره تماس هم نيسي که نه؟
که تماس نيسي نو ايا د عيسی، موسی او محمد سره رابطه کونکۍ واقعي خدای وو؟

لکه څنګه چې زه په يوې مسلمانه کورنۍ کې پيدا شوئ ووم، همداسې زما د پوښتنو دايره هم تر اسلام محدوده پاتې شوې ده، خو که ستا تعلق هم له هر مذهب سره وي، پوښتنې هم يو شانتې دي او د هغوئ ممکنه ځوابونه هم. تر کومه چې د خدای د وجود تعلق ده، نو تر نن پورې کوم فلسفي، کوم سائينسدان، کوم ملا او کوم پادري دا نشي ثابتولئ چې د خدای کوم تصور چې په نړۍ کې عام ده، هغه په اصل کې موجود هم ده او که نه؟ . ډير هغه خلک چې خدای مني، تاسو ته به داسې وائي چې د هغه زړه وائي چې خدای شته .... اوس که فکر وکړئ شي نو د زړه ويل د خدای د وجود ثبوت نشي کيدلئ. کله چې ته پنځلس کلن وې نو ستا زړه به تاته دا هم ويل چې هغه فلانکۍ انجلۍ په تا مري ..... ستا زړه به دا هم ويل چې نن به د هغې زنګ خامخا راځي .... افسوس چې يوازې د زړه ويل د خدای د وجود ثبوت نه ده او عامه قاعده همدا ده چې دعوه کونکۍ بايد د دعوې ثبوت وړاندې کړي، کوم چې خدای غوښتونکي يې نشي وړاندې کولئ ..... راځئ مثلاً خدای موجود ده، نو راتلونکې پوښتنه به دا وي چې ايا هغه له انسانانو سره رابطه نيسي؟
د دې ثبوت هم تراوسه هيڅ چا وړاندې نکړ. موسی، نوح، عيسی او محمد صاحبانو پورې ټولو همدا دعوې کولې چې د هغوئ له خدای سره په ژوندۍ بڼه يا د کومې پرښتې په مرسته اړيکه ټينګه شوې ده. اوس مونږ ته يوازې د هغه په ژبې يقين کول دي، د هغې د دعوې هيڅ ثبوت نه ترې غواړو. لګ فکر وکړئ، که نن سبا کوم کس پاځي او دعوه وکړي چې جبرايل ده ته تشريف راوړئ وو او داسې نور څه له ځانه ووايي، نو باور وکړئ په دوه دقيقو کې به يې په ايمبولانس کې کوم دماغي روغتون ته ورسوي ...... ولې؟؟؟ که د ده دماغ خراب دي، نو د هغو پيغمبرانو په اړه ولې داسې شک نشته؟ خبره د فکر کولو ده خو د دې لپاره دغه ادب او ادبونه يو طرف ته کيښودل دي کوم چې والدين يې راته د ماشومتوب په وخت کې شپه او ورځ اچوي.

له ماشومتوب سره مې ياد شول زه ډير وړوکئ ووم کله چې په باغ آذاد کشمير کې يو سړي خپله لور حلاله کړه، په ورځپاڼې کې راغلي وو چې د دغه سړي په مطابق هغه ته په خوب کې د الله له لورې خپله لور د الله په لاره کې د قربانولو حکم شوئ وو، په کوم چې هغه عمل وکړ .... څرګنده ده چې دغه کس ونيول شو او زندان ته هم واچول شو. خو دغه پوښتنه له کلونو راهيسې مې په ذهن کې ګرځي راګرځي چې حضرت ابراهيم خو هم کټ مټ همداسې خوب ليدلئ وو، که هغه ته په خوب کې راغلئ د خدای حکم جايز وو، نو د دې سړي حکم ولې ناجايز شو؟ ډير سوچ مې وکړ خو هيڅ پوه نشوم، نو له مور څخه مې وپوښتل نو د مور مې چې څه ځواب وو د هغه اندازه خو به تاسو ته شوې هم وي. "بچيه حضرت ابراهيم د الله پيغمبر وو او دغه سړی کوم ليونۍ وو ....." نپوهيږم ولې زه له دغه ځواب نه مطمين نه شوم خو څه مې کولئ شول ... لس دولس کلن ماشوم نو څه کولئ شي او هغه هم د پاکستان په شانتې يو هيواد کې ....... خير وړاندې ځو، که

فرض کړو خدائ کتابونه هم راليږي لکه موسی، عيسی، او محمد صاحبانو ته يې چې راليږلي وو. که تاسو دغې مرحلې ته ورسيدلئ هم نو بيا به هم تاسو ته د دغو مذهبونو او د هغوئ د تعليماتو جايزه اخيستل وي، او فيصله به کوئ چې تاسو له دغو سره اتفاق کوئ او که نه؟ د انسان په ژوند کې د مذهب ضرورت او د افاديت د تاريخ جايزه واخلئ نو تاسو ته به څرګنده شي چې د خدائ ترټولو غټ کار انسان ته حوصله او اميد ورکول دي. د خدائ د ايجاد شاته د انسان د غير معمولي پوهې او ځيرنې هم يو غټ کردار ده. ځکه چې انسان سوچ کولئ شي نو ځکه هغه پوهيدل غواړي چې دغه ټوله ننداره څه ده؟ مونږ ټول خلک ولې دلته يو؟ دا کائينات دا سپوږمۍ، ستوري او دا ټولې سيارې څه دي؟ په غارونو کې اوسيدونکو انسانانو به له شيرانو، فيلانو او د نورو حيواناتو نه د تحفظ لپاره خدائ ايجادولو ، او دوئ به حوصله ترلاسه کوله چې خدائ د دوئ سره په څنګ کې ده. د ځيرنو په زور په وړاندې تللو سره دغه معامله تر يو منظم مذهب ته ورسيدله. د اسلام، عيسويت او يهوديت اصل کې يو ده، دنيا چا جوړه کړه، څنګه جوړه شوه، کله به ختميږي، د دې نظام څنګه چليږي،،، وغيره وغيره دغه ټولې کيسې په دغو دريو مذهبونو کې بلکل يو شانتې دي. دغه کيسې يهوديت ايجاد کړلې، عيسويت په دغه کې عيسی ورزيات کړ او اسلام خو محمد صيب په دې مينځ کې ورته کښيناوه او وئ ويل چې دين اوس مکمل شوئ ده، محمد د پيغمبرانو سردار ده وغيره وغيره.

کاينات او په هغه کې د شته رازونو باندې د پوهيدنې لپاره له مونږ سره دوه ممکنه لارې دي يوه لاره د مذهب ده او دوهمه د سائينس .... مذهب خپله کيسه حتمي ګڼي، خو سائينس کومه داسې دعوه نکوي. مذهب د خپل موقف نه سيوا د چا خبرې اوريدلو ته نه تياريږي، خو په سائينس کې چې څوک خپله خبره ثابته کړي د هغه خبره حرفِ اخر وي. له ماسره د بحث کولو په دوران کې چې مسلمانان ملګري کومې نقطې راخلي، د هغو يادونه د طوالت له ډاره دلته نشم کولئ، خو دومره ويل راته کافي دي چې د کائيناتو تشکيل او په هغه کې د ژوند د وجود په تاريخ کې چې کوم څه مونږ ته مذهب راښيي، او کوم څه چې مونږ ته سائينس وايي، په هغه کې د سائينس خبره عقل ته ډيره نژدې ده. د دغو دواړو تقابل داسې وګڼئ چې يو د دليل په مرستې سره تاته داسې وايي چې د هر کوم شي پس منظر څه ده، او د دوهم حکم په مرستې سره وايي چې ريښتيا دا دي... دليل ورکونکئ تاسو د فيصلې کولو اجازه پخپله درکوي. حکم ورکونکئ وائي چې زما خبره ريښتيا ومنه که نه خپل انجام ته دې اماده شه .... اوس تاسو ووايئ چې په دغو کې د کوم يو د ريښتيا خبرې امکانات ډير دي؟؟؟

خبره ډيره اوږده شوه، په لنډولو سره به يوازې دومره ووايم .... د قرآن پاک په سورت الحجر (ايت ۱۶ نه تر ۱۸) کې مونږ ته ويل کيږي چې شيطان چې کله د الله د فرښتو د خبرو اوريدلو لپاره عرش ته نژدې کيږي نو فرښتې هغه په انګار ويشتلو سره تختوي. د دغو انګارونو نوم شهاب ثاقب يعنې ميټيور Meteor ده.

څو ورځې وړاندې يوه همداسې شپه راغلې وه، په کومه کې چې د شهابونو په باقاعده توګه باران مو وليده. په ټلويزيونونو او ورځپاڼو کې څو ورځې وړاندې د دې وړاندوينه شوې وه. او چې کله هغه شپه راغلله نو .... په برطانيه کې په زرګونو خلکو دوبينونه راواخيستل او د دې اسماني آتش بازئ ننداره يې ليدله ........ زما يوازې يوه پوښتنه ده .... ايا سائينسدانانو ته کومو جاسوسانو ويلي وو چې نن شيطان د الله او فرښتو خبرو اؤريدلو په کوښښ کې عرش ته نږدې کيږي او فرښتې به په هغه اورونه راشړي؟؟؟؟؟ خامخا به فکر کوئ ....

